بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

باب ما جاء فی خلق رسول الله ﷺ

حَدَّثَنَا أَبُو رَجَاءٍ قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ بِالطَّوِيلِ الْبَائِنِ، وَلَا بِالْقَصِيرِ، وَلَا بِالْأَبْيَضِ الْأَمْهَقِ، وَلَا بِالْآدَمِ، وَلَا بِالْجَعْدِ الْقَطَطِ، وَلَا بِالسَّبْطِ، بَعَثَهُ اللَّهُ تَعَالَى عَلَى رَأْسِ أَرْبَعِينَ سَنَةً، فَأَقَامَ بِمَكَّةَ عَشْرَ سِنِينَ، وَبِالْمَدِينَةِ عَشْرَ سِنِينَ، وَتَوَفَّاهُ اللَّهُ تَعَالَى عَلَى رَأْسِ سِتِّينَ سَنَةً، وَلَيْسَ فِي رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ عِشْرُونَ شَعْرَةً بَيْضَاءَ

د نبیﷺ د حلیے مبارکی بیان

فائده: مصنفؒ په دی باب کښې هغه احادیث بیان کړی دی چی کوم د نبیﷺ د حلیۓ مبارکی باره کښې راغلی دی ۔د حضورﷺ ښائست خو کما حقه بیانول ناممکن دی،د نورانی جسم تصویر جوړول د قابو نه بهر دی ،مگر د خپل همت او کوشش مطابق صحابهؓ هغې لره یاد کړل او چی د هغې بعضی بیان دا دے:

امام قرطبیؒ فرمائی چی د حضورﷺ ټول ښائست ظاهر نکړے شو کنی سړی به د کتلو طاقت نه وو لرلے۔

آنچه خوباں همه دارند تو تنها داری

د حضرات صحابه کرامؓ په امت ډیر لوئے احسان دے چی دوی د حضورﷺ معنوی کمالات او علوم و معارفو سره سره ظاهری حسن وجمال هم امت ته راورسوو ۔ منم وخیال یارے۔دپاره مددگار دی۔

نامراده عاشق چی کله د دیدن نه محرومه شی نو د محبوب د کور،خواوشا خدوخال یادَوی او ځان له تسلی ورکوی ،او په عاداتو او حالاتو خپل زړه غوَلوی ۔

امام ترمذیؒ د هغې نه څلور سوه ۴۰۰ احادیث راغستلی دی او دا رساله ئی مرتب کړے ده۔او دا ئی په شپږ پنځوس بابوبو تقسیم کړی ،دی باب کښې څوارلس احادیث دی ۔

۱ ۔حضرت انسؓ فرمائی چی نبیﷺ نه ډیر دنګ قد واله وو او نه ډیر لنډ (چی چت ورته وائی)،بلکه د هغویﷺ قد مبارک درمیانه وو۔او نه ډیر سپین وو د چونے پشان او نه ډیر غنم رنګے وو ،(بلکه د څوارلسمی شپې د سپوږمۍ په ډیر روښانه وو) ویښته مبارک ئی نه ډیر نیغ وو او نه ګوړی(بلکه لګ شان تاؤ والے او ګوړی والے پکښې وو) د څلویښتو کالو په عمر کښې الله تعالی پیغمبر جوړکړو ،بیا لس کاله په مکه مکرمه کښې اسیدو (دی کښې خبری شته لکه فائدو کښې به راشی ۔پدی مده کښې په نبیﷺ باندی وحی هم نازیلده)بیا ئی لس کاله مدینه منوره کښې تیر کړل او د شپیتؤ کالو په عمر کښې وصال افرمائو۔دغې وخت پوری د نبیﷺ په سر او ګیره مبارکه کښې شل ویخته هم سپین نه وو۔

فائده:د حضورﷺ قد مبارک درمیانه وو خو ددی سره سره دنګ والی طرفته مائل وو لکه چی هند ابن ابی هاله وغیره په روای کښ ددی تصریح ده۔

پدی دواړو احادیثو باندی پدی هغې حدیث سره اشکال کیږی کوم کښې چی دی چی نبیﷺ به کله د یو ډلے سره ودریدو نو د ټولو نه به دنګ ښکاریدو۔خو دا دنګ والے د قد نه وو بلکه معجزه وه۔دی دپاره چی څه رنګه د نبیﷺ نه اچتی مرتبے واله په معنوی کمالاتو کښې نشته دغه رنګه په په صورت ظاهری کښې هم څوک محسوس نشی۔

د نبیﷺ د نبوت نه بعد اسیدل په مکه کښی پدی حدیث کښي لس کاله راغلی دی او ددی وجهی نه ټول عمر مبارک پکښی شپیته کاله راغلی ،لیکن دا روایت د هغې ټولو روایاتو خلاف دے کوم کښی چی د مکے مکرمے قیام دیارلس کاله او ټول عمر مبارک درے شپیته کاله راغلے دے ،بعضو روایاتو کښی پنځه شپیته کاله راغلی دی،چی د کتاب په آخر کښی دریواړه احادیث راتلونکی دی ،امام بخاریؒ فرمائی چی د درے شپیته کالو روایات ډیر دی ۔ علماؤ داروایات په دوه طرقے سره جمع کړیدی۔

اول:نبیﷺ ته د څلویښتو کالو په عمر کښی نبوت میلاؤ شو او بیا درے کاله بعد ورته رسالت میلاؤ شو ،ددی نه وروستو ئی لس کاله مکه مکرمه کښی تیر کړل پدی حدیث کښی هغه درے کاله ندی ذکر کوم چی د نبوت او رسالت درمیان وو۔

دوم: چی عام طور په اعدادو کښی کسر نه شماریگی ،ددی وجهے نه د انسؓ په روایت کښی دواړه ځایه دہایانی ذکر دی،او پنځه شپیته کالو واله روایت سنِ پیدائش او سنِ وفات مستقل شمار کړی دی ،غرض د ټولو روایاتو حاصل صرف یو دے ،او چونکه د نبیﷺ عمر مبارک د اصح قول مطابق درے شپیته کاله وو ددی وجهے نه باقی روایات به هم دی طرفته راگرزولے شی۔

حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ الْبَصْرِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَبْعَةً، لَيْسَ بِالطَّوِيلِ وَلَا بِالْقَصِيرِ، حَسَنَ الْجِسْمِ، وَكَانَ شَعْرُهُ لَيْسَ بِجَعْدٍ وَلَا سَبْطٍ أَسْمَرَ اللَّوْنِ، إِذَا مَشَى يَتَكَفَّأُ»

دویم روایت هم د حضرت انسؓ نه مروی دے چی حضورﷺ درمیانه قد واله وو نه ډیر دنگ او نه ډیر چت انتهائی خائسته معتدل بدن واله۔د حضورﷺ ویخته مبارک نه ډیر گرړی وو او نه ډیر سیدها (بلکه لگ شان گرړی والے پکښ وو)۔

مر کر کسی کی زلف پہ معلوم ہے تجھے   *فرقت کی رات کاٹتی ہے کس پیچ وتاب میں*

او نبیﷺ غنم رنگے وو او کله چی به دویﷺ په لاره تلل نو مخی طرفته ټیټ به تلل۔

فائده: دی روایت کښی انسؓ پخپله نبیﷺ ته غنم رنگے وائی حالانکه اول حدیث کښ ئی ددی نفی کړی وه ،هلته په ترجمه کښ دی طرفته اشاره شوی وه ۔ په دواړو کښي تعارض نشته حاصل دادے چی د نبیﷺ رنگ مبارک بیخی غنم رنگے نه وو چی د هغے د وجے نه په حسن کښی کمے راشی ،نلکه هغویﷺ پرق رنړا او خائست وو چی غنم رنگ ئی هم ځان سره ملاو کړے وو ۔او دی حدیث کښی د نبیﷺ د رفتار باره کښی <u>یتکفأ</u> لفظ مستعمل دے چی ددی د ترجمے باره کښ د علماء مختلف اقوال دی ۔

بعضے د زرزر تللو ترجمه کوی، بعضے د مخی طرفته ټیټیدو ترجمه کوی ، بعضے شارحین په مضبوطیا سره قدم اچتولو ترجمه کوی ۔ درے واړه ترجمے صحیح دی ځکه چی د نبیﷺ رفتار کښ دادرے واړه صفتونه وو ،او لفظ هم ددرے واړو احتمال لری ۔نبیﷺ به تیز رفتاره تلو د محبوبینِ زمانه پشان به د خځو په چال نه تللو۔ دغه شان د نبیﷺ عادت د ټیټ گرزیدو وو د تکبر په چال باندی به نه گرزیدو ،دغه شان نارینه انداز کښی به ئی خپی د زمکی نه اچتولی او تللو به دا نه چی راخکی به ئی۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ: سَمِعْتُ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ يَقُولُ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا مَرْبُوعًا بَعِيدَ مَا بَيْنَ الْمَنْكِبَيْنِ، عَظِيمَ الْجُمَّةِ إِلَى شَحْمَةِ أُذُنَيْهِ الْيُسْرَى، عَلَيْهِ حُلَّةٌ حَمْرَاءُ، مَا رَأَيْتُ شَيْئًا قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهُ»

حضرت براء ابن عازبؓ فرمائی چی حضورﷺ یو میانه قد والا سړے وو (لګ دنګ والی ته مائل،لکه چی مخکښی تیر شو)د هغوی ددواړو اوګو مینځ کښی د نورو په نسبت فاصله ډیره وه(چی ددینه د سینے پلنوالے هم معلوم شو) ګنړ ویختو واله وو چی د غوګونو د پوسکو پوری رسیدل،په هغویﷺ باندی د سرو کرخو یوه جوړه یعنی لنګ او څادر وو ،ما د هغویﷺ نه حسین چرته څوک ندی لیدلی۔پدی حدیث کښی د رجُلا مربوعا لفظ ذکر شو چی ترجمه ئی د جیم د پیش موافق سړے وکړے شوه ،دا صحیح کیدے شی داسی قسم الفاظ په کلام ربِّ کښی د ربط دپاره رازی ۔لیکن پدی کښی څه خاص صفت ظاهر کیګی نه نو ددی وجے نه بعض محدثینو رائے داده چی دالفظ د جیم د زیر رجِلا دے چی معنیٰ ئی د سیدها کیدو او ګګیدو درمیان ده،دا هم کیدے شی چی پدی صورت کښی دا صفت د نبیﷺ د ویختو مبارکو وی لکه چی تیر شو چی د نبیﷺ ویختو مبارکوکښي لګ شان پیچیدګی وه ۔ددی حدیث نه بعض علماء د سرو د پاره سرے کپړے اغوستل مطلقًا جائز کړی دی ،د احنافوؒ په نزد په دی کښي تفصیل دے ،چی د کپړے تعین وشی بیا به د علماء نه تحقیق کیدے شی۔علماءؒ لیکلی دی چی صحابی دلته دا الفاظ چی" ما څه څیز د نبیﷺ نه حسین ندے لیدلے"داددی دپاره چی د انسان نه علاوه سپوږمۍ ،نمر وغیره ته شامله شی۔

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: «مَا رَأَيْتُ مِنْ ذِي لِمَّةٍ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ أَحْسَنَ مِنْ رَسُولِ اللهِ، لَهُ شَعْرٌ يَضْرِبُ مَنْكِبَيْهِ بَعِيدُ مَا بَيْنَ الْمَنْكِبَيْنِ، لَمْ يَكُنْ بِالْقَصِيرِ وَلَا بِالطَّوِيلِ»

د براء ابن عازبؓ نه دا هم روایت دے چی مو هیڅ څوک سنړو واله په سره جوړه کښی د حضورﷺ نه ښایسته ندے لیدلے د نبیﷺ ویخته تر اوګو پوری رسیدل د هغویﷺ د دواړؤ وَلو مینځنۍ حصه لګه سِوا پلنه وه هغویﷺ نه زیات دنګ وو نی چِت۔

فائده:د حضورﷺ د ویختو باره کښی دا روایت د اولنی روایت نه مختلف شو ځله چی هلته د غوږونو د پوسکو پوری ذکر وو، لیکن په حقیقت کښی اختلاف نشته۔ځکه چی ویخته په یو حالت باندی نه وی ،کله کم وی کله سوا وی او قصدًا هم کله کمولے شی او کله پریخودے شی ۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ: حَدَّثَنَا الْمَسْعُودِيُّ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ مُسْلِمِ بْنِ هُرْمُزَ، عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ قَالَ: «لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالطَّوِيلِ وَلَا بِالْقَصِيرِ، شَثْنُ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ، ضَخْمُ الرَّأْسِ، ضَخْمُ الْكَرَادِيسِ، طَوِيلُ الْمَسْرُبَةِ، إِذَا مَشَى تَكَفَّأَ تَكَفُّؤًا كَأَنَّمَا يَنْحَطُّ مِنْ صَبَبٍ، لَمْ أَرَ قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ مِثْلَهُ، صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. «

حضرت علیؓ فرمائی چی نبیﷺ نه ډیر دنګ وو نه لنډ قده منګولی او دواړه خپی مبارکی ئی غوَخَوَری وی (دا صفات د نارینۀ دپاره خه دی چی د قوت او بهادرۍ علامه ده او زنانۀ د پاره خه ندی)د حضورﷺ سر مبارک هم غټ وو او د اندامونو دجوړونو هډوکی هم غټ وو ،د سینے نه تر نامه پوری ئی د ویختو یوه لکیره وه۔چی کله به نبیﷺ روان وو نو ګویا چی د د لوړی نه جوری ته راکوزیګی ،علیؓ فرمائی چی د حضورﷺ پشان مې نه اول لیدلے دے نه بعد۔

فائده:داسی قسمه خبره"چی د فلانی پشان مې څوک ندی لیدلی" عمومًا د مبالغې دپاره وی خو دلته د حضورﷺ په صفاتو کښی مبالغه نشته بلکه دلته د جمال انتهاء د تعبیر نه بهر ده ۔مناوی لیکلی دی چی هر کس ددی اعتقاد ساتلو مکلف دے چی د حضورﷺ جسم مبارک چی د کوم صفاتو مالک وو ،بل څوک ددی صفاتو د حضورﷺ پشان نشی کیدے ،او دا صرف اعتقادی شے ندے بلکه د سیرت،تاریخ او احادیثو کتابونه ددی نه ډک دی چی الله تعالیٰ د باطنی کمالاتو سره سره ظاهری جمال هم په اعلیٰ طریقے ورکړے وو۔ د حضرت عائشةؓ دوه شعرونه نقل کړے شوی دی چی مطلب ئی دادے که د زلیخا ملګرو د حضورﷺ نورانی مخ مبارک لیدلے وے نو د لاسونو په ځائے به ئی زړونه کټ کړی وو"بلکل صحیح فرمایئلی۔ صحابه

کرامؓ نارینه اوزنانه چی د حضور ﷺ سره په عشق کښی ځومره غرق وو نو که دهغے لګ شائبه لیدل غواړئ نو حکایات صحابه ۸ باب وګورئ۔

حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنِ الْمَسْعُودِيِّ بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوِهِ، بِمَعْنَاهُ.

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ الْبَصْرِيُّ، وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، وَأَبُو جَعْفَرٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْحُسَيْنِ وَهُوَ ابْنُ أَبِي حَلِيمَةَ، وَالْمَعْنَى وَاحِدٌ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ اللهِ مَوْلَى غُفْرَةَ قَالَ: حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُحَمَّدٍ مِنْ وَلَدِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ قَالَ: كَانَ عَلِيٌّ إِذَا وَصَفَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللهِ بِالطَّوِيلِ الْمُمَّغِطِ، وَلَا بِالْقَصِيرِ الْمُتَرَدِّدِ، وَكَانَ رَبْعَةً مِنَ [صﷺ] الْقَوْمِ، لَمْ يَكُنْ بِالْجَعْدِ الْقَطَطِ، وَلَا بِالسَّبْطِ، كَانَ جَعْدًا رَجِلًا، وَلَمْ يَكُنْ بِالْمُطَهَّمِ وَلَا بِالْمُكَلْثَمِ، وَكَانَ فِي وَجْهِهِ تَدْوِيرٌ أَبْيَضُ مُشْرَبٌ، أَدْعَجُ الْعَيْنَيْنِ، أَهْدَبُ الأَشْفَارِ، جَلِيلُ الْمُشَاشِ وَالْكَتَدِ، أَجْرَدُ ذُو مَسْرُبَةٍ، شَثْنُ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ، إِذَا مَشَى تَقَلَّعَ كَأَنَّمَا يَنْحَطُّ فِي صَبَبٍ، وَإِذَا الْتَفَتَ الْتَفَتَ مَعًا، بَيْنَ كَتِفَيْهِ خَاتَمُ النُّبُوَّةِ، وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّينَ، أَجْوَدُ النَّاسِ صَدْرًا، وَأَصْدَقُ النَّاسِ لَهْجَةً، وَأَلْيَنُهُمْ عَرِيكَةً، وَأَكْرَمُهُمْ عِشْرَةً، مَنْ رَآهُ بَدِيهَةً هَابَهُ، وَمَنْ خَالَطَهُ مَعْرِفَةً أَحَبَّهُ، يَقُولُ نَاعِتُهُ: لَمْ أَرَ قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ مِثْلَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: سَمِعْتُ أَبَا جَعْفَرٍ مُحَمَّدَ بْنَ الْحُسَيْنِ يَقُولُ: سَمِعْتُ الأَصْمَعِيَّ يَقُولُ فِي تَفْسِيرِ صِفَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْمُمَّغِطُ: الذَّاهِبُ طُولًا". وَقَالَ: "سَمِعْتُ أَعْرَابِيًّا يَقُولُ فِي كَلَامِهِ: تَمَغَّطَ فِي نَشَّابَتِهِ أَيْ مَدَّهَا مَدًّا شَدِيدًا. وَالْمُتَرَدِّدُ: الدَّاخِلُ بَعْضُهُ فِي بَعْضٍ قِصَرًا. وَأَمَّا الْقَطَطُ: فَالشَّدِيدُ الْجُعُودَةِ. وَالرَّجِلُ الَّذِي فِي شَعْرِهِ حُجُونَةٌ: أَيْ تَثَنٍّ قَلِيلٌ. وَأَمَّا الْمُطَهَّمُ فَالْبَادِنُ الْكَثِيرُ اللَّحْمِ. وَالْمُكَلْثَمُ: الْمُدَوَّرُ الْوَجْهِ. وَالْمُشْرَبُ: الَّذِي فِي بَيَاضِهِ حُمْرَةٌ. وَالأَدْعَجُ: الشَّدِيدُ سَوَادِ الْعَيْنِ. وَالأَهْدَبُ: الطَّوِيلُ الأَشْفَارِ. وَالْكَتَدُ: مُجْتَمِعُ الْكَتِفَيْنِ وَهُوَ الْكَاهِلُ. وَالْمَسْرُبَةُ: هُوَ الشَّعْرُ الدَّقِيقُ الَّذِي كَأَنَّهُ قَضِيبٌ مِنَ الصَّدْرِ إِلَى السُّرَّةِ. وَالشَّثْنُ: الْغَلِيظُ الأَصَابِعِ مِنَ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ. وَالتَّقَلُّعُ: أَنْ يَمْشِيَ بِقُوَّةٍ. وَالصَّبَبُ الْحُدُورُ، نَقُولُ: انْحَدَرْنَا فِي صَبُوبٍ وَصَبَبٍ. وَقَوْلُهُ: جَلِيلُ الْمُشَاشِ يُرِيدُ رُءُوسَ الْمَنَاكِبِ. وَالْعِشْرَةُ: الصُّحْبَةُ، وَالْعَشِيرُ: الصَّاحِبُ. وَالْبَدِيهَةُ: الْمُفَاجَأَةُ، يُقَالُ: بَدَهْتُهُ بِأَمْرٍ أَيْ فَجَأْتُهُ"

ابراهیم ابن محمدؒ چی د علیؓ په اولاد کښی دے یعنی (نوسے) ئی دے فرمائی چی حضرت علیؓ چی به کله د حضور ﷺ حلیه مباکه بیانوله نو فرمائل به ئی چی حضور ﷺ نه خو ډیر دنګ وو نه ډیر چت بلکه درمیانه قد خلقو کښی وو ۔د حضور ﷺ ویخته مبارک نه ډیر ګرړی وو نه ډیر سیدها بلکه لګ شان تاؤ پکښي وو ،نه خو هغوی ﷺ ډیر سورب بدن والا وو نه غنډ مخ والا (بلکه مخ مبارک نه ډیر ګول وو نه اوګد بلکه دواړو درمیان وو) د حضور ﷺ رنګ سپین سور(یعنی ګلابی) وو ،سترګی مبارکی کښی ئی ډیری توری وی او روزی ئی اوګدے وے د وجود جوړونه ئی مضبوط وو (لکه سنګلی او زنګونان)دغه شان د دواړو ولو درمیان حصه یه هم پُر ګوشت او ډکه وه ،ددوی ﷺ مبارک بدن باندی (د معمولی طور نه سوا) ویخته نه وو۔(یعنی بعض انسانانو باندی ډیر ویخته وی خو د حضور ﷺ د خاص خاص حصو نه علاوه لکه مړوند،پنډئ وغیره ددی نه علاوه چرته ویخته نه وو) د سینے نه د نامه پورے د ویختو یوه لکیره وه ددوی ﷺ لاسونه او خپه مبارکه پُرګوشت وی چی کله به ګرزیدو نو قدم به ئی قوت سره اوچتوؤ ګویا چی لاندی راکوزیګی ،چی کله به ئی چا طرفته توجه کوله نو ټول وجود سره به ئی توجه کوله (یعنی داسی چی صرف سټ تاؤ کړی چاطرفته به متوجه کیدو نه ځکه چی پدی د بل کس سره بے پرواهی ښکاره کیګی ،او کله کله داسی حالت د تکبر جوړ شی بلکه سینے مبارکی سره به ئی توجه فرمائله ۔بعض علماء ددی مطلب داسی بیان کړے چی کله به دوی ﷺ توجه کوله نو ټول مخ سره به ئی کوله ،ګکو سترګو سره به یه توجه نه

کوله لیکن دا مطلب خکولے ندے) ددویﷺ ددواړو وَلو مینځ کښی د نبوت مهر وو ،دوی د ټولو پیغمبرانو ختم کونکے وو ،دویﷺ د ټولو نه زیات سخی زړه واله وو ،او د ټولو نه زیات ریشتونی ژبی واله،دټولو نه زیات نرم طبیعت والا وو ،او د ټولو نه ډیر شریفی کورنۍ والا وو۔(غرض دویﷺ د زړه،ژبی،طبیعت،خاندان،اوصاف ذاتی او نسبی هر څه کښی د ټولو نه افضل وو ۔دویﷺ چی به چا سمدستی ولیدو نو رعب به پری راغے (یعنی د دویﷺ وقار دومره قدر ډیر وو چی په اول ځل لیدلو واله به د رعب په وجه په یره کښی راتلو)اوّل خو د خائست او خکلی والی هم رعب وی۔

شوق افزوں مانع عرض تمنادابِ حسن　　　　بارہادل نے اُٹھائے ایسی لذت کے مزے

ددی سره چی لا بیا د کمالاتو سیوا والے هم وی نو بیا خو درعب تپوس مه کوه۔ددی نه علاوه حضورﷺ له چی کوم مخصوص ځیزونه ورکړے شوے وو په هغې کښی رعب هم د الله د طرف نه وو) البته کوم کس چی به وپیژندو او تګ راتګ به ئی کوو هغه به(د حضورﷺ د اخلاق کریمه او اوصآف جمیله زخم خورده شو) دویﷺ به ئی خپل محبوب جوړ کړو۔د حضورﷺ حلیه بیانونکے صرف دا ویئلے شی چی ما د حضورﷺ نه مخکښې ځوک لیدے نه وروستو (ﷺ)

حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ قَالَ: حَدَّثَنَا جُمَيْعُ بْنُ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْعِجْلِيُّ إِمْلَاءً عَلَيْنَا مِنْ كِتَابِهِ قَالَ: أَخْبَرَنِي رَجُلٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ مِنْ وَلَدِ أَبِي هَالَةَ زَوْجِ خَدِيجَةَ، يُكْنَى أَبَا عَبْدِ اللهِ، عَنِ ابْنٍ لِأَبِي هَالَةَ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ: سَأَلْتُ خَالِي هِنْدَ بْنَ أَبِي هَالَةَ، وَكَانَ وَصَّافًا، عَنْ حِلْيَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَنَا أَشْتَهِي أَنْ يَصِفَ لِي مِنْهَا شَيْئًا أَتَعَلَّقُ بِهِ، فَقَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخْمًا مُفَخَّمًا، يَتَلَأْلَأُ وَجْهُهُ تَلَأْلُؤَ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ، أَطْوَلُ مِنَ الْمَرْبُوعِ، وَأَقْصَرُ مِنَ الْمُشَذَّبِ، عَظِيمُ الْهَامَةِ، رَجِلُ الشَّعْرِ، إِنِ انْفَرَقَتْ عَقِيقَتُهُ فَرَّقَهَا، وَإِلَّا فَلَا يُجَاوِزُ شَعْرُهُ شَحْمَةَ أُذُنَيْهِ إِذَا هُوَ وَفَّرَهُ، أَزْهَرُ اللَّوْنِ، وَاسِعُ الْجَبِينِ، أَزَجُّ الْحَوَاجِبِ سَوَابِغَ فِي غَيْرِ قَرَنٍ، بَيْنَهُمَا عِرْقٌ يُدِرُّهُ الْغَضَبُ، أَقْنَى الْعِرْنَيْنِ، لَهُ نُورٌ يَعْلُوهُ، يَحْسَبُهُ مَنْ لَمْ يَتَأَمَّلْهُ أَشَمَّ، كَثُّ اللِّحْيَةِ، سَهْلُ الْخَدَّيْنِ، ضَلِيعُ الْفَمِ، مُفْلَجُ الْأَسْنَانِ، دَقِيقُ الْمَسْرُبَةِ، كَأَنَّ عُنُقَهُ جِيدُ دُمْيَةٍ فِي صَفَاءِ الْفِضَّةِ، مُعْتَدِلُ الْخَلْقِ، بَادِنٌ مُتَمَاسِكٌ، سَوَاءُ الْبَطْنِ وَالصَّدْرِ، عَرِيضُ الصَّدْرِ، بَعِيدُ مَا بَيْنَ الْمَنْكِبَيْنِ، ضَخْمُ الْكَرَادِيسِ، أَنْوَرُ الْمُتَجَرَّدِ، مَوْصُولُ مَا بَيْنَ اللَّبَّةِ وَالسُّرَّةِ بِشَعْرٍ يَجْرِي كَالْخَطِّ، عَارِي الثَّدْيَيْنِ وَالْبَطْنِ مِمَّا سِوَى ذَلِكَ، أَشْعَرُ الذِّرَاعَيْنِ وَالْمَنْكِبَيْنِ وَأَعَالِي الصَّدْرِ، طَوِيلُ الزَّنْدَيْنِ، رَحْبُ الرَّاحَةِ، شَثْنُ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ، سَائِلُ الْأَطْرَافِ - أَوْ قَالَ: شَائِلُ الْأَطْرَافِ - خُمْصَانُ الْأَخْمَصَيْنِ، مَسِيحُ الْقَدَمَيْنِ، يَنْبُو عَنْهُمَا الْمَاءُ، إِذَا زَالَ زَالَ قَلْعًا، يَخْطُو تَكَفِّيًا، وَيَمْشِي هَوْنًا، ذَرِيعُ الْمِشْيَةِ، إِذَا مَشَى كَأَنَّمَا يَنْحَطُّ مِنْ صَبَبٍ، وَإِذَا الْتَفَتَ الْتَفَتَ جَمِيعًا، خَافِضُ الطَّرْفِ، نَظَرُهُ إِلَى الْأَرْضِ أَطْوَلُ مِنْ نَظَرِهِ إِلَى السَّمَاءِ، جُلُّ نَظَرِهِ الْمُلَاحَظَةُ، يَسُوقُ أَصْحَابَهُ وَيَبْدَأُ مَنْ لَقِيَ بِالسَّلَامِ"

حضرت حسنؓ فرمائی چی میں د خپل ماما هند ابن ابی هاله نه د حضورﷺ د حلئے مبارکی تپوس وکړو او دوی به د حضورﷺ حلیه مبارکه ډیره زیاته او په وضاحت سره بیانوله زما دا خواهش شو چی دے دد غے اوصاف جمیله نه زما مخکښی هم څه بیان کړی چی زه دده بیان د ځان دپاره دلیل او سند جوړ کړم ،او چی دغه خه صفات په ذهن کښی وساتم او که ممکن وی چی ځان کښی ئی دپیدا کولو کوشش وکړم۔(د حضرت حسنؓ عمر د حضورﷺ د وصال په وخت کښی اووه کاله وو دی وجے نه د حضورﷺ د صفاتو د خپل کم عمرئ په وجه د سوچ کولو او د خه یادولو موقع نه وه میلاؤ شوی) ماما جان د حضورﷺ د حلیے متعلق وفرمائیل چی هغویﷺ د خپل ذات او صفاتو په اعتبار سره هم شاندار وو او د نورو خلقو په نظر کښی هم لوئے رتبے واله وو ،ددویﷺ مخ مبارک به د څوارلسمے سپوږمۍ پشان پړقیدو،ددوﷺ مبارک قد د

درمیانه قد واله کس نه څه قدرے زیات وو،لیکن د زیات دنګ کس نه کم وو،سر منارک ئې په اعتدال سره غټ وو،ویخته مبارک څه قدر تاؤ وو ،د سر په ویختو کښې که به پخپله لاره جوړه شوه نو پریخوده به ئې پخپله د لارے جوړولو اهتمام به ئې نه فرمائیلو۔(د مشهوره ترجمه ده ،پدې وجه دا اشکام رازی چې د حضورﷺ قصدًا لاره اړؤل د روایاتو نه ثابت دی ،ددی اشکال په جواب کښې علماء فرمائی چې دا به په ابتدائې زمانه باندی حمل کړے شي چې اولًا حضورﷺ د لارے ویستو اهتمام نه فرمائلو لیکن د بنده(شیخ الحدیث زکریاؒ) په نزد دا جواب ځکه مشکل دے چې د حضورﷺ عادت شریفه د مشرکانو مخالفت او اهل کتابو موافقت د لارے د نه ویستلو عادت وو دی نه بعد بیا ئې لاری ویستل شروع کړل ددی وجے نه خه ترجمه چې بعضو علماءو ورله ترجیح ورکړی ده هغه داده چې که په سهولت سره به لاره اوړیده نو اړوله به ئې او که په سهولت به نه اوړیده او د منګز ضرورت به وو نو هغه وخت به ئې نه ویستله بل وخت چې منګزوغیره به وه نو ویستله به ئې) کوم وخت کښې چې به د حضورﷺ ویخته مبارک لوئے شول نو د غوږ د پوسکی نه به واوړیدل ،ددویﷺ مبارک رنګ انتهائې چمکدار او تندے مبارک ئې فراخه وو ،روزے مبارکے ئې کږې ،باریکې او ګڼړی وی ،دوړه روزے مبارکی ئې جدا جدا وی د یو بل سره ملاؤ شوی نه وی ،ددی دواړو په مینځ کښې یو رګ وو چې د غصے په وخت به پړسیدو ،پوزه مبارکه ئې دنګ والی ته مائله وه او پدې باندی یو چمک او نور وو ،ابتداءً لیدونکی به دوی غټے پوزے واله ګڼړو (لیکن غور سره به معلومه شوه چې داد حسن او چمک د وجے نه دنګه معلومیږی اصل کښې ډیره دنګه نه وه) ګیره مبارکه ئې پوره او ګڼړه وه د سترګو ګاتې ئې ډیر تور وو ،اننګی مبارک ئې هموار سپک وو زوړندے غوخے والا نه وو ،خوله مبارکه ئې اعتدال سره لویه وه(یعنې تنګې خولې واله نه وو) غا ښونه مبارک ئې باریک چمک واله وو ،پدې کښې د مخې په غا ښونو کښې لګ جداولے هم وو ،د سینے نه تر نامه پورے د ویختو یوه باریکه لکیره وه۔څټ مبارک ئې داسی خائسته او باریک وو لکه د ګډۍ څټ چې صفا تراشلے شوے وی او په رنګ کښې د سپینو زرو پشان صفا او خائسته وو ،ددوی ټول اعضا انتهائې معتدل او د غوخے ډک وو۔او بدن ئې کوَټلے وو ،خیټه او سینه مبارکه ئې هموارہ وه لیکن سینه مبارکه ئې فراخه او پلنه وه ،ددویﷺ دواړو وَلو درمیان فاصله لګه زیاته وه ،د جوړونو هدوکی ئې قوی او غټ وو (دا د قوت دلیل وی) جامے لرے کولو په حالت کښې به ئې بدن مبارک روښن او چمکدار ښکاریدو (یا دا چې د بدن هغه حصه چې د جامو نه بهر وی روښانه چمکداره وه نو څه به وائې د هغے چې په جامو کښې محفوظ وی،د بنده په نزد دا ترجمه خه ده)د نامه او سینے مینځ کښې ئې د لکیرے پشان د ویختو یوه کرخه وه ،ددی نه علاوه دوړه سینے او ګیډه د ویختو نه خالی وه ،البته دواړو مټو،وَلو او د سینے پاسنۍ حصه باندی ویخته وو ،ددویﷺ مړوندونه اوګده،او منګولے ئې فراخه وی ،او منګولی او دواړو قدمونه ئې نرم او د غوخے ډک وو ،د لاسسو او خپو ګوتې ئې تناسب سره اوګدے وے تلی ئې قدری ژور او قدمونه ئې هموارہ وو ،چې ددی د صفا والی او نرم والی د وجے به اوبه پدی حساریدے نه سمدستی به بهیدلے،چې کله به دویﷺ تلل نو قور سره به ئې قدم اوچتوو او او مخکښې طرفته لګ ټیټ به تلو قدم مبارک به په زمکه په قلاره پریوته په زوره نه،دویﷺ تیز رفتاره وو او قدم به ئې لګ اوګد کیخودو چې کله به تلل نو داسی به معلومیده ګویا خکته راکوزیګی ،چې کله به ئې چاته توجه کوله نو ټول بدن سره به ئې پوره توجه کوله،نظر مبارک به ئې خکته ساتلو،نظر مبارک به ئې په نسب د آسمان زمکې طرفته ډیر وو،(دی باندی دا اشکال رازی چې ابوداؤد شریف کښې دی چې نبیﷺ به آسمان طرفته اکثر کتل ،ددواړو تطبیق دادے چې عادت مبارک ئې زمکې طرفته د کتلو وو خو د وحی انتظار به هم وو دی وجے نه انتظار کښې به ئې شیبه په شیبه آسمان طرفته کتل، کنه عام عادت مبارک ئې زمکې ته د کتلو وو۔

اِدھر قاتل کی نظریں شرم سے اوپر نہیں اُٹھتیں اُدھر بسمل کھڑا ہے ہاتھ میں میت لئے دل کی

ددوی ﷺ عام عادت شریفه د سترګو په ګوټونو کښې د کتلو وو (یعنی د شرم او حیا د وجې نه په بټو سترګو به ئې چاته نه کتل)۔
په تلو کښې به ئې صحابه د ځان نه مخکښې کول او دوی ﷺ به وروستو وو،د چا سره به میلاویدو نو د سلام ابتداء به ئې په خپله کوله۔
فائده: د حضور ﷺ روستو تلل علماء په تواضع باندې حمل کړی دی ۔لیکن د بنده (شیخ الحدیث زکریاؒ) په نزد که دا په حالت سفر باندې محمول وی نو مناسب ده ځکه چې د حضور ﷺ عادت مبارک دا وو چې د غریبانو او ضعیفانو خبر ګیرئ د پاره به دوی روستو پاتې کیدل۔ دا حدیث ډیر اوګد دے چې پکښې د حضور ﷺ حلیه،اخلاق،عادات او ټول انواع مذکور دی ۔ امام ترمزیؒ د مضامینو په مناسبت سره په مختلفو بابونو کښې ذکر کړے دے لکه چې د څه حصے ذکر به د حضور ﷺ د خبرو په باب کښې او څه حصه به ئې د حضور ﷺ د تواضع په باب کښې راشی۔

حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ سَمُرَةَ يَقُولُ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَلِيعَ الْفَمِ، أَشْكَلَ الْعَيْنِ، مَنْهُوسَ الْعَقِبِ» . قَالَ شُعْبَةُ: قُلْتُ لِسِمَاكٍ: مَا ضَلِيعُ الْفَمِ؟ قَالَ: عَظِيمُ الْفَمِ، قُلْتُ: مَا أَشْكَلُ الْعَيْنِ؟ قَالَ: طَوِيلُ شِقِّ الْعَيْنِ، قُلْتُ: مَا مَنْهُوسُ الْعَقِبِ؟ قَالَ: قَلِيلُ لَحْمِ الْعَقِبِ.

۸۔جابرابن سمرهؓ فرمائی چې حضور ﷺ فراخه خولے واله وو ددوی ﷺ د سترګو په کاټو کښې سرے کرخے وے، په پُندو مبارکو ئې غوخه ډیره کمه وه۔
فائده: عربو واله به د سړو دپاره د خولې لوئے والے خوخوو ،او د بعضو په نزد دلته فصاحت مراد دے ۔(د سترګو تعریف کښې چې کومه ترجمه وشوه دا دصحیح قسل مطابق ده کنه د حدیث په ترجمه کښې امام ترمزیؒ د حدیث د راوی نه د سترګو غټ والے نقل کړے دے چې د اهل لغت په نزد غلط دے۔

خمار آلودہ آنکھوں پر ہزاروں میکدے قربان　　وہ قاتل بے پیٔے ہی رات دن مخمور رہتا ہے

حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْثَرُ بْنُ الْقَاسِمِ، عَنْ أَشْعَثَ، يَعْنِي ابْنَ سَوَّارٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: «رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي لَيْلَةٍ إِضْحِيَانٍ، وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ حَمْرَاءُ، فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ إِلَيْهِ وَإِلَى الْقَمَرِ، فَلَهُوَ عِنْدِي أَحْسَنُ مِنَ الْقَمَرِ»

۹۔حضرت جابرؓ نه دا هم منقول دی چې زه یوه ورځ د سپوږمئ په شپه کښې حضور ﷺ ته کتل حضور ﷺ دغه وخت سره جوړه اغوستی وه کله به مې حضور ته کتل او کله به مې سپوږمئ ته بالآخر ما دا فیصله وکړه چې دوی ﷺ د سپوږمئ نه ډیر زیات حسین او جمیل او منور دے۔

دیر و حرم میں روشنی شمس و قمر سے ہو تو کیا　　مجھ کو تو تم پسند ہو اپنی نظر کو کیا کروں

حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، قَالَ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الرُّؤَاسِيُّ، عَنْ زُهَيْرٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ: سَأَلَ رَجُلٌ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ: أَكَانَ وَجْهُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ السَّيْفِ؟ قَالَ: «لَا، بَلْ مِثْلَ الْقَمَرِ»

۱۰۔ابو اسحاقؒ فرمائی چې یو سړی د براء ابن عازبؓ نه تپوس وکړو چې د حضور ﷺ مخ مبارک د تُورے پشان صفا وو ؟ هغویؓ افرمائیل نه بلکه د د څوارلسمی سپوږمئ پشان روښانه او ګولائے واله وو۔
فائده: د تُورے سره په تشبیه ورکولو کښې دا نقصان وو چې د اوګدوالی شبه ورسره پیدا کیده،بله دا چې د تُورے په پړق کښې سپین زیات وی او نورانیت نه وی۔دی وجې نه براءؓ د تُورے نه انکار وکړو او د سپوږمئ سره ئې تشبیه ورکړه ۔دا تشبیهات ټول تقریبی دی کنه یوه سپوږمئ څه په زرګونو سپوږمئ هم د حضور ﷺ

پشان نور نشی کیدے ،عربی یو شاعر وائی:که په تا(ممدوح) باندی عیب لګول وی نو نو ستا تبیه دی د ځوارلسمی سپوږمۍ سره ورکړے شی د عیب لګولو دپاره دا پوره ده۔

حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الْمَصَاحِفِيُّ سُلَيْمَانُ بْنُ سَلْمٍ قَالَ: حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ، عَنْ صَالِحِ بْنِ أَبِي الْأَخْضَرِ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْيَضَ كَأَنَّمَا صِيغَ مِنْ فِضَّةٍ، رَجِلَ الشَّعْرِ»

۱۱ ۔انسؓ فرمائی حضورﷺ دومره صاف شفات حسین او خوبصورته وو ګویا چی د سپینو زرو نه جوړ شوے دے ،ددویﷺ ویخته مبارک قدرے تاؤ ګرږی وو۔

فائده: د ټولو نه اول روایت د حضرت انسؓ تیر شوے دے ،پدی کښی د بیخی سپین کیدو نفی شوے وه دی وجے نه ددی حدیث دا مراد نه دے چی د سپینو پشان بلکل سپین وو بلکه سپین والے سُر والی ته مائل وو۔او چمک او حسن پری غالب وو۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ: أَخْبَرَنِي اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «عُرِضَ عَلَيَّ الْأَنْبِيَاءُ، فَإِذَا مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ ضَرْبٌ مِنَ الرِّجَالِ، كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ، وَرَأَيْتُ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ، فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ، وَرَأَيْتُ إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ، فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا صَاحِبُكُمْ، يَعْنِي نَفْسَهُ، وَرَأَيْتُ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا دِحْيَةُ»

۱۲ ۔جابر ابن عبداللهؓ د حضورﷺ دا ارشاد نقل کوی فرمائی چی په ما باندی پیغمبران علیهم السلام پیش کړے شو یعنی ماته اوښودے شول ،نو حضرت موسیٰؑ ما ولیده نو هغه لګ ټپ بدن واله وو ګویا چی د شنوء د قبیلے نه دے ،او حضرت عیسیٰؑ ما ولیده نو زما په نظر کښی چی څوک دی نو زیات ورسره عروه ابن مسعود یوشان معلومیده۔او حضرت ابراهیمؑ ما ولیده نو زما په لیدلو خلقو کښی زه د هغوی سره زیات مشابه یم،دغه شان جبریلؑ می ولیده نو زما په نظر کښی د هغه سره ډیر مشابه دحیه کلبیؓ دے۔

فائده: د حضورﷺ انبیاءؑ لیدل د معراج په شبه سوی وو،یا د خوب په حالت کښی شوی وو۔په بخاری شریف کښی دواړه روایات شته او په دی اختلاف کښی څه اشکال هم نشته ځکه چی کیدے شی دواړه پیرے ئی لیدلی وی،دغه شان د موسیٰؑ په ذکر کښی دټپ وجود ترجمه زما په نزد راجح قول په بنیاد وکړه کنه بعض علماء ددی په ترجمه کښ نور هم اقوال ذکر کړی دی ۔

ددی دریو انبیاؤ ذکر ئی ځکه وکړه چی حضرت موسیٰؑ او حضرت عیسیٰؑ د بنی اسرائیلو پیغمبران دی او ابراهیمؑ علاوه ددینه چی دحضورﷺ بابا وو ټولو عربو منلو۔

حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ الْمَعْنَى وَاحِدٌ، قَالَا: أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ سَعِيدٍ الْجُرَيْرِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا الطُّفَيْلِ يَقُولُ: «رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا بَقِيَ عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ أَحَدٌ رَآهُ غَيْرِي»، قُلْتُ: صِفْهُ لِي، قَالَ: «كَانَ أَبْيَضَ مَلِيحًا مُقَصَّدًا»

۱۳ ۔سعید جریری فرمائی چی ما ابو الطفیلؓ داسی وئیلو اوردیلے دے چی د حضورﷺ په لیدونکو کښی په مخ د زمکه زما نه علاوه هیڅوک پاتی ندی،ما دوی ته اوئیل چی ما ته د حضورﷺ څه حلیه بیان که دوی افرمائیل چی حضورﷺ سپین رنګ واله د ملاحت سره یعنی سُر رنګ ته مائل او معتدل وجود واله وو۔

فائده: ابو الطفیلؓ په ټولو صحابه کښی اخیرے وفات شوے دے ،ددوی وفات یو سل لسمه ۱۱۰ هجری کښی شوے دے،پدی بنیاد دوی افرمائیل چی زما نه علاوه نور لیدونکی د حضورﷺ پاتی نه دی ۔علماء فرمائی چی د زمکی د مخ قید ئی دی دپاره ولګوو چی آسمان کښی د حضورﷺ په لیدونکو کښی عیسیٰؑ ژوندے وو۔

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ: حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُنْذِرِ الْحِزَامِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي ثَابِتٍ الزُّهْرِيُّ قَالَ: حَدَّثَنِي إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ ابْنُ أَخِي مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ كُرَيْبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْلَجَ الثَّنِيَّتَيْنِ، إِذَا تَكَلَّمَ رُئِيَ كَالنُّورِ يَخْرُجُ مِنْ بَيْنِ ثَنَايَاهُ»

۱۴۔ابن عباسؓ فرمائی د حضور ﷺ مخامخ غاخونه لگ کهولاؤ وو یعنی لگ قدر ریګی وو ګنړ نه وو،چی کله به حضور ﷺ خبری کولی نو یو نورشانتی به ظاهریدو چی ددوی د غاخونو مینځ نه به راوتلو۔
فائده:علماء په نزد باندی مشهوره داده چی د تشبیه ده ،د حضور ﷺ د خبرو چی د غاخونو مینځ نه به راوتلو ددی ئی د نور سره تشبیه ورکړے ده،لیکن علامه مناویؒ فرمائی چی حسی څیز وو چی تشبیه نده د +معجزے په طور به د غاخونو مبارکو د مینځ راوتلو۔

حیاء سے سر جھکا لینا ادا سے مسکرا دینا حسینوں کو بھی کتنا سھل ہے بجلی گرا دینا

الغرض د حلئے مبارکی ہر ہر شے د حسن کمال ته رسیدلے وو۔

داماں نگہ تنگ و گل حسن تو بسیار گلچین بہار تو زداماں گلہ دارد

یعنی څنګه چی په جمال معنوی کښی دوی ﷺ په انتهاء باندی وو دغه شان په جمال ظاهری کښی هم په انتهاء باندی وو۔

اللهم صل علی سیدنا محمد واله بقدر حسنه وجماله

د حضور ﷺ د مهر نبوت په بیان کښی

فائده:دا مضمون د حضور ﷺ د حلئیے مبارکی په ذیل کښی د کیدو د وجے نه د اول باب جزئ ګرزول پکار وو مګر د ډیر اهتمام د وجے او بله دا چی دا معجزه او علامت د نبوت هم وو نو دی وجے نه جدا ذکر کیګی۔مهر نبوت د حضور ﷺ په بدن مبارک باندی د پیدائش د وخت نه وو لکه چی فتح الباری د یعقوب ابن حسن په واسطه دحضرت عائشةؓ د روایت نه نقل کړی دی،او د حضور ﷺ په وفات کښی چی کله د بعضو صحابةؓ شک پیدا شو نو حضرت اسماءؓ د مهر نبوت په نِش والی د وصال دلیل ونیوو چی په دغه وخت باقی نه وو پاتی شوے ،لکه چی مناوی دا قصه مفصله نقل کړے ده۔پدی کښی اختلاف دے چی په مهر نبوت باندی څه لیکلی وو کنه،ابن حبان وغیره ددی تصحیح کوی چی پدی باندی (محمد رسول الله) لیک وو او بعضے روایاتو کښی دی چی پدی باندی (سِر فانت منصور) لیک وو مطلب ئی دادے چی ته چرته ځی نو څه ستا مدد په کیګی۔د بعضو اکابرو رائے داده چی دا روایتونه د ثبوت درجے ته نه دی رسیدلی۔ امام ترمذیؒ اته۸ احادیث پدی باب کښی ذکر کړی دی ۔

حَدَّثَنَا أَبُو رَجَاءٍ قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ: حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، عَنِ الْجَعْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ: سَمِعْتُ السَّائِبَ بْنَ يَزِيدَ يَقُولُ: ذَهَبَتْ بِي خَالَتِي إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ ابْنَ أُخْتِي وَجِعٌ. فَمَسَحَ رَأْسِي وَدَعَا لِي بِالْبَرَكَةِ، وَتَوَضَّأَ، فَشَرِبْتُ مِنْ وَضُوئِهِ، وَقُمْتُ خَلْفَ ظَهْرِهِ، فَنَظَرْتُ إِلَى الْخَاتَمِ بَيْنَ كَتِفَيْهِ، فَإِذَا هُوَ مِثْلُ زِرِّ الْحَجَلَةِ"

۱۔سائب ابن یزید فرمائی چی زه زما ترور (ماسی)دحضور ﷺ خواته بوتللم او عرض ئی وکه چی زما دا خورئے ناجوړه دے۔حضور ﷺ زما په سر باندی لاس راخکلو او زما دپاره ئی د برکت دعا وکړه (بعض علماء فرمائی چی د حضور ﷺ په سر باندی لاس راخکل ددی دلیل دے چی دده په سر تکلیف وو۔لیکن د بنده ضعیف(حضرت شیخ الحدیثؒ)په نزد څه داده چی دا لاس راخکل د شفقت د پاره وو څکه چی ۲ هجری ددویؓ پیدائش دے نو د حضور ﷺ د وصال په وخت هم ددویؓ عمر اته/نهه کالو نه زیات نه وو ،دی وجے نه دا لاس راخکل د شفقت وو لکه چی د بزرګانو معمول وی،او د علاج دپاری پری حضور ﷺ د اودس اوبه

اخکولی یا څه بل تجویز ئی افرمایه ،خصوصًا د بخاری شریف د روایت نه دا معلومیږی چې ددویؓ په خپو کښې څه تکلیف وو) او حضورﷺ اودس افرمایه نو ما د حضورﷺ د اودس اوبه اخکلې (د حضورﷺ دا اودس ممکن ده د خپل بل څه غرض دپاره وو لیکن ظاهره داده چې ددویؓ د دوائی او اوبه څکولو دپاره ئی اودس اُفرمایه) زه اتفاقًا د حضورﷺ شاته اودریدم نو ما مهر نبوت ولیده چې د ډولۍ د زونډو پشان وو (چې د کمترې د اګۍ برابر د اګۍ په شکل په هغې پرده کښې لګولی شوی وی چې د ډولۍ دپاسه غوړولے کیګی ـعلماء ددی لفظ په ترجمه کښې مختلف شوی دی چې مائی دا ترجمه وکړه ـبعضو خلقو بل شان ترجمه کړے ده لیکن امام نوویؒ چې د مسلم شریف مشهور شارح دے دی معنیٰ له ترجیح ورکړے ده)
فائده: دلته د اودس د اوبو نه که د اودس باقی مانده اوبه مرادوی خو اشکال و اختلاف نشته خو که چرې د اودس هغه اوبه مرادوی کومې چې د بدن نه جدا شی کومو ته چې ماء مستعمل وائی نو بیا هم دلته اشکال ځکه نشته چې د حضورﷺ خو فضلات هم پاک وو لا پاتې مستعملې اوبه۔

حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ يَعْقُوبَ الطَّالَقَانِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا أَيُّوبُ بْنُ جَابِرٍ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: «رَأَيْتُ الْخَاتَمَ بَيْنَ كَتِفَيْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُدَّةً حَمْرَاءَ مِثْلَ بَيْضَةِ الْحَمَامَةِ»

۲ ـحضرت جابرؓ فرمائی چې ما د نبیﷺ مهر نبوت د هغوی د دواړو اوګو مینځ کښې ولیدو چې د سرے دانی پشان وو او په مقدار کښې د کمترې د اګۍ پشان وو ـ
فائده: د مهر نبوت په مقدار او رنګ کښې روایات مختلف دی امام قرطبیؒ ئی داسی تطبیق کړے دے چې دا به کم زیات کیدو او رنګ به ئی هم بدلوو ،د بنده ناچیزه(حضرت شیخ الحدیث) په نزد باندی بل شان تطبیق هم ممکن دے چې دا ټول په حقیقت کښې تشبیهات دی او تشبیه دهر سړی د خپل ذهن موافق وی چې په حالت تقریبی باندی وی او د تقریب په اختلاف کښې اشکال نه وی د بنده په نزد دا توجیه ډیره مناسب ده۔

حَدَّثَنَا أَبُو مُصْعَبٍ الْمَدَنِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ الْمَاجِشُونِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ قَتَادَةَ، عَنْ جَدَّتِهِ رُمَيْثَةَ قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَوْ أَشَاءُ أَنْ أُقَبِّلَ الْخَاتَمَ الَّذِي بَيْنَ كَتِفَيْهِ مِنْ قُرْبِهِ لَفَعَلْتُ، يَقُولُ لِسَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ يَوْمَ مَاتَ: «اهْتَزَّ لَهُ عَرْشُ الرَّحْمَنِ»

رُمیثهؓ فرمائی چې ما نبیﷺ په دی مضمون بیانولو واوریدو او زه دغه وخت د نبیﷺ دومره نزدی ووم که ماغوختے نو مهر نبوت می خکولے شو هغه مضمون دادے چې حضورﷺ د سعدؓ په باره کښې دا فرمائیل چې د هغوی په مرګ باندی د الله تعالیٰ عرش خوزیدلے وو۔
فائده: په دی کښې اختلاف دے چې د عرش د حرکت څه وجه ده او څه معنیٰ ده۔ مشهور قول هغه دے دکوم موافق چې ترجمه وکړے شوه۔ د بعضو خیال دادے چې د عرش د خوزیدو نه مراد عرش واله دی ،بعضو په نزد باندی د عرش نه مراد د سعدؓ تخت دے وغیره وغیره۔ مګر راجح اولنے قول دے ـ
دا سعد ابنِ معاذؓ په غټو جلیل القدر صحابهؓ کښې دے ددوی نور هم ډیر فضائل د حدیثو کتابونو کښې دی ـد هجرت نه مخکښې نبی اکرمﷺ حضرت مسعب ابن عمیرؓ د تعلیم د پاره مدینے طیبے ته راولیګلے وو دهغوی په لاس مسلمان شوے وو د خپل خاندان سردار وو ددی وجے دده د مسلمان کیدو سره ټول خاندان په هغه ورځ مسلمان شو ،د ټولو نه اول چې کوم خاندان په مدینه کښې اسلام راوړے دے دا هغه خاندان دے په ۵ هجری کې ددوی وصال وشو د ۳۷ کالو په عمر کښې ،اویا زره(۷۰۰۰۰) فرشتو ددوی په نماز جنازه کښې شرکت کړے وو لیکن ددی باوجود حدیث شریف کښې رازی چې د قبر لګ شان تنګی ددوی دپاره هم راغلې وه،ډیر د عبرت ځائے دے بنده لره د عذاب قبر نه چرته هم اِفله کیدل ندی پکار ،هر

وخت توبه کول پکار ده ـ حضرت عثمان غنیؓ به چې کله په قبر تیریدو نو دومره به ئې وژړل چې ګیره مبارکه په یې لمده شوه ،چا ورته ووی د دوزخ او جنت خبری خو هم کیګی تا خو دومره ندی ژړلی دویؓ وفر مائیل ما دحضور نه اوریدلی دی چې قبر د آخرت د د منزلونو نه اولنی منزل دے څوک چې په دی کښې خلاص شی روستو ټول منزلونه ورته اسان شی او چې په دی کښې خلاصی نه مومی روستو منزلونه ددی نه ډیر ګران وی ـ
دغه شان ما د نبیﷺ نه اوریدلی دی چې ما څومره منزلونه لیدلی دی په هغې کښې قبر د ټولو نه ډیری یری واله دے (مشکوٰة)۔ اللهم احفظنا منهُ۔ د حضرت امام ترمذیؒ غرض دلته د سعدؓ د قصے سره ندے بلکه په دی کښې د حضورﷺ د مهر نبوت ذکر دے ددی وجهے نه ئې ذکر کړه ،او د حضرت رُمیثةؓ غرض د مهر نبوت په بیان کښې د نزدی والی دے ،یعنی چې زه ډیره زیاده نزدی ووم چې دا مضمون می واوریدو ،یعنی په اوریدو کښې د څه قسم غلطۍ احتمال نشته۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ مَوْلَى غُفْرَةَ قَالَ: حَدَّثَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُحَمَّدٍ، مِنْ وَلَدِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ قَالَ: كَانَ عَلِيٌّ، إِذَا وَصَفَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَذَكَرَ الْحَدِيثَ بِطُولِهِ - وَقَالَ: «بَيْنَ كَتِفَيْهِ خَاتَمُ النُّبُوَّةِ، وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّينَ«

۴۔ ابراهیم ابن محمدؒ چې د علیؓ نوَسے دے فرمائی چې حضرت علیؓ چې به کله د حضورﷺ صفات بیانول نو دا صفات به ئې بیانول او تیر شوے حدیث ئې بیان کړو۔ ددی سره به ئې دا هم فرمائیل چې د حضورﷺ د دواړو اوګو مینځ کښې مهر نبوت وو او دویﷺ خاتم النبیین وو۔
فائده: دا حدیث په مخکښې باب کښې مفصل تیر شوے دے څکه مختصر طور باندی دلته اشاره وکړه او چونکه پدی کښې د مهر نبوت ذکر وو څکه ئې خاص طور ذکر وکړو ـ دا هغه حدیث دے چې د اول باب اتم نمبر کښې تیر شوے دے ـ

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَزْرَةُ بْنُ ثَابِتٍ قَالَ: حَدَّثَنِي عِلْبَاءُ بْنُ أَحْمَرَ الْيَشْكُرِيُّ قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو زَيْدٍ عَمْرُو بْنُ أَخْطَبَ الْأَنْصَارِيُّ قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا أَبَا زَيْدٍ، ادْنُ مِنِّي فَامْسَحْ ظَهْرِي» ، فَمَسَحْتُ ظَهْرَهُ، فَوَقَعَتْ أَصَابِعِي عَلَى الْخَاتَمِ قُلْتُ: وَمَا الْخَاتَمُ؟ قَالَ: «شَعَرَاتٌ مُجْتَمِعَاتٌ«

۵۔ علباء ابن احمرؒ فرمائی چې ماته عمروبن اخطب صحابیؓ دا قصه بیان کړه چې یوه پیره حضورﷺ ماته د مُلا ګرولو وفرمائیل ما د حضورﷺ ملا ګرول شروع کړل نو اتفاقًا زما ګوته په مهر نبوت باندی ولګیده ـ علباءؒ فرمائی ما تری تپوس وکړو چې مهر نبوت څه شے وو دوی وفرمائیل د څو ویختو مجموعه وه۔
فائده: داد اولنو روایاتو خلاف ندے څکه چې دهغې په طرفونو باندی ویخته هم وو چې دوی دلته صرف د هغې ذکر وکړو۔

حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ الْخُزَاعِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي قَالَ: حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُرَيْدَةَ قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي بُرَيْدَةَ، يَقُولُ: جَاءَ سَلْمَانُ الْفَارِسِيُّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قَدِمَ الْمَدِينَةَ بِمَائِدَةٍ عَلَيْهَا رُطَبٌ فَوَضَعَهَا بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «يَا سَلْمَانُ مَا هَذَا؟ «فَقَالَ: صَدَقَةٌ عَلَيْكَ وَعَلَى أَصْحَابِكَ، فَقَالَ: «ارْفَعْهَا، فَإِنَّا لَا نَأْكُلُ الصَّدَقَةَ «قَالَ: فَرَفَعَهَا، فَجَاءَ الْغَدَ بِمِثْلِهِ، فَوَضَعَهُ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «مَا هَذَا يَا سَلْمَانُ؟ «فَقَالَ: هَدِيَّةٌ لَكَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَصْحَابِهِ: «ابْسُطُوا« «ثم نظر الى الخاتم على ظهر رسول اللهﷺ فآمن به ـ وكان لليهود فاشتراه

رسول الله بكذا وكذا درهما ،علی ان یغرس لهم نخیلا،فیعمل سلمان فیه،حتیٰ تطعم،فغرس رسول الله النخل الا نخله واحده،غرسها عمرؓ فحملت النخل من عامها ولم تحمل نخلة فقال رسول الله ﷺ ما شان هذہ النخلة؟ فقال عمر :یا رسول الله !انا غرستها،فنزعها رسول الله فغرسها فحملت من عامه۔

٦۔بریده ابن الحصیبؓ چی حضور ﷺ کله مدینې منورې ته تشریف راوړو نو سلمان فارسیؓ یو دستر خوان راوړو چی پری تازه کهجورې وی ،او د حضور ﷺ خدمت کښی ئی پیش کړی حضور ﷺ تپوس وکړو سلمانه څنګه کهجورې دی؟ هغویؓ عرض وکړو په تاسو او ستاسو په ملګرو باندی صدقه ده حضور ﷺ وفرمائیل مونږ خلق صدقه نه خورو زما د خوا نه ئی واخلئ (دی کښی د علماء اختلاف دے چی مونږ خلق نه مراد څه دے۔د بعضو په نزد د نبی ﷺ ذات دے او جمع لفظ باندی ئی تعبیر تشریفا وکړو،د بعضو په نزد د انبیاءؑ جماعت مراد دے ،بعضو په نزد باندی د حضور ﷺ خپلوان مراد دی چاته چی صدقه نشی ورکولے ۔بنده(شیخ الحدیث) په نزد باندی دا دریم احتمال راجح دے ،او د علامه مناوی اعتراضات کوم چی په دریم احتمال باندی دی دومره وزنی نه دی)دویمه ورځ باندی بیا داسی واقعه راغله چی سلمانؓ د کهجورو یو خانک راوړو او د حضور ﷺ په تپوس ئی جواب ورکړو دا ستاسو د پاره هدیه ده حضور ﷺ صحابهؓ ته ارشاد افرمایه لاسونه اوګده کئ(یعنی خورئ)او حضور ﷺ پخپله هم وخوړلی ،چنانچه بیجوری ددی تصریح کړیده ۔د سلمان فارسیؓ دسی دوه ورځی راوړل په حقیقت کښې د حضور ﷺ د آقا جوړؤلو امتحان وو ،ځکه چی سلمانؓ د پخوانئ زمانی په علماء کښی وو ،یو نیم سل ١٥٠ او د بعضو په نزد درے نیم سوه ٣٥٠ کاله عمر ئی وو ،دویؓ د حضور ﷺ په علاماتو کښی کوم چی په پخوانو کتابونو کښی وو دا هم لیدلی وو چی دوی ﷺ به صدقه نه خوری او هدیه به قبلوی او ددوی ﷺ ددواړو اوګو مینځ کښی مهر نبوت دے ۔اولنی دواړو علاماتو لیدلو نه وروستو) بیا ئی د حضور ﷺ په ملا مبارک باندی مهر نبوت ولیده نو مسلمان شو ۔(سلمانؓ دغه وخت د بنو قریظه غلام جوړشوے وو)حضور ﷺ دویؓ واغستو(مجازًا ئی د اغستلو لفظ استعمال کړو ورنه دوی ئی مکاتب جوړکړی وو۔مکاتب جوړول دی ته وائی چی آقا د غلام سره دا معامله وکړی چی کوم مقدار چی مقرر شی هغه وګټه او ادا کړه ته به ازاد ئی۔ او بدل کتابت ډیر زیات دراهمه مقرر شول) او ورسره دا هم چی سلمانؓ به درے سوه کهجورے لګوی او د هغې د میوے نیولو پوری به د هغې خیال ساتی ۔نو نبی ﷺ هغه په خپل لاس مبارک باندی ولګولی د حضور ﷺ معجزه وه چی ټولو کهجورو په هغې کال باندی میوه ونیوه صرف یوی ونی میوه ونه نیوله ،تپوس نه روستو معلومه شوه چی دغه حضرت عمرؓ په لاس باندی کرلے شوے وه دحضور ﷺ د لاس نه وه ،حضور ﷺ هغه راویستله او دوباره ئی وکرله دحضور ﷺ دا بله معجزه وه چی بے موسمه ئی بوټے وکرلو ولیګیدو او په هغه کال ئی میوه ونیوه۔

فائده:ددی حدیث نه علماء ډیر تحقیقات کړے دی ۔مثلًا چی دےؓ غلام وو نو دده صدقه او هدیه صحیح وه کنه؟ نیز صدقه او هدیه کښی څه فرق دے وغیره وغیره۔اوګده بحثونه دی د اختصار د وجے نه مو پریخوده۔

البته ددی حدیث نه د حضور ﷺ یو خاص معمول معلوم شو چی په هدایا کښی به ئی خادمان او حاضرین شریکول ،او دا د حضور ﷺ خاص معمول وو ،په زرګونو واقعات د حدیث په کتابونو کښې ددی معمول ذکر شوی دی ،دی مضمون کښی د حضور ﷺ یو ارشاد هم نقل کیږی چی حضور ﷺ فرمائیل(الهدایا مشترکة) هدیئ چی ورکولے کیږی نو ناست خلق پکښ شریک وی ۔محدثانه حیثیت سره ددی حدیث په الفاظو کښې اختلاف دے او کلام پکښ هم شته یعنی ضعیف دے مګر د مضمون په اعتبار سره د واقعاتو

نه تائید کیږی ـ دا خبره چی کوم قسم هدیې مراد دی او ناستو خلقو نه څوک مراد دی ددی تفصیل پکار دے۔

ملا علی قاریؒ لیکهی چی یو شیخ له هدیه راوړے شوه ناستو خلقو کښې چا ووی **الهدایا مشترکة** هغوی ووی د شرکت خواهش مند نه یم وحدت خوښوم دا ټول ستا شول۔ هغه دومره مقدار وو چی دے صاحب اچتولے نه شو نو یو خادم ته ئی ووئیل چی دا دده کور ته ورسوه ،هغه ورسوو۔

دغه شان د **امام ابو یوسفؒ** په مجلس کښې دا واقعه راغله چی څه نقدی هدیه پیش کړے شوه حاضرینو کښې چا وویئل **الهدایا مشرکة** دوی وفرمائیل ددی نه خاص قسم هدایا مراد دی ـ دا ئی وفرمایئل او خادم ته ووئیل دا یوسه او سنبهال ئی که۔

علماء لیکهی چی دواړه واقعې په خپل خپل ځائے باندی مناسب دی ـ د یو زاهد صوفی سره دا مناسب وو چی ویې کړل او د یو فقیه سره دغه مناسب وو۔ او دا رشتیا دی چی **ابو یوسفؒ** د فقهې مشهور امام دے که هغه داسی نوے کړے نو یوه شرعی مسئله به تری جوړه شوی وه او په هدایا کښې به شرکت ضروری وو او امت ته به ګرانه شوی وه۔حضرت **شاه ولی الله** صاحب په خپل کتاب **مبشرات** او **منامات** کښې لیکلی پدی کښې ډیر عجیبه واقعات دی بعض د هغې نه ئی د خپل والد صاحب واقعه هم لیکلی ده چی یوه پیره د طالب علمئ په زمانه کښې زما دا شوق پیدا شو چی همیشه روژے ونیسم ددی نه روستو د علماء د اختلاف د وجې نه ماته تردد وشو ـ په خوب کښې می د نبیﷺ زیارت وشو حضورﷺ یوه ډوډئ راکړه خوا کښې ابوبکرؓ ووهغوی وفرمائیل **الهدایا مشترکة** ما ډوډئ ورمخکښې کړه هغوی تری یوه ټکړه واغسته بیا عمرؓ وفرمائیل **الهدایا مشترکة** ما ډوډئ ورمخکښې کړه هغوی تری یوه ټکړه واغسته بیا عثمانؓ وفرمائیل **الهدایا مشترکة** ما عرض وکړه که دا تاسو تقسیم کړئ نو دے فقیر ته به څه پاتی شی ـ

حضرت سلمان فارسیؓ جلیل القدر صحابی دے حدیث کښې رازی چی کله د قرآن دا آیت(وَاِنْ تَتَوَلَّوْ يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ثُمَّ لَا يَكُوْنُوْا اَمْثَالَكُمْ) <u>محمد ٣٨</u> نازل شو چی ترجمه یې داده که چرته تاسو (دایمان راوړلو نه)مخ اړوئ نو الله تعالیٰ به ستاسو په ځائے بل قوم راولی چی ستاسو پشان به نه وی ـصحابهؓ عرض وکړه د الله رسوله ﷺ دا به څوک وی چی زمونږ په ځائے راشی؟ حضورﷺ د سلمانؓ په اوګه باندی لاس راخکلو وئی فرمائیل دده قوم۔

په یو حدیث کښې راغلی دی چی حضورﷺ یو ځل ارشاد وفرمایه د هغه ذات قسم د چا په قبضه کښې چی ځما ساه ده که چری ایمان په ثریا پوری زوړند وے نو د فارس څه خلقو به د هغې ځاے نه هم حاصل کړے وے ـعلماء لیکلی دی چی دا د امام **اعظمؒ** په شان کښې بشارت دے ـ

حضرت سلمان فارسیؓ د خپل ایمان تفصیلی قصه بیانوی چی د حدیث په کتابونو کښې ذکر ده چی پکښې دهغې علاماتو ذکر هم دے د کومو امتحان چی ئی اغستے وو ـ

فرمائی زه د اصفهان د یوے علاقې اسیدونکے یم د هغې نوم(جے) وو،زما پلار د هغې علاقې مشر،سردار وو ،او زما سره د هغه ډیره زیاته مینه وه ،ما په خپل پخوانی مذهب مجوسیت کښې دومره کوشش کړے وو چی زه د آتش کدے محافظ جوړ شوم،زما پلار زه یو ځل خپل جائداد طرف ته ولیږلم ،په لاره زما تګ د نصاریٰ په ګرجې باندی وشو ،زه د چکر دپاره هغې ته لاړم،ما هغوی په مانځه باندی ولیده نو زما خوَښ شو او د هغوی دین می خوښول شروع کړه ،تر ماښامه هلته ووم ،د هغوی نه ما د ا معلومات وکړل چی ددی دین مرکز کوم ځائے دے ؟ هغوی ووئیل د شام په ملک کښې دے ـ د شپې کور ته واپس رالم،کوروالو تپوس وکړو ما ټوله قصه بیان کړه ،پلار ووی بچے دغه دین خه ندے ستا او ستا د مشرانو چی کوم دین دے دا خه دے۔

ما وئیل چرته هم نه! دغه دین بهتر دے ۔د پلار سره زما یره پیدا شوه چی چرته لاړ نه شی دی وجے ئی زما په خپو کښې بیړۍ واچولی او زه ئی کور قید کړم ،ما هغې عیسایانو ته سوال جواب ولیګل چی کله د شام نه قافله راشی (چی اکثر به تلل راتلل) نو ما خبر کړئ، څه سوداګر راغلل نو هغوی ماته اطلاع وکړه چی کله هغوی واپس کیدل نو ما د خپلو خپو بیړۍ پری کړی او د هغوی سره شام نه لاړم،هلته چی ورسیدم نو ما دا تحقیق وکړو چی ددی مذهب ډیرماهر څوک دے؟ خلقو ووی چی په ګرجه کښې فلانے پشپ دے۔زه د هغه خواته لاړم ما ورته ووی زما ستاسو په دین کښې د داخلیدو رغبت دے،او ستاسو په خدمت کښې اسیدل غواړم ،هغه منظوره کړه۔زه د هغې سره په اُسیدلو شوم،لیکن هغه خه سړے راونه ختو ۔خلقو ته به ئی د صدقے ترغیب ورکوو او څه چی به راتلل په خپله خزانه کښې به ئی جمع کول ،غریبانو له به ئی څه نه ورکول۔

هغه مړ شو او د هغه په ځائے بل سړے کینولے شو چی د هغه نه بهتر وو او ددنیا نه ے رغبته وو۔زه د هغه سره شوم زما د هغې سره محبت پیدا شو،بالآخر هغه هم د مرګ شو ،ما هغه ته ووی ماته د چا خوته د پاتی کیدلو وصیت وکه!۔ هغه ماته ووی زما په طریقه صرف یو سړے دے هغه په موصل کښې اسیګی،ته د هغه خوته لاړ شه۔زه د هغه خوته لاړم او هغه ته مې قصه واوروله ،هغه په خپل خدمت کښې وساتلم ،هغه هم بهترین سړے وو ۔آخر کار هغه هم د مرګ شو ماتری تپوس وکړو چی چرته لاړشم هغه ووی (نصیبین) ته لاړ شه۔زه هلته لاړم قصه مې واوروله هغه ځان سره پاتی کړم ۔هغه هم خه سړے وو ۔چی د هغه د مرګ وخت نزدی شو نو ما وے چرته لاړ شم وی(غموریا) کښې د فلانی کس خواته لاړ شه زه هلته لاړم دغسے پاتے شوم هلته مې د ګټې دهندا هم شروع کړه چی د هغې په وجے زما سره څو غواګانی او بیزے جمع شوے۔چی د هغه د وفات وخت شو ما ورته ووی وس چرت لاړ شم ده ووی په خدائے قسم وس په دے طریقه په کومه چی مونږ یو څوک عالم ندے پاتی شوے ،البته د نبی آخر الزمان د پیدا کیدووخت نزدے شوے دے هغه به دین ابراهیمی باندی وی،په عربو کښې به پیدا کیږی او د هغه د هجرت ځائے داسی دے چی چرته د کهجورو پیدا وار ډیر دے او دواړو طرفته ئی شګلنه زمکه ده ،هغوی به هدیه خوری او صدقه به نه خوری،ددواړو اوګو مینځ کښې ئی مهر نبوت دے (ددی علاماتو د وجے نه سلمانؓ تحقیق کوو) پس که ستا شوق وی نو هے زمکے ته ځان ورسوه۔ د هغه د انتقال نه وروستو د قبیله بنو کلب څه تاجرانو په دغه طرف راتلل وشو ما هغوی ته ووی که تاسو ما عربو ته بوزئ نو ددی په بدله کښې به تاسو له دا غواګانی او بیزے درکړم ،دوی قبوله کړه،او زه ئی مکے مکرمے ته راوستلم خو په ما ئی دا ظلم وکړو چی زه ئی غلام ظاهر کړم او خرڅ ئی کړم ،ببنو قریظه یو یهودی زه واغستلم او د ځان سره ئی مدینے ته راوستلم د مدینے د لیدلو سره ما د هغې علاماتو په وجه چی ماته دغموریا ملګری(پادری)خودلی وی وپیژندله چی دا هغه ځائے دے ،زه هلته اسیدم چی دی کښې نبیﷺ د مدینے منورے ته هجرت وفرمایه،حضورﷺ دغه وخت قبا کښې تشریف فرما وو ۔ما چی خبر واوریدو نو چی څه زما سره وو وامې غستل او پیش مې کړم او عرض م وکه دا د صدقے مال دے۔حضورﷺ پخپله ونه خوړلو او (فقیرانو)صحابہؓ ته ئی وفرمائیل تاسو وخورئ۔ما په خپل زړه کښې ووی یو علامت خو پوره راوختو،بیا زه مدینے ته واپس رالم او څه م جمع کړل چی دیکښې نبیﷺ هم مدینے ته راورسیده ،ما څه (کهجورے او ډوډئ) پیش کړه او عرض م وکړه هدیه ده،حضورﷺ دهغے نه خوراک وکړو ۔ما په زړه کښې ووئیل دویم علامت هم پوره شو ۔دی نه وروستو پوره پیره زه حاضر شوم چی نبیﷺ (د یو صحابی د جنازے په وجه) په بقیع کښې تشریف فرما وو،ما سلام وکړو او شا طرفته راتاؤ شوم هغویﷺ پوهه شو او د ملا نه ئی څادر لرے کړو ۔ما مهر نبوت ولیده زه په جوش کښې په هغې ورپریوتلم او خکلوو م او ژړل م ۔حضورﷺ وفرمائیل مخے ته راشه ،زه مخے ته رالم او ټوله قصه م بیان کړه ۔

دے نه وروستو زه د خپلې غلامۍ په کارونو کښې ګیر ووم ،یوه ورځ حضورﷺ وفرمائیل ته د خپل آقا سره د مکاتبت معامله وکه،ما ورسره معامله وکړه هغه دوه ځیزونه بدل کتابت جوړ کړه : څلویښت اوقیې سره زر(یو اوقیه څلویښت درهمه وی او یو درهم درے څلور ماشے وی) دویمه دا چې درے سوه ونے د کهجورو ولګوه او خیال ئې ساته تر دی د خوراک شی ،نو حضورﷺ په خپل لاس مبارک ولګولی چې قصه ئې مذکوره ده،او اتفاقًا دچرته نه سره زر راغلل حضورﷺ سلمانؓ له ورکړل چې دا په خپل بدل کتابت کښې ورکه ـ دوی عرض وکړو حضور! دا په څنګه پوره شی هغه خو ډیر زیات مقدار دے ـحضورﷺ وفرمائیل الله ته ګرانه نده پوره به ئې کړی، ما ووړل او دهغې نه مې څلویښت اوقیې هغه وتللی او ور مې کړی(جمع الفوائد)ـ ددی قصې نه دا معلومه شوه چې د شمائلو په روایت کښې د حضورﷺ د سلمانؓ په باره کښې د اغستلو لفظ راوړل پدی وجه وو چې بدل کتابت ئې حضورﷺ ادا کړے وو.خپل لاس سره ئې ونے لګلوی وی او د خپل طرف نه ئې سره زر ورکړی وو چې بدل کتابت مقرر وو۔

حضرت سلمانؓ فرمائی د لسو نه زیاتو مالکانو په غلامۍ کښې پاتې شوے یم،غزوه خندق کښې خندق د دده په مشورے سره کنستلے شوے وو،ورنه عربو کښې مخکښې نه د خندق دستور وو او نه چا پیژندو۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْوَضَّاحِ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو عَقِيلٍ الدَّوْرَقِيُّ عَنْ أَبِي نَضْرَةَ الْعَوَقِيِّ قَالَ: سَأَلْتُ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ عَنْ خَاتَمِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَعْنِي خَاتَمَ النُّبُوَّةِ - فَقَالَ: «كَانَ فِي ظَهْرِهِ بَضْعَةٌ نَاشِزَةٌ»

۷ـ ابو نضرة فرمائی چې ما د ابو سعید خدریؓ نه د مهر نبوت باره کښې تپوس وکړو نو دوی وفرمائیل چې د هغویﷺ په ملا باندی د غوښې یو راوتلی ټکړه وه۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْمِقْدَامِ أَبُو الْأَشْعَثِ الْعِجْلِيُّ الْبَصْرِيُّ قَالَ: أَخْبَرَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَرْجِسَ قَالَ: أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي نَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ، فَدُرْتُ هَكَذَا مِنْ خَلْفِهِ، فَعَرَفَ الَّذِي أُرِيدُ، فَأَلْقَى الرِّدَاءَ عَنْ ظَهْرِهِ، فَرَأَيْتُ مَوْضِعَ الْخَاتَمِ عَلَى كَتِفَيْهِ مِثْلَ الْجُمْعِ حَوْلَهَا خِيلَانٌ كَأَنَّهَا ثَآلِيلُ، فَرَجَعْتُ حَتَّى اسْتَقْبَلْتُهُ، فَقُلْتُ: غَفَرَ اللَّهُ لَكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ: «وَلَكَ» فَقَالَ الْقَوْمُ: أَسْتَغْفَرَ لَكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالَ: نَعَمْ، وَلَكُمْ، ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ {وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ} [محمد: ١٩]

۸ـ عبد الله ابن سرجسؓ فرمائی چې زه د حضورﷺ په خدمت کښې حاضر شوم ـ د حضورﷺ سره دغه وخت مجمع وه ،ما داسې د هغوی شاته چکر ولګوو(راوی شاید په دی ځائې کښې چکر لګولو سره فعلی صورت بیان کړو)حضورﷺ زما منشا باندی پوهـ شو او د ملا نه ئې څادر لری کړو ـ ما د نبوت مهر د هغوی ددواړو وَلو مینځ کښې د مُټې هم شکل وو چې څلور واړه طرفته ئې خالونه وو چې د زَخو پشان معلومیده۔بیا زه د حضورﷺ مخې ته راغلم او ما ورته ووئیل الله تعالیٰ دی ستاسو مغفرت وکړی(یا الله تعالیٰ ستاسو مغفرت کړے دے لکه چې سورة فتح کښې د الله تعالیٰ ارشاد دے)حضورﷺ وفرمائیل الله دی ستا هم مغفرت وکړی۔

خلقو ماته ووئیل چې حضورﷺ ستا دپاره د مغفرت دعا وکړه؟ما ووئیل او او ستاسو ټولو د پاره هم ځکه چې الله تعالیٰ حکم کړے دے چې :اے محمد!ﷺ د مغفرت دعا کوه د ځان دپاره هم او دمومنانو سړو دپاره هم او د موم‍ناتو زنانؤ د پاره هم (ځکه حضورﷺ د ټولو دپاره دعائې مغفرت وکړه)۔

د حضور ﷺ د ویختو باره کښ

فائده: د حضور ﷺ د زلفو باره کښ مختلف روایات راغلی دی لکه چې مخکښ تیر شو کو پدی کښ هیڅ ځکه چې ویختو لویدلو واله ځیږدے ،یو وخت کښ که د غوږ پوسکې پورې وو نو بله زمانه تعارض نشته ، کښ ددی نه ډیر وو، ځکه چې د حضور ﷺ نه ویخته خریئل صرف څو پیرے ثابت دی نو چا چې نزدی وخت کښ نقل کړے هغوی واړه نقل کړی او چا چې څه زمانه بعد نقل کړی هغوی اوږده ویخته نقل کړی ،بعض علماء داسی هم جمع کړی چې د سر د اولی حصے ویخته تر غوږونود نیمے پورې د مینځئ حصے د غوږونو لاندی حصے پورې او د اخیر سر ویخته د تر اوږو پورې وو۔

دی باب کښ امام ترمذی اته احادیث بیان کړی ۔

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ: أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: «كَانَ شَعْرُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى نِصْفِ أُذُنَيْهِ»

حضرت انسؓ فرمائی چې د حضور ﷺ ویخته مبارک د غوږونو تر نیمے پورې وو۔

حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ قَالَ: أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ، وَكَانَ لَهُ شَعْرٌ فَوْقَ الْجُمَّةِ وَدُونَ الْوَفْرَةِ»

حضرت عائشهؓ فرمائی چې ما اوحضور ﷺ به په یو لوخی غسل کوو د حضور اقدس ﷺ ویخته د هغې زلفو نه چې د غوږونو پوسکو پورې وی د هغې نه زیات وو او کومې زلفی چې د اوږو پوره وی د هغې نه کم وو،یعنی نه زیات اږده وو او نه زیات لنډ بلکه درمیانه وو۔

فائده: دی حدیث نه دا نه معلومیږی چې دواړو حضراتو به بربنډ لامبل ځکه چې حضرت عائشهؓ پخپله فرمائی چې ما د حضور ﷺ محل ستر او هغوی زما زما محل شرم کله هم ندی لیدلی ،دغه شان د لوخی په یو والی کښ هم د دلیل نشته ،ددی ډیر صورتونه داسی ممکن دی چې غسل هم وشی او دیو بل مخ ته بے حجابه هم نشی،دغه شان ددی حدیث نه د سړی او ښځے د یو لوخی نه په یوځائے غسل کول ثابِت دی ،د علماؤ د امام نوویؒ د قول موافق په دی صورت اجماع ده۔

دویم صورت دادے چې سړے اول غسل وکړی او بیا ښځه د سړے په باقی مانده اوبو غسل وکړی،دا صورت هم د ټولو په نزد جائز دے،

دریم صورت دادے چې اول ښځه غسل وکړی سړے د هغې په باقی مانده باندی غسل وکړی ،د صورت د ااحنافوؒ،شوافعوؒ مالکیوؒ په نزد جائز دے حنابله دا جائز نه بولی،البته که د ښځے غسل کولو وخت کښ سړے هلته موجود وی نو بیا ورته دوی جائز وائی ،ددی حضراتو استدلال او د جمهوروؒ د طرفنه جوابات علمی بحث کیدو په وجه پریخودے شوے دی ،لیکن بیا هم د یو معتمد امام خلاف دے او په حدیث هم ممانعت راغلے نو پدی کښ احتیاط اولیٰ دے۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو قَطَنٍ قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرْبُوعًا، بَعِيدَ مَا بَيْنَ الْمَنْكِبَيْنِ، وَكَانَتْ جُمَّتُهُ تَضْرِبُ شَحْمَةَ أُذُنَيْهِ

حضرت براءؓ فرمائی چی حضورﷺ متوسط القامة(درمیانه قد واله) وو،ددوی د دواړو اوږو مینځ فراخه وو،ددی ویخته به تر غوګونو پوسکو پوری وو۔

فائده: دا حدیث د حلیئ په بحث کښ مفصل ذکر شوے دے د ویختو ذکر په وجه دلته هم راوړے شو۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرِ بْنِ حَازِمٍ قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ قَالَ: قُلْتُ لِأَنَسٍ: كَيْفَ كَانَ شَعْرُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: «لَمْ يَكُنْ بِالْجَعْدِ وَلَا بِالسَّبْطِ، كَانَ يَبْلُغُ شَعْرُهُ شَحْمَةَ أُذُنَيْهِ

قتادةؓ فرمائی چی ما د انسؓ نه تپوس وکړؤ چی د حضورﷺ ویخته مبارک څنګه وو؟هغوی اُفرمائیل چی نه بلکل تاؤ بلکه سیدها او لګ شان تاؤوالی،او ګرری والے پکښ وو چی د غوږونو پوسکو پورے وو۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ أَبِي عُمَرَ الْمَكِّيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ أُمِّ هَانِئٍ بِنْتِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَتْ: «قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ قَدْمَةً وَلَهُ أَرْبَعُ غَدَائِرَ

ام هانئؓ فرمائی چی نبیﷺ هجرت نه بعد یوه پیره مکے ته تشریف راوړو نو ددوی ویخته مبارک د کمڅو په طور څلور حصے کیدل۔

فائده: د مشهور قول موافق د نبیﷺ ملے راتلل د هجرت نه بعد څلور ځله شوے دے،اول عمرة القضاء کښ چی د په سنه ۷ هجری کښ وو،بیا فتح مکه کښ سنه ۸ هجری کښ ،بیا په دغ سفر کښ د عمرے جعرانیئ د پاره، بیا سنه ۱۰ هجری کښ د حج دپاره،

دا راتګ د کوم چی په دیحدیث مبارک کښ ذکر دے د بیجوړی د قول موافق د فتح مکے په په وخت شوی وو،او هم دا په مظاهر حق کښ دی،بعضو علماؤ نور وختونه هم لیکلی دی ،د سړو د پاره کمڅۍ مکروه دی ،دی حدیث کښ به د کمڅو نه هغه مراد وی چی کومے کښ تشبه نه وی چی د تشبه نه حضورﷺ پخپله منع فرمائیلی۔

حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ أَنَسٍ: «أَنَّ شَعْرَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِلَى أَنْصَافِ أُذُنَيْهِ

حضرت انسؓ فرمائی چی د حضورﷺ ویخته د غوږونو نیمے پوری وو۔

حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ يُونُسَ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَسْدِلُ شَعْرَهُ، وَكَانَ الْمُشْرِكُونَ يَفْرِقُونَ رُءُوسَهُمْ، وَكَانَ أَهْلُ الْكِتَابِ يَسْدِلُونَ رُءُوسَهُمْ، وَكَانَ يُحِبُّ مُوَافَقَةَ أَهْلِ الْكِتَابِ فِيمَا لَمْ يُؤْمَرْ فِيهِ بِشَيْءٍ، ثُمَّ فَرَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأْسَهُ

حضرت ابن عباسؓ فرمائی چی حضورﷺ به اول ویختہ بغیر لارے ویستلو نه دغه شان پریخودل او ددی وجه داوه چی مشرکینو به لاره ویستله او اهل کتابو به نه ویستله،حضورﷺ ابتداءً په هغې کارونو کښ کومو کښ چی څه حکم نازل نه وو د اهل کتابو موافقت غوره کوو لیکن روستو بیا د ا حکم منسوخ شو لهذا حضورﷺ بیا د اهل کتابو مخالفت شروع کړو۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ نَافِعٍ الْمَكِّيِّ، عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ أُمِّ هَانِئٍ، قَالَتْ: «رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَا ضَفَائِرَ أَرْبَعٍ

ام هانیؓ فرمائی چی ما نبیﷺ خلورو کمځو واله ولیده۔ **فائده:** بظاهر د هغه حدیث دے کوم چی تیر شو۔

بَابُ مَا جَاءَ فِي تَرَجُّلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضورﷺ د ویختو منګز کولو باره کښ

فائده:ویختو کښ منګز کول مستحب ده حضورﷺ ددی ترغیب هم ورکړے دے او پخپله به ئی هم په

ویختو کښ منګز کوله،امام ترمذیؒ پدی باب کښ پنځه احادیث نقل کړی دی۔

حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا مَعْنُ بْنُ عِيسَى قَالَ: حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «كُنْتُ أُرَجِّلُ رَأْسَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا حَائِضٌ

حضرت عائشةؓ فرمائی چی ما به د نبیﷺ په ویختو کښ منګز کوله حال دادے چی زه به حائضه ووم۔

فائده: دی حدیث نه علماؤ دا مسئله ثابت فرمائیلی ده چی حائضه په حالت حیض کښ د سړی خدمت کولے شی حیض سره په دی کښ څه کمے نه رازی البته صحبت ورسره ناجائز دے۔

حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى قَالَ: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ قَالَ: حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ صَبِيحٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبَانَ هُوَ الرَّقَاشِيُّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ دَهْنَ رَأْسِهِ وَتَسْرِيحَ لِحْيَتِهِ، وَيُكْثِرُ الْقِنَاعَ حَتَّى كَأَنَّ ثَوْبَهُ ثَوْبُ زَيَّاتٍ

حضرت انسؓ فرمائی چی حضورﷺ به اکثر په خپل سر مبارک کښ د تیلو استعمال کوو ،او خپله ګیره مبارکه به ئی اکثر منګز کوله او په خپل سر مبارک به ئی یوه کپړه اچوله چی هغه به د تیلو د زیاتی د وجے داسی وه ګویا چی د تیلی کپړه ده۔

فائده: یعنی د تیلو د وجې نه چونکه کپړے خرابیګی چی دا د حضور ﷺ د صفائ خلاف وو،دی وجے نه به حضور ﷺ یوه کپړه په سر اچوله چی پګړئ وغیره خرابه نشی۔

حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ أَشْعَثَ بْنِ أَبِي الشَّعْثَاءِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: «إِنْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُحِبُّ التَّيَمُّنَ فِي طُهُورِهِ إِذَا تَطَهَّرَ، وَفِي تَرَجُّلِهِ إِذَا تَرَجَّلَ، وَفِي انْتِعَالِهِ إِذَا انْتَعَلَ

حضرت عائشهؓ فرمائی چی حضور ﷺ په خپل اودس کولو کښ،منګز کولو کښ،پیزار په خپو کولو کښ(غرض په هر کار کښ) ښے طرف مخکښ کوو یعنی اول ښے طرف منګز کوو بیا ګس طرف۔

فائده: ددی دریو څیزونو کوم چی په حدیث کښ ذکر دی څه قید نشته بلکه حضور ﷺ به په ہر کار کښ ابتداء د ښی طرف نه خوښه وه۔ دی وجے نه ترجمه کښ د (هر کار) اضافه وشوه۔ او ددی اصل قاعده داده چه کوم کار کښ اصل زینت او شرافت دے د هغې ښے طرف مقدم دے لکه کپړے پیزار وغیره او په ویستو کښ ئی ګس مخکښ دے ۔ او د کوم څیز چی وجود زینت ندے لکه بیت الخلاء ته تلل وغیره نو پدی کښ ګس مخکښ کول دی په ننوتلو کښ او په راوتلو کښ ښے مخکښ کول دی،په خلاف د جومات چی په دی کښ ناسته شرافت او بزرګی ده نو داخلیدو په وخت ښئ خپه مخکښ کول او په راوتلو کښ ګسه مخکښ کول پکار دی۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ، قَالَ: «نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ التَّرَجُّلِ إِلَّا غِبًّا

عبد الله ابن مغفلؓ فرمائی چی حضور ﷺ په منګز منع کوله مګر کله کله ۔

فائده: قاضی عیاضؒ فرمائی چی د کله کله نه مراد دریمه ورځ ده ،ابوداؤد شریف کښ د په حدیث کښ د حضور ﷺ نه پخپله د روزانه منګز کولو نه منع راغلی ده،علماء فرمائی چی د ممانعت هله دے چی کله څه ضرورت تقاضا کونکے نه وی ورنه څه باک نشته۔

حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَرَفَةَ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ حَرْبٍ، عَنْ [ص: 54] يَزِيدَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ أَبِي الْعَلَاءِ الْأَوْدِيِّ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَرَجَّلُ غِبًّا «

حمید ابن عبد الرحمٰنؒ یو صحابی دے نقل کوی چی حضور ﷺ په کله کله منګز کوله۔

باب ما جاء فی شیب رسول الله
د حضور ﷺ د سپینو ویختو په باره کښ

فائده: دی باب کښ امام ترمذیؒ اته احادیث نقل کړی۔

"حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: أَخْبَرَنَا أَبُو دَاوُدَ قَالَ: أَخْبَرَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ قَالَ: قُلْتُ لِأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: هَلْ خَضَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: «لَمْ يَبْلُغْ ذَلِكَ، إِنَّمَا كَانَ شَيْبًا فِي صُدْغَيْهِ» وَلَكِنْ أَبُو بَكْرٍ، خَضَبَ بِالْحِنَّاءِ وَالْكَتَمِ"

قتادهؒ فرمائی چی ما د انسؓ نه تپوس وکړو چی نبیﷺ به نکریزه لګوله ؟ هغوی جواب راکړو چی د نبیﷺ د ویختو سپین والے داسی مقدا ته نه وو رسیدلے چی د نکریزے موقع راغلے وے، سپین والے د حضورﷺ په دواړو ختونو کښ لګ شان وو البته ابوبکرؓ به په کتم او نکریزه باندی رنګ فرمائو۔

فائده: کتم یو قسم واخه دی چی رنګ پری ورکولے کیږی ،بعض فرمائی چی صرف کتم تور وی او دی نکریزی سره ملاؤ شی نو سور شی ،او بعض فرمائی چی کتم شین وی او د نکریزی سره ملاویدو سره تور والی ته مائل وی۔

ملا علی قاریؒ فرمائی چی د غلبے اعتبار دے که غلبه د کتم وی نو تور وی او که غلبه د نکریزی وی نو سور وی ،البته خضاب په دواړو باندی جائز دے البته دی تور نه وی ځکه چی د تور رنګ نه منع راغلی ده۔

« حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، وَيَحْيَى بْنُ مُوسَى، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ قَالَ: «مَا عَدَدْتُ فِي رَأْسِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلِحْيَتِهِ إِلَّا أَرْبَعَ عَشْرَةَ شَعْرَةً بَيْضَاءَ»

حضرت انسؓ فرمائی چی ماد نبیﷺ په سر مبارک او ګیره شریفه کښ څوارلس نه زیات سپین ویخته ندی شمارلی۔

فائده: د حضورﷺ سپین ویختی ډیر کم وو البته په تعداد کښ اختلاف دے ددی روایت نه څوارلس معلومیږی بعضو نی وولس اتلس او بعضو نه تقریبًا شل معلومیږی داځه داسی خاص اختلاف ندے په مختلفو زمانو باندی هم حمل کیدے شی او د شمار په اختلاف باندی هم د سپینو ویختو کموالے د ښولو مقصود دے۔

« حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ: أَخْبَرَنَا أَبُو دَاوُدَ قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ قَالَ: سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ سَمُرَةَ، وَقَدْ سُئِلَ عَنْ شَيْبِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «كَانَ إِذَا دَهَنَ رَأْسَهُ لَمْ يُرَ مِنْهُ شَيْبٌ، وَإِذَا لَمْ يَدْهِنْ رُئِيَ مِنْهُ»

حضرت جابرؓ نه چا د حضورﷺ د سپینو ویختو باره کښ سوال وکړو مو هغوی وفرمائیل چی کله به حضورﷺ د تیلو استعمال کوو نو هغه به محسوس کیدل نه ګنی څه سپین والے به ځائے په ځائے محسوس کیدو۔

فائده: د تیلو د استعمال په وخت چونکه ټول ویخته پرقیږی نو د ویختو سپین والے د تیلو په په پرق کښ ګډ وډ شی،

یا داچی د تیلو په وجه ویخته ونخلی نو سپین ویخته د کمی په وجه پټ شی او تیل نه وی لګولی نو د ویختو د خوریدو په وجه هغه ښکاره وی۔

« حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْوَلِيدِ الْكِنْدِيُّ الْكُوفِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: «إِنَّمَا كَانَ شَيْبُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوًا مِنْ عِشْرِينَ شَعْرَةً بَيْضَاءَ»

حضرت انسؓ فرمائی چی د حضورﷺ سپین ویخته تقریبًا شل وو۔**فائده:**دا مخکښ بیان شو چی دا روایت د نورو څه خلاف ندے،

« حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ قَالَ: حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ، عَنْ شَيْبَانَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ أَبُو بَكْرٍ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَدْ شِبْتَ، قَالَ: «شَيَّبَتْنِي هُودٌ، وَالْوَاقِعَةُ، وَالْمُرْسَلَاتُ، وَعَمَّ يَتَسَاءَلُونَ، وَإِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ»

ابن عباسؓ فرمائی چه حضرت ابو بکرؓوفرمائیل اے د الله رسولهﷺ ته خو بوډا شوی(ددی څه وجی ده؟ حالانکه ستا د اعتدال کو دا تقاضا ده چی ته بس ځوان وے،یا ساسو د عمر شریف دا تقاضا ده چه تاسو دی عمر پورے لا ځوان وے؟) حضورﷺ جواب ورکړو چی ځه سورت هود، سورت واقعه، سورت مرسلات، سورت عم یتسائلون، سورت اذا الشمس کورت ځه بوډا کړم۔

فائده:ددی سورتونو قید نشته ددی نه علاوه سورت حاقه، سورت قارعه، سورت غاشیه وغیره ذکر هم راغلے دے مقصود ټول هغه سورتونه دی کومو کښ چی د یروونکو څیزونو ذکر دے لکه قیامت،جهنم،شپیلۍ،د بد بخته خلقو انجام وغیره، دی وجے نه یو حدیث کښ راغلی دی چی حضورﷺ وفرمائیل چی کوم څیزونه ماته معلام دی که دا تاسو ته معلوم شی نو تاسو به خندا ډیره کمه کړئ او اکثر وختونو کښ به ژاړئ تردی چی تاسو به بیبیانو سره ملاقات هم پریږدئ۔(او کما قال)

شرح سنة کښ لیکلی دی چی یو کس ته د حضورﷺ زیارت وشو نو دوی تپوس وکړو :اے د الله رسولهﷺ ماته دا حدیث رارسیدلے دے ''چی سورت هود ځه بوډا کړم''څه خبره ده؟ حضورﷺ ارشاد وفرمائیو پدی کښ یو آیت دے ''وَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ''یعنی مه دین باندی داسی مستقیم اوسئ څرنګه چی حکم دے او ظاهره ده چه د حکم موافق پوره استقامت ډیر مشکل کار دے ،دی وجے نه صوفیاؤ لیکلی دی چی استقامت د زرګونو کرامتونو نه بهتر دے۔

« حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ: قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، نَرَاكَ قَدْ شِبْتَ، قَالَ: «قَدْ شَيَّبَتْنِي هُودٌ وَأَخَوَاتُهَا»

ابو جحیفةؓ فرمائی چی خلقو عرض وکړو اے د الله رسولهﷺ تاسو باندی څه کمزوری وغیره د بوډا والی محسوسیږی حضورﷺ ارشاد وفرمائو زه سورت هود پشان سورتونو کمزورے کړم۔

فائده:یو حدیث کښ راغلی دی چی حضورﷺ د خپل دولت کدی(تشریف کیخودو ځائ) نه تشریف راوړو او په ګیره مبارکه ئی لاس راخکل حضرت ابوبکرؓ او عمرؓ په جومات کښ تشریف فرما وو ابوبکرؓ دا منظر ولیدو نو عرض ئی وکړو اۓ د الله رسولهﷺ زما مور پلار دی ستا نه قربان شی تاسو باندی دومره زر بوډاوالے راغے دا ئی ووی او په ژړا شو اوښکی ئی روانے شوے۔

حضورﷺ وفرمائیل سورت هود پشان سورتونو زه بوډا کړم۔زمخشریؒ فرمائی چی ما په یو کتاب کښ لیدلی دی چی یو سړے ماښام بلکل تورو ویختو واله ځوان وو شپه په شپه د هغه ویخته بلکل سپین شوی وو

خلقو تپوس وکړو نو ده ووی ما د شپے د قیامت منظر لیدلے دے چی خلق په زنځیرونو کښ تړلے کیږی او دوزخ ته غورزولے کیږی دی یری په ما دومره اثر وکړو چی یوه شپه کښ زما حالت داسی کړو۔ الله اکبر۔

« حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ: أَنْبَأَنَا شُعَيْبُ بْنُ صَفْوَانَ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ إِيَادِ بْنِ لَقِيطٍ الْعِجْلِيِّ، عَنْ أَبِي رِمْثَةَ التَّيْمِيِّ، تَيْمِ الرَّبَابِ قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعِي ابْنٌ لِي، قَالَ: فَأُرِيتُهُ، فَقُلْتُ لَمَّا رَأَيْتُهُ: «هَذَا نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ ثَوْبَانِ أَخْضَرَانِ، وَلَهُ شَعْرٌ قَدْ عَلَاهُ الشَّيْبُ، وَشَيْبُهُ أَحْمَرُ»

ابو رمثه تیمیؓ فرمائی چی زه د حضور ﷺ په خدمت کښ حاضر شوم او زما سره زما ځوے هم وو خلقو ما ته حضور ﷺ وخودو(چی دا دے غالبًا چی د مخکښ نه به ئی نه پیژندو) ما حضور ﷺ ولیدو نو زه سمدستی په دی خبره کولو مجبوره شوم چی دے واقعی د الله نبی دے دغ وخت کښ حضور ﷺ دوه شنی کپړے اغوستے وی (یعنی لنگ او څادر دواړه شنه وو) او ددوی په څه ویختو باندی د بوډا والی آثار غالب شوی وو خو د غه ویخته سره وو۔

فائده:منور مخ باندی چی څومره ہیبت،وقار او نورانیت وو ددی په لیدلو سره په د سړی په ژبه بے اختیاره دا الفاظ جاری کیدل چی بے شکه دے د الله رسول دے، بے شکه دا کس دروغجن نشی کیدے وغیره وغیره۔ ډیرو صحابهؓ نه دا قسم الفاظ په ابتدائی نظر سره د حدیث په کتابونو کښ نقل دی ،تیر حدیث کښ د حضوراقدس ﷺ د سرو ویختو هم ذکر دے دی کښ هم د علماء اختلاف دے چی حضور ﷺ خضاباستعمال کړی کنه؟بعضی د خضاب قائل دی هغوی د سُر والے په خضاب باندی محمول کوی ،او بعضے قائل ندی هغوی وائی چی ویخته سپین کیږی نو اول سُر شی او دا هغه سُر والے دے،**د خضاب بحث مستقل راروان دے۔**

« حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ: حَدَّثَنَا سُرَيْجُ بْنُ النُّعْمَانِ قَالَ: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ قَالَ: قِيلَ لِجَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ: أَكَانَ فِي رَأْسِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْبٌ؟ قَالَ: «لَمْ يَكُنْ فِي رَأْسِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْبٌ إِلَّا شَعَرَاتٌ فِي مَفْرِقِ رَأْسِهِ، إِذَا ادَّهَنَ وَارَاهُنَّ الدُّهْنُ»

حضرت جابرؓ نه چا تپوس وکړو چی د حضور ﷺ په سر مبارک کښ سپین ویخته وو؟ هغوی جواب ورکړو چی څو ویخته وو د ویختو په لاره باندی چی د تیل لگلولو په وخت به نه ظاهر کیدل۔

فائده: دا روایت بظاهره د هغ روایت خلاف دے کوم چی د انسؓ نه د باب په اول کښ تیر شو لیکن څه خاص اشکال نشته ځکه چی څو ویخته وو چه د تیل لگولو په وخت به په ویختو کښ پټ شول او د تیل نه میلاویدو په وخت به ښکاره شول نو که بعضے روایاتو کښ ددی ذکر نه وی نو څه باک نشته۔

باب ما جاء فی خضاب رسول الله
د حضور ﷺ د خضاب فرمائیلو ذکر

فائده: دی باره کښې مختلف روایات دی امام ترمذی څلور روایات دلته ذکر کړی دی ددی مختلفو روایاتو په وجه په علماءو کښې هم اختلاف دے چی حضورﷺ خضاب لګولی یا نه،اکثر علماء په نزد باندی د امام ترمذی میلان هم د حضاب نه استعمال ته دے ،احناف هم دی طرفته مائل دی چنانچه در مختار کښې ددی تصریح کړیده چی د حضورﷺ خضاب نه لګول ډیر صحیح دی ،او امام شامی ددی دا وجه بیان کړی چی د حضورﷺ په ګیره او سر مبارک کښې د امام بخاریؒ په رویت باندی اوولس ویخته سپین وو ۔او بیجوریؒ شافعی شارح شمائل هم ددی قائل دے چی حضورﷺ کله کله خضاب لګولی او اکثر ئی ندی لګولی۔

مسئله: د احنافو په نزد باندی خضاب مستحب دے لیکن دمشهور قول موافق تور خضاب لګول مکروه دی،او د شوافعو په نزد باندی خضاب سنت دے او تور خضاب حرام دے۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ: حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عُمَيْرٍ، عَنْ إِيَادِ بْنِ لَقِيطٍ قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبُو رِمْثَةَ قَالَ: أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ ابْنٍ لِي، فَقَالَ: «ابْنُكَ هَذَا؟» فَقُلْتُ: نَعَمْ أَشْهَدُ بِهِ، قَالَ: «لَا يَجْنِي عَلَيْكَ، وَلَا تَجْنِي عَلَيْهِ» قَالَ: وَرَأَيْتُ الشَّيْبَ أَحْمَرَ قَالَ أَبُو عِيسَى: " هَذَا أَحْسَنُ شَيْءٍ رُوِيَ فِي هَذَا الْبَابِ، وَأَفْسَرُ، لِأَنَّ الرِّوَايَاتِ الصَّحِيحَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَبْلُغِ الشَّيْبَ. وَأَبُو رِمْثَةَ اسْمُهُ: رِفَاعَةُ بْنُ يَثْرِبِيٍّ التَّيْمِيُّ

ابو رمثهؓ فرمائی چه ما خپل ځوے د ځان سره کړو او د حضورﷺ په مجلس کښې حاضر شوم حضورﷺ وفرمائیل: دا ستا ځوے دے؟ ما وفرمائیل او حضرت دا زما ځوے دے تاسو ددی ګوه وسئ حضورﷺ وفرمائیل دده د جرم بدله په تا نشته او ستا د جرم بدله په ده نشته(وضاحت رازی) ابو رمثهؓ فرمائی چی ما د حضورﷺ بعضی ویکته سره ولیدل امام ترمذی فرمائی د خضاب باره کښې دا حدیث د ټولو نه صحیح او واضح دے۔

فائده: زمانه جاهلیت دستور وو چی ځوے به د پلار په جرم کښې نیولے کیدو،ابو رمثهؓ ددی قاعدے په وجه عرض وکړو چی که چرته ددی خبری ضرورت راشی نو چی تاسو ګواه ئۍ چی واقعی دا زما ځوے دے،حضورﷺ د زمانه جاهلیت دا رسم رد کړو او وئی فرمائیل چی د اسلام دا قاعده نده چی جرم به یو کوی او سزا به بل څکی۔''ولاتزر وازرة وزراخرىٰ'' څوک هم د بل د بوجهـ زمه دار ندی۔

حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ مَوْهَبٍ قَالَ: سُئِلَ أَبُو هُرَيْرَةَ: هَلْ خَضَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: «نَعَمْ» قَالَ أَبُو عِيسَى: " وَرَوَى أَبُو عَوَانَةَ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَوْهَبٍ فَقَالَ: عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ

ابو هریرهؓ نه چا تپوس وکړو چی حضورﷺ خضاب لګولی وو ؟دوی وفرمائیل او لګولی وو۔

حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ هَارُونَ قَالَ: أَنْبَأَنَا النَّضْرُ بْنُ زُرَارَةَ، عَنْ أَبِي جَنَابٍ، عَنْ إِيَادِ بْنِ لَقِيطٍ، عَنِ الْجِهْدَمَةِ، امْرَأَةِ بِشْرِ ابْنِ الْخَصَاصِيَّةِ، قَالَتْ: «أَنَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ مِنْ بَيْتِهِ يَنْفُضُ رَأْسَهُ وَقَدِ اغْتَسَلَ، وَبِرَأْسِهِ رَدْعٌ مِنْ حِنَّاءٍ» أَوْ قَالَ: «رَدْغٌ» شَكَّ فِي هَذَا الشَّيْخُ

جهذمه کومه چی د بشیر ابن خصاصیه بی بی ده چی ما حضور ﷺ د مکان نه په بهر تشریف راوړو ولیده چی حضور ﷺ غسل کړے وو ځکه ئی سر مبارک څنډه او په سر مبارک ئی د نکریزے اثر وو۔

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ: حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ قَالَ: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ قَالَ: حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ، عَنْ أَنَسٍ قَالَ: «رَأَيْتُ شَعْرَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَخْضُوبًا»
قَالَ حَمَّادٌ: وَأَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ قَالَ: «رَأَيْتُ شَعْرَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ مَخْضُوبًا»

حضرت انسؓ فرمائی چی ما د حضور ﷺ ویخته مبارک خضاب شده ولیدل۔

فائده:د حضور اقدس ﷺ په خضاب کښ مختلف روایات دی لکه چه تفصیلی ذکر شوی دی لیکن پدی روایت کښ یو خاص اشکال دے هغه دا چی ددی نه مخکښ باب اول حدیث کښ پخپله انسؓ د خضاب نفی کوی لیکن که دواړه روایات صحیح شی نو په مختلفو وختونو محمول کیدے شی ۔

باب ما جاء فی کحل رسول الله

د حضور ﷺ د رنجو باره کښ

فائده:په سترګو کښ رنجه لګول مستحب دی سړی له پکار دی چی س ثواب په نیت په سترګو کښ رنجه لګوی دی سره د سترګو د فائدے سره سره د اتباع سنت ثواب هم دے۔امام ترمذیؒ په دی باب کښ پنځه احادیث ذکر کړی۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ الرَّازِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ مَنْصُورٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اكْتَحِلُوا بِالْإِثْمِدِ فَإِنَّهُ يَجْلُو الْبَصَرَ، وَيُنْبِتُ الشَّعْرَ «وَزَعَمَ «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ لَهُ مُكْحُلَةٌ يَكْتَحِلُ مِنْهَا كُلَّ لَيْلَةٍ ثَلَاثَةً فِي هَذِهِ، وَثَلَاثَةً فِي هَذِهِ»

ابن عباسؓ فرمائی چه حضور ﷺ ارشاد وفرمائیو چی د اثمد رنجه په سترګو کښ اچوئ ځکه چی دا د سترګو رنړا سِوا کوی او بانړه هم ډیر راخیژوی او دا هم فرمائی چی د حضور ﷺ یو رنجودان وو چی د هغے نه به ئی درے درے سلائی هره شپه لګول۔

فائده:اثمد د یو خاص رنجو نوم دے چی تور سُربیخن وی مشرقی ملکونو ،بعض اکابر ددی نه اصبهانی رنجه مراد اخلی او بعضو توتیا خودلے دے،علماء فرمائی چی ددی نه مراد تندرستی سترګی دی او هغه څوک چی په هغوی باندی سم رازی کنه بیماری سترګی په دی سره ډیری دردیږی،د رنجو د اوده کیدو په وخت لګول ډیر فائده مند دی ،چی په سترګو کښ ډیر وخت پوری پاتی شی او په رګونو کښ سرایت دی وخت کښ ډیر کوی ،بعضو روایاتو کښ د درے درے سلائی لګول په هر سترګه کښ راغلی دی لکه چی تیر شو او په بعضو کښ په خۀ سترګه کښ درے او په ګڅه کښ دوه راغلی دی ، دا په مختلفو وختونو باندی حمل دی چی بعضی وخت به ئی داسی لګول او بعضی وخت داسی۔

حافظ ابن حجرؒ او ملا علی قاریؒ وغیره حضراتو اول صورت راجح کړے دے او د حضور ﷺ نه هم په ډیرو روایاتو کښ اول صورت نقل کړے شوے دے لکه چی آئنده رازی۔

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الصَّبَّاحِ الْهَاشِمِيُّ الْبَصْرِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى قَالَ: حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ مَنْصُورٍ (ح) وَحَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ مَنْصُورٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكْتَحِلُ قَبْلَ أَنْ يَنَامَ بِالْإِثْمِدِ ثَلَاثًا فِي كُلِّ عَيْنٍ «وَقَالَ يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ فِي حَدِيثِهِ: «إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ لَهُ مُكْحُلَةٌ يَكْتَحِلُ مِنْهَا عِنْدَ النَّوْمِ ثَلَاثًا فِي كُلِّ عَيْنٍ

ابن عباسؓ فرمائی چی حضورﷺ به د اوده کیدو نه مخکښ په هره سترګه کښ د اثمد رنجو نه درے درے سلائی لګول،او یو روایت بل هم د ابن عباسؓ نه نقل دے چی د نبیﷺ سره یوه رنجو دان وو چی د هغې نه به ئی د اوده کیدو په وخت په سترګه کښ درے درے سلائی لګول۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَزِيدَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ هُوَ ابْنُ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَلَيْكُمْ بِالْإِثْمِدِ عِنْدَ النَّوْمِ، فَإِنَّهُ يَجْلُو الْبَصَرَ، وَيُنْبِتُ الشَّعْرَ«

حضرت جابرؓ فرمائی چی حضورﷺ وفرمائیل چی اثمد رنجه خوامخا لګوئ دا نظر تیزوی او بانړه راخیژوی۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ: حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُثْمَانَ بْنِ خُثَيْمٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ خَيْرَ أَكْحَالِكُمُ الْإِثْمِدُ، يَجْلُو الْبَصَرَ، وَيُنْبِتُ الشَّعْرَ«

ابن عباسؓ فرمائی د حضوراقدسﷺ ارشاد دے چی ستاسو په ټولو رنجو کښ د اثمد رنجه بهترین رنجه دی دا نظر تیزوی او بانړه راخیژوی۔

فائده:دی حدیث په راویانو کښ د بشرابن مفضل په باره کښ علماءو لیکلی دی چی دده معمول روزانه د څلور سوه ۴۰۰ رکعاتو نفلو او یوه ورځ روژه او بله ورځ افطار ئی همیشه معمول وو۔

حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُسْتَمِرِّ الْبَصْرِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ الْمَلِكِ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَلَيْكُمْ بِالْإِثْمِدِ، فَإِنَّهُ يَجْلُو الْبَصَرَ وَيُنْبِتُ الشَّعْرَ

حضرت ابن عمرؓ هم د حضور اقدسﷺ دا ارشاد نقل کړے دے چی حضورﷺ وفرمائیل چی اثمد رنجه خوامخا لګوئ دا نظر تیزوی او بانړه راخیژوی۔

فائده:دی ټولو روایاتو کښ د اثمد لګولو ترغیب راغلے دے لیکن ددی نه هغه سترګی مراد دی د کومو چی موافق راشی کنی د بعضے عوارضو د وجے نه بعضے خلقو باندی دا سم نه رازی لکه چی مخکښ تیر شو، علماء ددی ارشاداتو او معمولاتو وجه دا بیان کړیده چی چی رنجه لګول سنت دی او خاص طور اثمد ډیر بهتر دی لهذا که د اثمد نه علاوه نور رنجه ولګولے شی نو هم به سنت ادا شی البته فضیلت ددی دے۔

باب ما جاء في لباس رسول الله
د حضورﷺ د لباس ذکر

فائده:دی باب کښ امامؒ شپاړس احادیث نقل کړی،لباس باره کښ علماء فرمائی چی د سړی لباس بعضی **واجب** وی بعضی **مستحب** وی بعضی **حرام** وی بعضی **مکروه** بعضی **مباح۔**سړی دپاره د لباس

استعمالولو ددی مندوباتو طرفته رغبت او د مکروهاتو نه اجتناب پکار دے ۔**واجب** هغه لباس دے چی په هغې سره عورت پټولے شی،**مستحب/مندوب** هغه دے چی په شریعت کښ د هغې ترغیب راغلے وی لکه بهترینه کپړه د اخترونو په ورځ او سپینه کپړه د جمعې په ورځ۔**مکروه** چی د هغې د نه استعمال په باره کښ ترغیب راغلے وی لکه د مالدار همیشه شلیدلی/زړی کپړے اغوستل،**حرام** چی د هغې د اغوستلو نه منع راغلی وی لکه د سړی د پاره د ریخمو کپړے بغیر د عذر نه استعمالول۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ الرَّازِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، وَأَبُو تُمَيْلَةَ، وَزَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، عَنْ عَبْدِ الْمُؤْمِنِ بْنِ خَالِدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: «كَانَ أَحَبُّ الثِّيَابِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقَمِيصَ

حضرت ام سلمهؓ فرمائی چی حضور ﷺ به په ټولو کپړو کښ قمیص ډیر غوره کوو/خوښو۔

فائده: د حضور ﷺ د قمیص ډیر غوره کولو وجهے علماء لیکلی دی ،بعض فرمائی چی ددی سره بدن په خه طریقه سره پټیګی بخلاف د لنګ وغیره،بعض فرمائی چی د قیمت د کم والی په وجه او په بدن باندی د بوجهـ نه کیدو د وجهے بخلاف د څادر وغیره،د بعضو رائے ده چی ددی سره تکبر نه رازی په خلاف د بعضی نورو کپړو۔

د بنده(حضرت شیخ زکریاؒ)په نزد باندی ددی وجه بظاهر داده چی ددی سره ستر عورت هم په خه طریقه کیږی او دی سره سره ښائیست او زینت هم خه وی په خلاف د نورو کپړو چی یا په ښائیست کښ کمے پاتی کیږی لکه لنګ یا په ستر کښ لکه څادر وغیره،ددی باب اتم حدیث بظاهره ددی مخالف دے د هغې سره تطبیق به هلته بیان شی۔

حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ الْبَغْدَادِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو تُمَيْلَةَ، عَنْ عَبْدِ الْمُؤْمِنِ بْنِ خَالِدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أُمِّهِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: «كَانَ أَحَبَّ الثِّيَابِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْبَسُهُ الْقَمِيصُ» قَالَ:" هَكَذَا قَالَ زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ، فِي حَدِيثِهِ: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أُمِّهِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، وَهَكَذَا رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ أَبِي تُمَيْلَةَ مِثْلَ رِوَايَةِ زِيَادِ بْنِ أَيُّوبَ، وَأَبُو تُمَيْلَةَ يَزِيدُ فِي هَذَا الْحَدِيثِ عَنْ أُمِّهِ وَهُوَ أَصَحُّ"

دغه شان د امه سلمهؓ نه هم بعضو دا نقل کړی دی چه د حضور ﷺ په کپړو کښ د ټولو نه زیات قمیص خوښ وو۔

فائده: ملا علی قاریؒ د دمیاطی نه نقل کړی دی چی د حضور ﷺ د قمیص د وړی نه جوړ ووچی ډیر اوږد هم نه وو او نستونړی ئی هم ډیر اوږده نه وو،**بیجوری** نقل کړی دی چی د حضور ﷺ سره صرف یو قمیص وو ،او د عائشےؓ نه ئی نقل کړی دی چی د حضور ﷺ معمول د سحر د خوراک نی د ماښام د پاره کیخودل نه وو او نه د ماښام نه د سحر د پاره ،او څه کپړے قمیص،څادر ،لنګ یا پائےزار دوه جوړے نه وو۔**مناوی** دحضرت ابن عباسؓ نه نقل کړی دی چی د حضور ﷺ قمیص ډیر اوږد نه وو او نه ئی نستونړی ډیر اوږده وو۔یو بل حدیث کښ د ابن عباسؓ نه نقل کړی دی چی د حضور ﷺ قمیص به د زنګونانو نه اوچت وو ۔علامه **شامیؒ** لیکلی چی د پنډۍ د نیمے پورے پکار دے۔

« حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ الْحَجَّاجِ قَالَ: حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي عَنْ بُدَيْلٍ يَعْنِي ابْنَ مَيْسَرَةَ الْعُقَيْلِيَّ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ قَالَتْ: «كَانَ كُمُّ قَمِيصِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الرُّسْغِ»

حضرت اسماءؓ فرمائی چی د حضور ﷺ د قمیص نستونړی تر مړوند پورے وو۔

فائده: دا حدیث بظاهره د هغې حدیث خلاف دے کو کښ چی د نستونړو د مړوند نه لاندی پوری وارد شوے دی ۔علماء دا روایات په یو څو طریقو سره جمع کړی دی، **اول** دا چی د اوقاتو په اختلاف باندی حمل شی چی کله داسی وو او کله هاغسی۔**دویم** داچی نستونړوی به کله راغوند(چوړړی) وو نو د مړوند پوری او چی کله به سیدها وو نو د مړوند نه لاندی پوری، **بعضو** دا صرف په اټکل باندی حمل کړیدی بیا څه اشکال نشته، **مولانا خلیل احمد صاحبؒ** په بذل المجهود کښ لیکلی دی چی د مړوند پوری روایات په افضلیت باندی محمول دی او سیوا والا په جواز باندی ،**علامه جزریؒ** لیکلی دی چی د قمیص نستونړی د مړوند پوری سنت دی او د قمیص نه علاوه چوغه وغیره کښ د مړوند نه لاندی پوری خو چی په ګوتو باندی نه اوړی۔

حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ قَالَ: حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ عَنْ عُرْوَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ قُشَيْرٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَهْطٍ مِنْ مُزَيْنَةَ لِنُبَايِعَهُ، وَإِنَّ قَمِيصَهُ لَمُطْلَقٌ، أَوْ قَالَ: زِرُّ قَمِيصِهِ مُطْلَقٌ، قَالَ: فَأَدْخَلْتُ يَدِي فِي جَيْبِ قَمِيصِهِ فَمَسِسْتُ الْخَاتَمَ

قره ابن ایاسؓ فرمائی چی زه د حضوراقدس ﷺ په خدمت کښ د قبیله مزینه د یو جماعت سره د بیعت(لاس نیوے)د پاره حاضر شوم نو د حضور ﷺ د قمیص بټن(صدف)پرانستے وو ما ددوی ﷺ په ګریوان کښ لاد دننه کړو او د برکت دپاره می مهر نبوت باندی لاس راخکو۔

فائده: ددویؓ حاضری چی کوم وخت وشوه نو د حضور ﷺ ګریوان کهولاو وو په داسی حالت کښ ددویؓ زیارت وشو د محبت سره دا ضروری ده چی د محبوب هره ادا په زړه کښ ځائے وکړی **عروةؒ** کوم چی ددی حدیث راوی دے فرمائی چی ما معاویه او د هغه ځوی لره کله هم د ګریوان بټنی لګولی ندی لیدلی که ګرمی به وه او که سرړزی همیشه به ئی بټنی پرانستے وے۔ددی حضراتو په په برکت باندی نن د حضور ﷺ هره هره ادا د یو یو امتی سره محفوظه ده۔(جزاهم الله عنا وعن سائر الامة احسن الجزاء)

حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْفَضْلِ قَالَ: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ الشَّهِيدِ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ وَهُوَ يَتَّكِئُ عَلَى أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ عَلَيْهِ ثَوْبٌ قِطْرِيٌّ قَدْ تَوَشَّحَ بِهِ، فَصَلَّى بِهِمْ. وَقَالَ عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ: قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ الْفَضْلِ: سَأَلَنِي يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ أَوَّلَ مَا جَلَسَ إِلَيَّ، فَقُلْتُ: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، فَقَالَ: لَوْ كَانَ مِنْ كِتَابِكَ، فَقُمْتُ لِأُخْرِجَ كِتَابِي فَقَبَضَ عَلَى ثَوْبِي ثُمَّ قَالَ: أَمْلِهِ عَلَيَّ، فَإِنِّي أَخَافُ أَنْ لَا أَلْقَاكَ، قَالَ: «فَأَمْلَيْتُهُ عَلَيْهِ، ثُمَّ أَخْرَجْتُ كِتَابِي فَقَرَأْتُ عَلَيْهِ»

حضرت انسؓ فرمائی چی حضورﷺ په اسامهؓ تکیه لګولی وه د مکان نه بهر ئی تشریف راوړو دغه وخت په حضورﷺ باندی یوه یمنی ګل شوی کپړه وه چی حضورﷺ اغوستی وه حضورﷺ بهر راغۍ او صحابه له ئی مونځ وکړو۔

فائده:دا قصه د حضورﷺ د بیمارئ ده لکه چی دارقطنی ددی تصریح کړیده ددی وجے نه حضورﷺ په اسامهؓ باندی تکیه لګولی وه او غالبه داده چی د مرض الوفات قصه ده دا قسم واقعات په هغے کښ پیښ شوی وو،د حضورﷺ په څه شی باندی تکیه لګولو باب کښ به هم دا حدیث راشی، ددی حدیث متعلق امام ترمذیؒ یوه عجیبه قصه نقل کړیده ددی نه دحضراتو محدثینو د حدیثو سره انتهائی شوق او د دنیا بے ثباتی معلومیږی۔''محمد ابن الفضلؒ فرمائی چی یحیٰ ابن معینؒ (چی د حدیثو لوے امام دے تر دی چی بعضی علماء لیکی چی دهٔ لا لاکهه حدیثونه په خپل لاس لیکلی) ددی حدیث زمانه په ناسته تپوس وکړو ما اوروول شروع کړل ده اووی چه که د کتاب نه ئی راته واوروئ زما به دیر اطمینان راشی زه د کتاب پسی پاسیدل نو ده زما لمن ونیوله او وئ وئیل اول ئی راته په حفظ ووائی د مرګ او ژوند پته نه لګی ممکنه ده چی بیا ملاؤ شو یا نه چی کتاب وګوری بیا به ئی دوباره واوروئ ،**محمد ابن الفضلؒ** فرمائی اول ما په یادو واوروو بیا مِ کتاب راوړو او د کتلو نه مِ ورته واوروو۔**الله اکبر** دوی ته د دواړو د ژوند دومره قدرے اطمنان نه وو چی د دننه نه کتاب راوړو پوره د ژوند یقین وے او د حدیث د فوت کیدو یوه لری خطره ئی هم خوښه نه کړه۔

» .حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ إِيَاسٍ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَجَدَّ ثَوْبًا سَمَّاهُ بِاسْمِهِ عِمَامَةً أَوْ قَمِيصًا أَوْ رِدَاءً، ثُمَّ يَقُولُ: «اللَّهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ كَمَا كَسَوْتَنِيهِ، أَسْأَلُكَ خَيْرَهُ وَخَيْرَ مَا صُنِعَ لَهُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ»
حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ يُونُسَ الْكُوفِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا الْقَاسِمُ بْنُ مَالِكٍ الْمُزَنِيُّ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ

ابوسعید خدریؓ فرمائی چی کله به حضور اقدسﷺ نوی کپړه اغوستله نو دخوشحالئ د اظهار د پاره به ئی د هغے نوم اغیستلو مثلاً الله الله قمیص راکړو دغه شام پګړئ څادر وغیره بیا به ئی دا دعا فرمائیله:**اللهم لک الحمدُ کما کسَوتَنِیه،اسئَلُکَ خیرَہ وخیرَما صُنِعَ له و اَعوذُبِکَ مِن شره وشرِما صنع له۔** ترجمه:اے الله ستا دپاره ټول تعریفونه دی او ددی کپړی په راکولو ستا شکر دے یا الله ستا نه ددی کپړے خیر غواړم (چی خراب او ضائع نشی)او د هغے مقاصدو خیر غواړم د کوم د پاره چی دا جوړه شوی ده،او خاص ستا نه ددی کپړے د شر نه پناه غواړم او د هغے څیزونو د شر نه پناه غواړم چا د پاره چی دا جوړه شوی ده د کپړے خیر او شر خو ښکاره دےاو د کوم څیز دپاره چی جوړه شوی وی مثلاً ګرمی یخنی ښائست وغیره ،د کوم غرض دپاره چی جوړه شوی وی د هغے خیر لکه د الله په رضا کښ استعمال شی په عبادت کښ مددګار شی او شر/بدی ئی داده چه د الله په نافرمانئ کښ استعمال شی او عجب او تکبر پیدا کړی وغیره۔

« حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: «كَانَ أَحَبَّ الثِّيَابِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْبَسُهُ الْحِبَرَةُ»

حضرت انسؓ فرمائی چی د حضورﷺ گل دار یمنی څادر په کپړو کښې دیر خوښ وو۔

فائده: د حدیث په ظاهره د باب د مخکښ حدیث مخالف دے کوم کښې چی د قمیص د ټولو نه د خوښ والی ذکر راغلے وو،علماءؒ ددی مختلف توجیهات بیان کړی ،د ټولو نه آسان دادے چی دواړه ډیر خوښ وو هغه هم او دا هم څه منافات نشته ۔یا دا چی د اغوستو په کپړو کښې قمیص ډیر خوښ وو او د پسرولو په کپړو کښې څادر ئی ډیر خوښ وو۔ بعض خلقو د ثبوت په لحاظ باندی دا حدیث ډیر قوی خودلے دے ۔بعضو اول حدیث د اقسامو د لباس نه گرزولے دے یعنی د کپړو په ټولو قسمونو کښې قمیص ډیر خوښ وو او دا حدیث ئی د رنگ د اقسامو نه گرزولے دے یعنی د رنگ په اعتبار به ئی منقش(رنگدار)څادر ډیر خوښ وو،بعضی وائی چی دا څادری په شین رنگ واله وی ۔او په رنگونو کښې ئی شین رنگ ډیر خوښ وو ځکه چی د جنت کپړے به هم شین رنگ والا وی ۔

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَوْنِ بْنِ أَبِي جُحَيْفَةَ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: «رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ حَمْرَاءُ كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى بَرِيقِ سَاقَيْهِ» قَالَ سُفْيَانُ: أُرَاهَا حِبَرَةً

ابو جحیفهؓ فرمائی چی ما نبیﷺ ولیده چی سره جوړه ئی اغوستی وه د حضورﷺ د دواړه پنډو چمک گویا چی وس هم زما مخے ته دے سفیان کوم چی ددی حدیث راوی فرمائی ماته چی څومره معلومه ده دغه سره جوړه منقشه(رنگداره/گل داره) وه۔

فائده: دا قصه د حجة الوداع ده لکه چه د بخاری وغیره په روایت کښې تصریح موجود ده۔سفیانؒ ددی روایت مراد منقش جوړه ځکه بیانوی چی د سری جوړے نه ممانعت راغلے دے ،ددی وجے نه د علماء په دی کښې اختلاف دے د احنافو په کښې هم مختلف اقوال دی ،دټولو په اول باب کښې هم ذکر شوی چی پدی کښې تفصیل دے چی د کپړے د تعین نه وروستو د علماء نه تحقیق کولے شی ،دحضرت قطب ارشاد مولانا گنگوهیؒ په فتاویٰ کښې په کثرت سره دا مضمون شته چی سره جوړه د سړو دپاره د فتویٰ په رو سره جائز ده خو د تقویٰ په لحاظ سره پریخودل پکار دی ځکه چی د علماء اختلاف پکښې دے۔

« حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ: «مَا رَأَيْتُ أَحَدًا مِنَ النَّاسِ أَحْسَنَ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِنْ كَانَتْ جُمَّتُهُ لَتَضْرِبُ قَرِيبًا مِنْ مَنْكِبَيْهِ»

حضرت براءؓ فرمائی چی ما یو سرے جوړے والا د حضورﷺ نه ښائسته ندے لیدلے دغه وخت د حضورﷺ زلفی مبارکی د حضورﷺ د اوږو نزدی رارسیدے۔

فائده: دا حدیث په اول باب کښې ذکر شوے دلته د سرے جوړے د ذکر په وجه مکرر ذکر شو۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ إِيَادٍ عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي رِمْثَةَ قَالَ: «رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ بُرْدَانِ أَخْضَرَانِ»

ابو رمثةؓ فرمائی چی ما حضور اقدس ﷺ دوه شنے خادری اغوستو والا لیدلے دے۔

فائده: دا حدیث مخکښ ذکر شوے د لباس په وجه په دی باب کښ مختصر مکرر ذکر شو۔

حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَفَّانُ بْنُ مُسْلِمٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ حَسَّانَ الْعَنْبَرِيُّ، عَنْ جَدَّتَيْهِ، دُحَيْبَةَ وَعُلَيْبَةَ، عَنْ قَيْلَةَ بِنْتِ مَخْرَمَةَ قَالَتْ: «رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ أَسْمَالُ مُلَيَّتَيْنِ كَانَتَا بِزَعْفَرَانٍ وَقَدْ نَفَضَتْهُ» . وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ طَوِيلَةٌ

قیله بنت مخرمةؓ فرمائی چی ما حضور ﷺ په داسی حالت کښ ولیدو چی په حضور ﷺ باندی دوه زاړه لنګونه وو چی په زعفرانو باندی رنګ شوی وو ،لیکن د زعفرانو اثر په هغے باندی باقی نه وو پاتی شوے په دی حدیث کښ اوږده قصه ده۔

فائده: په زعفرانو رنګ شوی کپړو نه په حدیث کښ منع راغلے دی وجے نه په حدیث کښ اشاره وکړه چی د زعفرانو اثر باقی نه وو پاتی شوے چی د هغے احادیثو سره اختلاف واقع نشی۔

د حضور زاړه دوه خادرے اغوستل د تواضع د وجے وو ددی وجے نه صوفیاؤ د تنګدستۍ حالت اختیار کړے چی دا تواضع طرفته وړونکے دے او د تکبر نه لرے کوونکے دے لیکن ورسره دا خبره هم ده چی که دا مقصود حاصل نه وی نو بیا دا حالت محمود ندےلا دا چی په ځائے ددی نفع ورته نقصان ملاؤ شی ،لکه چی په دی زمانه کښ کیږی او اکثر دغه اظهار د غریبۍ د کمال ذریعه جوړولے شی او په زبان حال سره سوال وی۔دحضرت ابوالحسن شاذلیؒ چی په لویو صوفیاؤ کښ دے قصه مشهوره ده چی دے یوه ورځ په انتهائی ښائسته کپړے اغوستے وے یو غریب حاله پری اعتراض وکړو نو دوی جواب ورکړو "زما د حالت د الله تعالیٰ حمد وشکر ظاهر کوی او ستا دا حالت د سوال صورت جوړیږی ته په زبان حال سره د خلقو نه سوال کوی"۔الغرض په نیت د تواضع ښائسته لباس نه اغوستل افضل دی خو په شرط ددی چی څه بل نقصان طرفته ده ونه رسوی۔

ددی بالمقابل که څه بل دینی مصلحت مقتضی وی ،مثلاً د یو مخلص هدیه والا دلداری مقصود وی یا څه بل دینی مصلحت په دی باندی مرتب کیږی نو عمده لباس اغوستل بهتر او مستحب ګرزی۔

نبی ﷺ یو ځل د اووه ویش اوښو په بدل کښ یوه جوړه اغیستے وه او اغوستلے ئی وه ۔البته دا ضرور ده چی دا یوه وقتی او عارضی شے وو کنی عام لباس به د نبی ﷺ انتهائی معمولی وو۔ددی وجے نه د اکثر مشائخو د تصوف دا معمول دے ،البته د حضرات نقشبندیه او شاذلیه معمول د عمده لباس راروان دے او د صورت د سوال نه د تحفظ رعایت ئی اهم ګرزولے لکه چی ابو الحسن شاذلی افرمائیل۔

د نفس د دهوکے نه ځان ساتل دواړه طرفته ضروری دی په شکسته حالت کښ شهرت او د تواضع په اظهار کښ ریا، او په عمده لباس کښ تکبر خطرناک امور دی۔

په حدیث کښ اوږده قصه ده چې د هغې د حضورﷺ د لباس سره تعلق نشته دی وجې نه امام ترمذیؒ د اختصار دوجې پریخوده قصه تقریبًا دوه صفحې ده شراحو هم اختصارًا پریخې ده په دی کښ د قیله د ابتدائی اسلام قصه او کیفیت دے ،البته په مشهور رویت کښ دا هم دی چې حضورﷺ په دی غریبانه لباس کښ تشریف فرما وو ،د کهجورے یوه څانګه د حضورﷺ په لاس کښ وه یو کس حاضر شو او د حضورﷺ دا غریبانه حالت ئې ولیده نو د رعب دوجې نه په رپیدو شو،حضورﷺ دده حالت پخپله ولیده یا بل چا ورته ووی نو حضورﷺ وفرمائیل سکون اختیار که! د حضورﷺ دا فرمائیل وو چې دده نه یره وغیره ټوله ختمه شوه۔

بعضې احادیثو نه دا قصه پخپله د قیلې معلومیږی۔لکه چې امام ترمذیؒ د حضورﷺ د نشست په بیان کښ ددی لګ ذکر هم کړے دے او د قیلې طرفته ئې د قصې نسبت کړے دے لکه چې د حضورﷺ د نشست د باب په بیان کښ رازی۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ: حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُثْمَانَ بْنِ خُثَيْمٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَلَيْكُمْ بِالْبَيَاضِ مِنَ الثِّيَابِ لِيَلْبِسْهَا أَحْيَاؤُكُمْ، وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ، فَإِنَّهَا مِنْ خَيْرِ ثِيَابِكُمْ»

حضرت ابن عباسؓ فرمائی چې حضورﷺ به فرمائیل چې سپینې کپړے اختیاروئ دا د بهترین لباس نه دی ،سپینې کپړے په ژوندون اغوندئ او په سپینو کپړو کښ مړو له غسل ورکوئ۔

فائده: دی حدیث کښ د حضورﷺ د سپینو کپړو اغوستو ذکر نشته دی وجې نه دا په شمائلو کښ ذکر کول مخفی دی لیکن دا توجیه کیدے شی چې کله حضورﷺ ددی ترغیب ورکړو نو پخپله اغوستل ترې هم راووتل او په بخاری وغیره کښ د حضورﷺ سپین لباس اغوستل بالتصریح ثابت دی۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ مَيْمُونِ بْنِ أَبِي شَبِيبٍ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْبَسُوا الْبَيَاضَ، فَإِنَّهَا أَطْهَرُ وَأَطْيَبُ، وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ»

سمرة بن جندبؓ فرمائی چې حضورﷺ وفرمائیل چې سپینې کپړے اغوندئ چې دا ډیری پاکې صفا وی او پدی کښ خپلو مړو ته کفن ورکوئ۔

فائده: ډیری پاکې صفا کیدو مطلب دادے چې لګ شان داغ پری ولګی نو محسوسیږی بخلاف د رنګداری کپړے چې په هغې باندی لګ شان داغ کم محسوسیږی۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، قَالَ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ مُصْعَبِ بْنِ شَيْبَةَ، عَنْ صَفِيَّةَ بِنْتِ شَيْبَةَ، عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: «خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ غَدَاةٍ وَعَلَيْهِ مِرْطٌ مِنْ شَعَرٍ أَسْوَدَ»

حضرت عائشةؓ فرمائی چې حضورﷺ یو ځل د مکان نه بهر تشریف ووړو نو په حضورﷺ باندی د تورو ویختو څادر وو۔

حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى قَالَ: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ قَالَ: حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَبِسَ جُبَّةً رُومِيَّةً ضَيِّقَةَ الْكُمَّيْنِ

مغیره ابن شعبهؓ فرمائی چی حضور ﷺ یوه رومی جبه اغوستی وه چی د هغې نستونړی تنګ وو۔

فائده: دا قصه د غزوه تبوک ده ،علماء ددی قسم احدیثو نه استنباط کړے دے چی د کافرانو جوړ شوی څیزونه ناپاکه نه وی تر څو چی په څه خارجی طور باندی د هغې د ناپاکه کیدو یقین نه وی ، ځکه چی په روم کښ تر دغه وخته څوک مسلمانان شوی نه وو او ددوی بنړلی شوی کپړے حضور ﷺ اغوستلی دی۔

د حضور ﷺ د معاش په باره کښ

فائده: دا باب د شمائل په موجوده نسخو کښ دوه ځایه راغلے دے یو ځائے دلته او بل د کتاب په آخر کښ ۔لیکن د دوو ځایو د ذکر کولو څه خاص وجه نشته ددی وجے بعضے نسخو د دواړو بابونو احادیث په یو ځائے جمع کړی دی خو په اکثر نسخو کښ دوه ځایه دی ددی وجے نه دا توجیه کیدے شی چی د امام ترمذیؒ مقصود دلته صرف د تنګۍ بیان دے او هلته چی حضور ﷺ د تنګۍ په حالت کښ چی څه څیزونه استعمال کړی یا نوش فرمائیلی د هغې بیان مقصود دے ،ددی وجے نه دلته ئې صرف دوه حدیثونه ذکر کړی او هلته ډیر۔دا هم ممکن ده چه دلته هغې څیزونو طرفته اشاره وی مقصود وی کوم چی په تیرو حدیثونو کښ ذکر شو لکه زوړ لنګ یا د تنګو نستونړو جبه وغیره کوم چی د عام معمول خلاف وو دا دهغې وخت د عام تنګ حالۍ د وجے وو چی ابتداءً غربت ډیر زیات وو ،پس د ترجمے الفاظ ار چی یو دی خو مقصود جُدا دے۔

امام ترمذی پدی باب کښ دوه حدیثونه ذکر کړی۔

ابن سیرینؒ فرمائی چی مونږ یوه ورځ د ابوهریرهؓ سره وو په هغه باندی یو لنګ او یو څادر وو دواړه د کتان وو چی په سُر بیخن رنګ باندی رنګ شوی وو ،ابوهریرهؓ په هغې باندی پوزه پاکه کړه او بیا ئې وفرمائیل واه واه! نن ابو هریره د بوڅکی په کپړه باندی پوزه پاکوی او یوه هاغه زمانه وه چی زه به د منبر نبوی ﷺ او د عائشےؓ د حجرے درمیان کښ بے هوشه پروت ووم او خلقو به د لیونی په ګمان زما سټ له په خپه زور راکوو حقیقت کښ په ما باندی لیونتوب وغیره هیڅ نه وو خو د زیاتی لوَګی دوجے نه به داسی حالت کیدو۔

فائده: کتان یو عمده قسم کپړه ده ۔صاحب د لغات الصراح لیکلی چی دا یوه باریک قسم کپړه ده چی د وښو د پوست نه جوړیږی او صاحب د محیط اعظم لیکلی چی کتان ته په ہندۍ کښ "السی" وائی د دی د پوستکی نه کپړے بنړلے شی ۔

د ابوهریرهؓ سټ له په خپه باندی زور ورکول په هغه زمانه کښ به لیونو له د علاج دپاره په سټ په خپه زور ورکولے کیدو چی په هوش کښ راشی۔دا حدیث ئې د حضور ﷺ په حالاتو کښ ځکه ذکر کړو چی هر کله د ابوهریرهؓ پشان خواصو خادمانو دا حالت وو نو ددی نه د حضور ﷺ د تنګۍ حالت پخپله معلوم شو چی دا حضرات اہل صفه به د نبی ﷺ میلمانه شمار کیدل او څه چی به راتلل په دوی باندی به

تقسیمیدل۔حضرت ابوهریرهؓ فرمائی چی ما یو پیره د عمرؓ نه د یو آیت متعلق څه تحقیق تپوس وکړو هغوی راته فرمایه زه ورسره روان ووم چی طاقت مې ونه لرلو او بے هوشی ورتاؤ شوم۔

نن ډیر د مسلمانانو د تنگ حالئ غوغا ده او د ډوډئ سوال دومره اهم دے چی ددی په خاطر هر قسم بد دینی اختیارولے شی لیکن آیا ددی حالاتو د سلَمه برخه هم زمونږ حالات شته؟ او دی حضراتو په دومره تکلیفونو کښ هم څه قسم دینی کمزوری برداشت کولے نه شوه۔

مالک ابن دینارؒ فرمائی چی حضور ﷺ نه چرته د ډوډئ او غوښه په مَړه خیټه نده خوړلے مگر په حالت ضفف کښ،مالک ابن دینار فرمائی چی ما د یو بانډچی نه د ضفف تپوس وکړو نو هغه راته ووی چی د خلقو سره ډوډئ خوړلو ته وائی ۔

فائده: د ضفف معنیٰ پته وه لکه چی وس هم اهل لغت په دی کښ مختلف دی ددی وجے نه مالک ابن دینار د یو بانډچی نه تپوس کړے دے ،اجتماعی حالت کښ د مَړے خیټے خوراک معنیٰ بعضو دا بیان کړے ده چی چرته به دعوت وو نو د مَړی خیټے د خوراک موقع به راغله کنی داسی به څه موقع نه راتله۔پدی باندی بعضے علماءو په ډیر زور سره رد کړے دے دوی وائی چی حضور ﷺ ته داسی نسبت کول که چرے دا نسبت نن صبا چاته وکړے شی نو بد ئی گنړی انتهائی بے ادبی ده۔مگر د بنده(حضرت شیخؒ) په نزد په دی کښ څه مانع نشته ، ځکه چی په نن زمانه کښ که دا نسبت چاته وکړے چی خپل کور په مَړه خیټه خوراک نه کوی نو ددی مطلب داوی چی دے بخیل دے،او په هغه زمانه کښ حضور ﷺ ته په داسی نسبت کولو سره داوهم نه راتلو ،ځکه چی د هغے وخت تنگ حالی معلومه ده چی څو څو وخته به مسلسل فاقه وه ۔او ددی سره د حضور ﷺ سخا هم هرچاته معلومه ده چی د چرته نه به هدیه راتله هغه به ئی هم په اصحاب صفه باندی تقسیم کوله۔په داسی حال کښ به د مَړے خیټے خوراک موقع کله راتله،لکن د حدیث شرحه کونکی دے مطلب ته غلط وائی او ددوی وینا دلیل دے ځکه که چرے دا مطلب غلط وی نو الله تعالیٰ دی په خپله مهربانئ سره معاف کړی (اعوذ بالله ان اقول فی حقه ما لایلیق بشانه)

بهر صورت کومو علماءو چی دا مطلب ناخوښه کړے دے هغوی ددی مطلب داسی بیانوی چی حضور ﷺ به په حالت د کوربه والی کښ د میلمه سره په مړه خیټه ډوډئ خوړله چه هسی نه میلمه زر پاسی او وږے پاتی شی ،او په هغه وخت کښ چی د حضور ﷺ به میلمه راغے نو حضور ﷺ به باوجود ددی غربت او تنگئ د میلمه د پاره به ئی فکر کوو او څه به ئی پیدا کول، او کیدے چی د جمعے سره خوراک مراد وی عامه ده خپل کور وی یا د بل چا۔ځکه چی په کومه مجمع کښ به حضور ﷺ وو نو د حضور ﷺ د لاس پورته کوو(خوراک بس کولو) سره د مجمعے لاس وجتول بدیهی خبره ده۔

تنبیه: د حضور ﷺ د ډکے خیټے/مَړے خیټے خوراک چی کوم ځائے راغلی دی ددی نه مراد په ټولو ځایونو کښ د خیټے د دریمے حصے مَړول مراد دی او دا حالت به هم په میلمستیا کښ وو کنی بیخی خیټه ډکول خو په هیڅ حالت کښ نه دی شوی نه په میلمستیا کښ او تنهائی کښ ۔

د حضور ﷺ د موزے په بیان کښ

فائده: حضور ﷺ څو قسمه موزے استعمال کړی دی ،د موزے د آدابو نه څئ موذے اول په خپو کول دی ،د موزه د پښپو کولو نه مخکښ ټکوَخل ،ددی وجه داده چی په معجزات کښ طبرانی د موزے په باره کښ رایت نقل کړے دے حضرت ابن عباسؓ فرمائی چی حضور ﷺ یوه ورځ په ځنګل کښ یو موزه پښپه کړه او د دویمے اراده ئی کوله چی یو کارغه راغی او موزه ئی اوچته کړه بره ئی اوخیژوله او راتاوه ئی کړه ،په هغې کښ یو مار ننوتے وو چی د راتاویدو سره بهر راوؤتو ۔حضور ﷺ د الله تعالیٰ شکر ادا کړو او د موزو د ادابو نه ئی یو قانون بیان کړه چی د هر مسلمان د پاره ضروری دی چی کله د موزے پښپو کولو اراده وکړی نو اول دی څنډی/ټکوَخی۔

> حدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ قَالَ: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ دَلْهَمِ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ حُجَيْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّجَاشِيَّ أَهْدَى لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُفَّيْنِ أَسْوَدَيْنِ سَاذَجَيْنِ، فَلَبِسَهُمَا ثُمَّ تَوَضَّأَ وَمَسَحَ عَلَيْهِمَا

بریدةؓ فرمائی چی نجاشی حضور ﷺ له دوه ساده موزے په هدیه کښ رالیږلی وے حضور ﷺ هغه پښپو کړے او د اودس نه وروستو ئی پرے مسح وکړه۔

فائده: نجاشی به د حبشے د هر بادشاه لقب وو لکه چی "شریف"به د مکے د هر والی لقب وو ،ددی نجاشی نوم **اصحمه** وو دے مسلمان شوے وو علماءو ددی نه استدلال کړے دے چی د کافِر هدیه قبلول جائز دی ځکه چی دے تردے وخته مسلمان شوے نه وو البته بل حدیث کښ د کافر د هدیے نه انکار هم راغلے دے دے وجے نه علماءو دا په مختلف طریقو سره جمع کړی دی۔

> حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَيَّاشٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الشَّعْبِيِّ قَالَ: قَالَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ: «أَهْدَى دِحْيَةُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُفَّيْنِ، فَلَبِسَهُمَا» . وَقَالَ إِسْرَائِيلُ: عَنْ جَابِرٍ، عَنْ عَامِرٍ «وَجُبَّةً فَلَبِسَهُمَا حَتَّى تَخَرَّقَا لَا يَدْرِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَذَكِيٌّ هُمَا أَمْ لَا. قَالَ أَبُو عِيسَى:" وَأَبُو إِسْحَاقَ هَذَا هُوَ أَبُو إِسْحَاقَ الشَّيْبَانِيُّ، وَاسْمُهُ سُلَيْمَانُ

مغیره ابن شعبةؓ فرمائی چی دحیه کلبی دوه موزے حضور ﷺ ته ورکړے وی یو بل روایت کښ د موزو سره د جبے د پیش کولو هم ذکر شته حضور ﷺ به هغه پښپو کولے تردی چی وشلیدی،حضور ﷺ دا تحقیق هم نه وو کړے چی دا د حلال کړے شوی ځناور دی یا د مردار۔

فائده:دی اخیر لفظ نه د احنافو ددی قول تائید کیږی چی د دباغت نه وروستو هره څرمن استعمالول جائز دی که حلال کړے شوے وی او که مردار چی ددی بحث د فقه د کتابونو سره تعلق لری۔

دحضور ﷺ د پائزار مبارک بیان

فائده:په دی باب کښ د حضور ﷺ د پائزار د هیئت/شکل او د هغې د پښپو کولو او ویستلو د طریقې ذکر دے۔د پائزار شریف نقشه او د هغې برکات او فضائل د حکیم الامت اشرف علی تهانویؒ په رساله "زاد السعید"په اخیر کښ تفصیلی ذکر دی که د چا تفصیل مقصود وی هلته دی وګوری،خلاصه دا چی ددی خصوصیتونه بے انتها دی علماءو ددی بارہا تجربے کړیدی د حضور ﷺ زیارت نصیب کیږی د ظالم نه


نجات ملاویږی هر دل عزیزی حاصلیږی غرض په هر مقصد کښ ددی په وسیله کامیابی حاصلیږی،د وسیلے طریقے هم په هغے کښ ذکر دی۔

امام ترمذی په دی باب کښ یوولس حدیثونه نقل کړی دی۔

« حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ قَالَ: قُلْتُ لِأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: كَيْفَ كَانَ نَعْلُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: «لَهُمَا قِبَالَانِ»

قتادهؒ فرمائی چی ما د حضرت انسؓ نه تپوس وکړو چی د حضورﷺ نعل شریف څنګه وو ؟هغوی وفرمائیل چی په هر یو کښ دوه دوه تسمے وے۔

فائده: په عربو کښ به پائزار داسی نه وو لکه څنګه چی دلته په هند کښ متعارف دے بلکه د یو څرمنی په تلی باندی به دوه تسمے وے۔چی نقشه ئی دا ده۔



1نقشه نعل مبارک

« حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ قَالَ: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «كَانَ لِنَعْلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَالَانِ مَثْنِيٌّ شِرَاكُهُمَا»

ابن عباسؓ فرمائی چی د نبیﷺ د نعلینو شریفوینو تسمے دوه جنګے وے۔

فائده: یعنی په هره هره تسمه کښ دوه دوه تسمے وی یعنه هره تسمه دوه وی ،دی حدیث په راویانو کښ یو راوی خالد حذاء دے د حذاء معنیٰ د موچی/چمیار ده۔علماءو لیکلی دی چی دا صاحب موچی نه وو لیکن ناسته پاسته تعلقات ئی د موچیانو سره وو دی وجے نه دده لقب خالد موچی شو او په دی به خلقو پیژندو۔یعنی د کوم خلقو سره چی تعلقات ساتی د هغے ظاهری او باطنی اثر به خامخا رنګ راوړی۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ طَهْمَانَ قَالَ: «أَخْرَجَ إِلَيْنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ نَعْلَيْنِ جَرْدَاوَيْنِ لَهُمَا قِبَالَانِ.» قَالَ: فَحَدَّثَنِي ثَابِتٌ بَعْدُ عَنْ أَنَسٍ أَنَّهُمَا كَانَتَا نَعْلَيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

عیسیٰؒ فرمائی چی ماته انسؓ دوه پائزاره راویستل او وئی خودل راته چی په هغې باندی ویخته نه وو ماته دهغې نه وروستو دا ثابتؒ ووئ چی دا د نبیﷺ نعلین شریفین وو۔

فائده: عربو به بغیر د ویختو لرے کولو نه هم کله کله پائزار جوړوو، راوی ځکه د ویختو خبره وکړه۔

« حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ: حَدَّثَنَا مَالِكٌ قَالَ: حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيُّ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ جُرَيْجٍ، أَنَّهُ قَالَ لِابْنِ عُمَرَ: رَأَيْتُكَ تَلْبَسُ النِّعَالَ السِّبْتِيَّةَ، قَالَ: «إِنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْبَسُ النِّعَالَ الَّتِي لَيْسَ فِيهَا شَعَرٌ، وَيَتَوَضَّأُ فِيهَا، فَأَنَا أُحِبُّ أَنْ أَلْبَسَهَا»

عبید ابن جریجؒ د ابن عمرؓ نه تپوس وکړو چی تاسو د بغیر ویختو څرمنی نه جوړ پائزار پخپو کوئ ددی څه وجه ده؟ دوی فرمائیل چی ما حضورﷺ په داسی پائزار پخپو کولو او په هغې کښې په اودس کولو لیدلے ددی وجے زه داسی پائزار خوښوم۔

فائده: سوال ځکه پیدا شو چی په عربو کښې تر دغې وخت تنعم او تمدن داسی نه وو ځکه سره د ویختو د څرمنې پائزار عام جوړیدو۔ ددی وجے نه د بخاری په مفصل حدیث کښې دی چی عبیدؒ ابن عمرؓ ته ووی چی زه ستاسو په معمولاتو کښې څه دسی څیزونه وینم چی د نورو صحابهؓ په معمولاتو کښې نه وینم یو د هغې نه دا وو چی تاسو د ویختو نه صفا څرمنې پائزار استعمالوئ۔ حضرت ابن عمرؓ د حضورﷺ په انتهائی اتباع کښې ددی هم خیال ساته نورو حضراتو به د عام دستور موافق دغه شان د څرمنې نه جوړوو۔

حدیث کښې په هغې کښې د اودس کولو مطلب دادے چی عربو په پائزار کښې ګوَرت نه وو بس د لاندی تلے او دپاسه تسمه نو اودس پکښې په اسانه کیدے شو او بے تکلفه خپے وینځلے کیدے شوی۔ ددی وجے حضورﷺ به کله کله د تعلیم او جواز د پاره داسی هم کول۔ بعضے علماءو ددی مطلب دا بیان کړے چی د اودس پسے به ئی سمدستی پائزار مبارک پخپو کوو د خپی د وچیدو انتظار به ئی نه کوو دی پاره چی معلومه شی چی په لمدو خپو پائزار پخپو کولو سره په اودس کښې کمے نه رازی۔

حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ صَالِحٍ مَوْلَى التَّوْأَمَةِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «كَانَ لِنَعْلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَالَانِ»

ابو هریرهؓ هم دا فرمائی چی د حضورﷺ د نعلینو شریفینو دوه تسمے وی۔

« حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ السُّدِّيِّ قَالَ: حَدَّثَنِي مَنْ سَمِعَ عَمْرَو بْنَ حُرَيْثٍ يَقُولُ: «رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي نَعْلَيْنِ مَخْصُوفَتَيْنِ»

عمرو ابن حریثؓ فرمائی چی ما حضورﷺ په داسی پائزار کښ په مانځه باندی لیدلے دے چی په هغې پورے دویمے خرمن گنډلے شوی وه۔

فائده:یعنی تلے ئی دوه تخے وے لاندی او باندی دواړه څرمن وه،یا دا مطلب چی د شلیدو په وجه ئی په څرمن کښ پیوند وو۔

» حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ: حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا يَمْشِيَنَّ أَحَدُكُمْ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ، لِيُنْعِلْهُمَا جَمِيعًا أَوْ لِيُحْفِهِمَا جَمِيعًا»

ابوهریرهؓ فرمائی چی په یوه خپه پائزار پخپو دی څوک نه گرزی یا دی دواړه پخپو کړی یا د دواړو اُباسی۔

فائده:دا حدیث په شمائلو کښ د ذکر کولو مطلب دادے چی د حضورﷺ عادت شریف د یوے خپے پائزار پخپو کولو نه وو ،ځکه چی حضورﷺ کله نور منع کوی نو پخپله به پری ولی عمل کوی۔

په ظاهره د حدیث د ممانعت مطلب عادةً داسی کوی دی لهذا که د څه عارض د وجے نه لگ ډیر داسی تللل وشی مثلًا پائزار وشلیگی وغیره نو بیا څه خبره نده۔

ددی حدیث په ذیل کښ علماءو یوه موزه یا یو نستونړے اغوستل هم داخل کړی دی ۔غرض داچی هر څیز په معروفه طریقه اغوستل/پخپو کول پکار دی، د تکلف او بے تمیزئ نه ځان ساتل پکار دی۔

حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى قَالَ: حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ: حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يَأْكُلَ، يَعْنِي الرَّجُلَ، بِشِمَالِهِ، أَوْ يَمْشِيَ فِي نَعْلٍ وَاحِدَةٍ"

حضرت جابرؓ فرمائی چی حضورﷺ دا منع کړی دی چی څوک په گس لاس خوراک وکړی یا یوه خپه باندی پائزار پخپو کړی۔

فائده:جمهورو علماءو په نزد باندی دا ارشادات استحبابی دی یعنی حرام ندی او د بعضی اهل ظواهرو په نزد ناجائز دی۔

» حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ مَالِكٍ، ح وَحَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى قَالَ: حَدَّثَنَا مَعْنٌ قَالَ: حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِذَا انْتَعَلَ أَحَدُكُمْ فَلْيَبْدَأْ بِالْيَمِينِ، وَإِذَا نَزَعَ فَلْيَبْدَأْ بِالشِّمَالِ، فَلْتَكُنِ الْيَمِينُ أَوَّلَهُمَا تُنْعَلُ وَآخِرَهُمَا تُنْزَعُ»

ابوهریرهؓ فرمائی چی حضورﷺ ارشاد وفرمایه چی هر کله په تاسو کښ څوک پائزار پخپو کوی نو اول دی خے پخپو کړی بیا گس او چی کله پائزار اُباسی نو شروع دِ په گس کوی او بیا دی خے اُباسی ،یعنی خے پائزار دی پخپو کولو کښ مخکښ وی او گس دی په ویستلو کښ مخکښ وی۔

فائده: چونکه پائزار د خپو د پاره زینت دے دی وجې نه ډیر وخته پورې په خپو پاتیکیدل پکار دی لکه چې مخکښې تیر شو ۔دغه شان هر هغه شے چې د استعمال زینت وی د هغې په اغوستلو کښې ابتدا د خی نه او په ویستلو کښې ابتداء د گس نه پکار ده لکه قمیص ،پرتوگ ،کوټ وغیر۔

حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ قَالَ: حَدَّثَنَا أَشْعَثُ هُوَ ابْنُ أَبِي الشَّعْثَاءِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ التَّيَمُّنَ مَا اسْتَطَاعَ فِي تَرَجُّلِهِ وَتَنَعُّلِهِ وَطُهُورِهِ»

حضرت عائشةؓ فرمائی چې حضورﷺ به په هر کار کښې خ طرف مخکښې کولو حتی الوسع کوشش کوو تردی چې په سر منگز کولو ،پائزار پخپو کولو د اودس اندامونو وینځلو کښې۔

فائده: ددی درے څیزونو تخصیص نشته بلکه د هر څیز دا حکم دے لکه چې مخکښې تیر شول،او حتی الوسع سره دی طرفته اشاره ده چې که څه ضرورت وی وی د گس اول پخپو کولو نو څه خبره نده۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَرْزُوقٍ أَبُو عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ قَيْسٍ أَبُو مُعَاوِيَةَ قَالَ: حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «كَانَ لِنَعْلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَالَانِ وَأَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ» ، «وَأَوَّلُ مَنْ عَقَدَ عَقْدًا وَاحِدًا عُثْمَانُ»

ابو هریرةؓ فرمائی د حضورﷺ د نعلینو مبارکو دوه تسمے وے دغه شان د ابوبکرؓ او د عمرؓ د پائزار هم دوه دوه تسمے وی،د یوے تسمے ابتداء حضرت عثمانؓ وفرمائیله۔

فائده: غالبًا عثمانؓ په دی وجه وکړه چې چرته دوه تسمے ځوک ضروری ونه گڼړی۔

د حضورﷺ د گوتۍ مبارکې بیان

دی باب کښې امام ترمذیؒ اته احادیث نقل کړی دی۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ وَهْبٍ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: «كَانَ خَاتَمُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ وَرِقٍ، وَكَانَ فَصُّهُ حَبَشِيًّا»

حضرت انسؓ فرمائی چې د حضور گوتۍ مبارکه د سپینو وه او غمے ئی حبشی وو۔

فائده: د سپینو گوتۍ د جمهورو په نزد جائز ده ،باقی پیتل وسپنه د احنافو په نزد ناجائز ده،حضورﷺ ابتداءً گوتۍ نه وه جوړه کړی خو چې کله ورته معلومه شوه د عجمو بادشاهان بغیر مهر نه د خطونو قدر نه کوی او د بادشاهانو طرفته تبلیغی خطونه حضورﷺ شروع کړل نو په سنه ٦ یا ٧ هجری کښې مهر جوړ کړو ۔

په دی کښې د علماءو اختلاف دے چې د گوتۍ حکم څه دے بعضو مطلقًا سنت گرزولی بعضو بغیر د بادشاه او قاضی نه د نورو دپاره مکروه گرزولی۔

دعلماء احناف(کثرالله تعالی جمعهم وشکر سعیهم) تحقیق د شامیؒ د قول موافق دادے چی د بادشاه،قاضی،متولی وغیره چاته چی د مهر ضرورت وی ددی دپاره سنت دہاو ددی نه علاوه ند نورو د پاره جائز ده لیکن ترک (پریخودل) ئی افضل دی ۔

او ددی وجه ظاهره ده چی حضورﷺ هم هغه وخت جوړه کړی وه چی کله د بادشاهانو د خطونو د پاره ددی ضرورت راغ راغلو لکه چی په حدیث نمبر ٦ کښې راروان دی،

ابو داؤد شریف کښ حضورﷺ د بادشاه نه علاوه د نورور دپاره د ګوتۍ ممانعت هم راغلے دے مګر د حضورﷺ د مخے د نورو صحابهؓ نه استعمال هم ثابت دے او د حضورﷺ اجازت هم په بعضو احادیثو کښ شته ددی وجے نه دغه ممانعت په خلاف اولیٰ باندی حمل کړو۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ، فَكَانَ يَخْتِمُ بِهِ وَلَا يَلْبَسُهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: "أَبُو بِشْرٍ اسْمُهُ جَعْفَرُ بْنُ أَبِي وَحْشِيَّةَ

حضرت ابن عمرؓ فرمائی حضورﷺ د سپینو زرو ګوتۍ جوړه کړی وه په هغے باندی به ئی په خطونو وغیره مهر لګوو په ګوته کوله به ئی نه۔

فائده:د حضورﷺ ګوتۍ استعمالول د ډیرو حدیثونونه ثابت دی ددی وجے علماءو د ابن عمرؓ ددی حدیث مختلف توجیهات کړی دی ،

بعضی فرمائی چی مقصود ہمیش والے دے یعنی ہمیشه ئی نه په ګوته کوله، بعضے فرمائی چی د حضورﷺ دوه ګوتۍ وی یوه د مهر دپاره په ګوته کوله به ئی نه او دویمه د عام استعمال د پاره۔ دغه شان نور هم توجیهات دی ،لیکن د بنده(حضرت شیخؒ) په نزد باندی اولیٰ دادے چی ہر وخت به ئی نه په ګوته کوله ۔یو حدیث کښ راغلی دی چی حضورﷺ یوه پیره مونځ کوو او په ګس لاس باندی ئی ګوتۍ وه چی په هغے ئی نظر ولګیدو د هغے نه وروستو ئی په ګوته کول پریخودلی وو۔

په حدیثونو کښ د یو ے رنګداری کپړ ے متعلق هم داسے واقعه راغلی ده چی په مانځه کښ ئی په هغے نظر پریوتو نو حضورﷺ هغه وویسته او د هغے په ځائے ئی یوه معمولی کپړه واغوسته۔ ګوتۍ چونکه د ضرورت څیز وو دی وجے نه بیخی پریخود ئی مشکل وو دی وجے عام طور استعمال ئی پریخودو دا توجیه ډیر ے قریبه ده،او د دویم باب په شپږم حدیث کښ رازی چی اکثر وختونو کښ به د معیقیبؓ سره وه۔

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ: حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ بْنِ عُبَيْدٍ هُوَ الطَّنَافِسِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ أَبُو خَيْثَمَةَ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: «كَانَ خَاتَمُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ فِضَّةٍ فَصُّهُ مِنْهُ»

حضرت انسؓ فرمائی چی د حضورﷺ ګوتۍ د سپینو زرو وه او غمے ئی هم ددی وو۔

فائده:دا حدیث په ظاهره د هغې حدیث مخالف دے کوم کښ چی د حبشی غمے راغلے دے ۔کوم علماء چی ددوؤ ګوتو خبره کوی د هغۍ یو دلیل دا حدیث هم دے لکه چی د بیهقی وغیره هم دا رائے ده د هغے په نزد خو

څه اشکال نشته ،لیکن کوم حضرات چې د یوے ګوتۍ قائل دی هغۍ داسې جمع کوی چې د حبشی کیدو معنیٰ داده چې حبشی رنګ ئې وو یا حبشی طریقه باندی وو یا ئې جوړوونکے حبشی وو۔

د بنده(حضرت شیخؒ) په نزد په تعدد باندی حمل کول ډیر خه دی چې په مختلفو اوقاتو کښې مختلفې ګوتۍ په ډیرو حدیثونو کښې ثابت دی،لکه چې یوه ګوتۍ حضور ﷺ پخپله جوړه کړه بیا ورله خادمانو په هدیه کښې کړه لکه چې په جمع الوسائل کښې مختلف روایاتو نه دا مضمون ثابت دے۔

حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ قَالَ: حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ:" لَمَّا أَرَادَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَكْتُبَ إِلَى الْعَجَمِ قِيلَ لَهُ: إِنَّ الْعَجَمَ لَا يَقْبَلُونَ إِلَّا كِتَابًا عَلَيْهِ خَاتَمٌ، فَاصْطَنَعَ خَاتَمًا فَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى بَيَاضِهِ فِي كَفِّهِ"

دحضرت انسؓ نه روایت دے چې کله حضور ﷺ عجمو ته د خطونو لیږلو اراده وفرمائیله نو تو خلقو عرض وکړه چې عجم بغیر مهر نه خط نه قبلوی ددی وجے نه حضور ﷺ ګوتۍ جوړی کړه چې د هغې سپین والے ګویا نن هم زما د نظر مخکښې دے ۔

فائده: ددی اخیرۍ جملے نه د واقعے د خه یاد کیدو طرفته اشاره ده او د سپین والی نه د ګوتۍ د سپینو زرو کیدو طرفته اشاره ده۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيُّ قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ ثُمَامَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ:" كَانَ نَقْشُ خَاتَمِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مُحَمَّدٌ سَطْرٌ، وَرَسُولٌ سَطْرٌ، وَاللَّهُ سَطْرٌ"

حضرت انسؓ نه روایت دے چې د حضور ﷺ د ګوتۍ نقش "محمد رسول الله" وو ،په داسې طریقه چې محمد په یوه کرخه کښې رسول په بله کرخه کښې الله په بله کرخه کښې، بعضے علماؤ لیکلی دی چې صورت ئې داسې وو چې د الله پاک نوم د پاسه وو ،مګر د محققینو رائے داده چې دا په یو حدیث کښې هم ثابته نده۔ بلکه د ظاهر د داسې معلومیږی ۔

الله
رسول
محمد

محمد
رسول
الله

حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيُّ أَبُو عَمْرٍو قَالَ: حَدَّثَنَا نُوحُ بْنُ قَيْسٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَبَ إِلَى كِسْرَى وَقَيْصَرَ وَالنَّجَاشِيِّ، فَقِيلَ لَهُ: إِنَّهُمْ لَا يَقْبَلُونَ كِتَابًا إِلَّا بِخَاتَمٍ فَصَاغَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا حَلْقَتُهُ فِضَّةٌ، وَنُقِشَ فِيهِ: مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ"

حضرت انسؓ نه روایت دے چې کله حضور ﷺ کسریٰ او قیصر ته د خطونو لیکلو اراده وفرمائیله نو خلقو عرض وکړو حضور! دا خلق بغیر د مهر نه خطونه نه قبلوی ددی وجے حضور ﷺ یو مهر جوړ کړو چې د هے حلقه د سپینو زرو وه او په هغې باندی "محمد رسول الله" لیک وو۔

فائده: کسریٰ د **فارس** ملک د بادشاه لقب وو او قیصر د **روم** ملک او نجاشی د **حبشے** ،د فارس بادشاه کسریٰ ته حضور ﷺ خپله دعوت نامه د عبد الله ابن حذافه سهمیؓ په لاس روانه کړی وه،کسریٰ د

حضورﷺ دعوت نامه ټوټې ټوټې کړه،حضورﷺ چې خبر شو نو خیر ے ئې وکړې چې الله دې دده ملک ټوټې ټوټې کړي ،بس دغه شان وشوه۔

د روم بادشاه ته ئې د دحیه کلبیؓ په لاس خپله دعوت نامه ولیګله هغه باوجود ددې چې په نبوت ئې یقین وو خو ایمان ئې رانه وړو۔

نجاشي ته ئې د عمرو بن امیه ضمريؓ په لاس خط ولیږو لکه چې د مواهب لدنیه وغیره نه معلومیږی ۔دا هغه نجاشي ندے د کوم ذکر چې مخکښ تیر شو په چا چې حضورﷺ د جنازے مونځ کړے وو دا بل نجاشي دے ،دده د اسلام پته معلومه نده لکه چې ملا علی قاريؒ لیکلی دی۔

د حضور اکرمﷺ وعوت نامے خو ډیرے دی چې د سیرت او حدیثو په کتابونو کښ ذکر دی د غه خطونه مبارکه بعضو خلقو په مستقل نصانیفو کښ هم جمع کړي ، دی حدیث کښ د دریو دعوت نامو ذکر دے چې ددی مختصر ذکر مناسب دے ۔

یو خط د کسریٰ په نوم دے د فارس د هر بادشاه لقب کسریٰ وو هر یو چې وی ددی بادشاه نوم "پرویز"وو چې د نوشیروان نوسے وو ۔

خط مضمون دا وو۔

بسم الله الرحمن الرحیم . من محمد رسول الله إلی کسری عظیم فارس . سلام علی من اتبع الهدی وآمن بالله ورسوله ، وشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شریك له وأن محمدا عبده ورسوله ، أدعوك بدعایة الله ، فإني أنا رسول الله إلی الناس كافة لینذر من كان حیا ویحق القول علی الکافرین ، أسلم تسلم ، فإن تولیت فإن علیك إثم المجوس . (زرقاني)

ترجمه: بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ د الله د رسولﷺ د طرف نه د کسریٰ په نوم چې د فارس مشر (سردار) دے،سلامتی د هغغ چا د پاره ده چې خوک هدایت اختیار کړي ایمان راوړي او ددی خبری اقرار وکړي چې د الله وحده لاشریک نه علاوه څوک د عبادت لائق نشته او محمدﷺ د الله بنده او رسول دے ،زه تاته د الله د وینا (کلمے)دعوت درکووم ځکه چې زه د الله هغه رسول یم چې ټول جهان ته ددی دپاره رالیږلے شوے یم چې دغه خلق ویروم د کومو زړونه چې ژوندی دی (یعنی په چا کښ چې څه عقل شته ځکه بے عقله سړے په شان د مړے دے) او ددی دپاره چې د الله حجت په خلقو پوره شي (چې سبا په قیامت کښ ورته دا موقع ملاو نشي چې زه خبر نه ووم)ته اسلام راوړه چې په سلامتیا شي کنی ستا په اتباع کښ به د مجوسو وبال هم په تا باندی وی ځکه دوی ستا په اقتداء کښ ګمراه کیږی،

حضرت عبد الله ابن حذافه ته ئې دا خط حواله کړو او ورته ئې وفرمائیل چې د کسریٰ ګورنر **نرجو** په بحرین کښ ووسی دده په ذریعه دا کسریٰ ته ورسوه په دغه ذریعه هغوی خط ورسوو۔

کسریٰ دغه خط مبارک ولولوو او وائی وریدو بیا ئې ټکړے ټکړے کړو او ورتاؤ ئې کړو ۔

حضورﷺ ته چې ددی علم وشو نو ده ته ئې خیدآرے وکړے ،دده څوی شیرویه دے ډیر په بد طریقه مړ کړو چې قصه ئې د تاریخ په کتابونو کښ شته۔

دویم خط دکوم چی په دی حدیث کښ ذکر دے د قیصر په نوم باندی وو چی دے د روم بادشاه وو ـدده نوم د مؤرخینو په نزد ہرقل دے ـدا خط د دحیه کلبیؓ په لاس لیږلے شوے وو ،دے هم مسلمان نه شو خو د حضورﷺ خط مبارک ئی ډیر په اعزاز سره کیخودو۔حضور ﷺ ته چی کله ددی خبر وشو نو ارشاد ئی وفرمایه چی کسریٰ خپل ملک ټکړے کړو او ہرقل د خپل ملک حفاظت وکړو ـ ددی خط مضمون داسی وو۔

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ـمن محمد عبد الله ورسوله الی ہرقل عظیم الروم۔سلام علی من اتبع الی ھدیٰ ـاما بعد فانی ادعوک بدعایۃ السلام ـاسلم تسلم،یؤتک الله اجرک مرتین فان تولیت فان علیک اثم الیرسین ،ویا اهل الکتاب تعالوا الیٰ کلمۃ سواء بیننا و بینکم ان لا نعبد الا الله ولا نشرک به شیئًا ولایتخذ بعضنا بعضًا اربابًا من دون الله فان تولو فقولو اش ھدوا بانا مسلمون (بخاری اعلام السائلین)

بسۡمِ اللَّهِ الرحمَنِ الرَّحِيمِ د محمدﷺ د طرفنه چی د الله بنده او د هغه رسول دے ہرقل طرفته چی د روم مشر(سردار)دے ـ سلامتی د هغے چا دپاره ده چا چی هدایت اختیار کړو ـحمد سلام نه بعد زه تاته د اسلام د کلمے(لااله الا الله محمد رسول الله) طرفته دعوت درکوم ته اسلام راوړه چی په سلامتیا باندی پاتی شی او الله تعالیٰ تاته دوچنده اجر درکړی (لکه چی د اهل کتابو دپاره دوه چنده اجر دے لکه چی په سورت حدید کښ په آخر کښ ددی ذکر دے) او که ته مخ اړوی نو په تا باندی به ستا د ماتحتو زمیندارو وبال هم وی۔اے اهل کتابو راشئ ! راشئ یو داسی خبری طرفته چی زموږ او تاسو کښ مشترکه ده او هغه توحید دے چی د الله نه سِوا د چا عبادت به نه کوو ،د الله سره به څوک شریک نه جوړوو ، او په مونږ کښ به څوک یو بل د ځان دپاره رب نه جوړوی (لکه چی احبار او رهبان به جوړولے کیدل) ددی نه وروستو که هم اهل کتاب مخ اړوی نو بیا اے مسلمانانو! تاسو دوی ته اعلان وکړئ چی تاسو ددی ګواه شئ چی مونږ مسلمانان یو(مونږ د خپل مسلک اعلام صفا کوو تاسو پوهـ شه او ستاسو کار)

حضرت دحیهؓ چی کله دا خط مبارک ورسوو اود قیصر مخکښ ولوستے شو نو د ده وروره هلته موجود وو هغه ډیر په غصه کښ راغے او وئی وئیل دا خط ماله راکړئ ـقیصر تپوس وکړو ته پری څه کوی ؟ وئی وئیل دا خط د لوستلو قابل ندے ،په دی کښ ستا دنوم نه ابتداء نده کړے شوے ،د خپل نوم نه ئی کړی ده تاته ئی د بادشاه په ځائے د روم مشر لیکلے دے وغیره وغیره۔ قیصر ووئیل ته بے وقوفه ئی دا غواړی چی زه دداسی کس خط وغورزووم د چا خواته چی ناموس اکبر (یعنی جبریلؑ)رازی،که چرے دے نبی وی نو ده له هم داسی لیکل پکار دی ـ دی نه بعد ئی حضرت دحیهؓ ډیر په اعزار او اکرام سره وساتلو۔قیصر دغه وخت په سفر کښ وو د سفر نه وروستو ده خپل ارکان او د سلطنت مشران جمع کړل او وئی وئیل چی تاسو یو داسی خبری طرفته متوجه کووم چی سراسر خیر او کامیابی ده او ہمیشه د پاره ستاسو د ملک د بقا ذریعه ده بے شکه دے نبی دے دده اتباع وکړئ او دده لاس نیوه وکړئ۔ده دا تقریر په داسی ځائے کښ کوو چی دروازی ئی بندی کړی وی ،دا خلق ددی خبری نه دومره ویریدل چی هر طرفته شور زوږ شو یو خوا بل خوا ئی منډے کړی خو دروازے بندی وی ډیر وخته پورے ہنګامه وه دے نه وروستو ده ټول چپ کړل او او تقریر ئی وکړو چی اصل کښ ی د نبوت یو دعوه کونکے پیدا شوے دے نو ما ستاسو امتحان اغیستو چی تاسو په خپل دین کښ څومره کلک ئی وس ماته پته ولګیده ـهغه خلق دده مخے ته د خپل عادت موافق په سجده پریوتل ،ددی نه وروستو ئی دوی له شاباشی ورکړه او رخصت ئی کړل۔

بعضے روایاتو کښې دی چی ده دغه خط خکُل کړو ،په سر ئی کیخود،او د ریخمو په کپړه کښې ئی راغونډ کړو او د ځان سره ئی سنبال کړو او پوپ(د عیسایانو عالم) ئی راوغوښتلو د هغه سره ئی مشوره وکړه هغه ورته ووی چی بیشکه دا نبی آخر الزمان دے د چا زیری چی زمونږ په کتابونو کښې موجود دی ،قیصر ووی ماته هم ددی خبری یقین دے خو که چرے زه مسلمان شوم نو دا خلق به ما قتل کړی او بادشاهی به لاړه شی۔(اعلام السائلین)

کوم وخت چی خط د قیصر خوته ورسیده دغه وخت دے په خپل مذهبی سفر باندی بیت المقدس ته راغلے وو دغلته د مکی مکرمے یوه لویه تجارتی قافله هم تلی وه ده د تحقیق د پاره دد غے قافلے سردار راوبلو چی د هغے قصه په تفصیل سره د بخاری شریف روایت کښې موجوده ده۔دا د هغے زمانے قصه ده چی په صلح حدیبیه کښې د حضورﷺ او د اهل مکه په مینځ کښې د څو کالو دپاره یو عهد نامه تیار شوی وه چی خپل مینځ کښې به جنګ نه کوو۔ابو سفیانؓ چی دغه وخت لا مسلمان شوے نه وو فرمائی چی دغه وخت زه هم شام ته تلے ووم کوم وخت کښې چی د حضور خط مبارک دحیه کلبیؓ هرقل طرفته یوړو۔ هرقل د خلقو نه تپوس وکړو چی په دی علاقه کښې څوک شته ددی نبوت دعویٰ کونکی پیژند ګلو واله شته؟ خلقو ووی آو څه خلق راغلی دی ۔پدی باندی مونږ طلب کړے شو زه د قریشو د څو کسانو سره دده خواته لاړم هغه مونږ د ځان سره کینولو او تپوس ئی وکړو چی په تاسو کښې دغه کس (نبیﷺ) ته په رشته داریٔ کښې څوک نزدی دی؟ ما ووی زه ۔ هغه زه د ځان خواته کړم او باقی کسان ئی زما نه وروستو کینول او هغوی ته ئی ووی زه دده نه سه سوالونه کوم تاسو ورته په غور غوږ کیدئ چی کمه خبره دروغ وکړی تاسو ئی ښکاره کوئ،

ابو سفیانؓ تر دغے وخته مسلمان شوے نه وو او سخت ترین دشمن وو دے وائی چی په خدائے قسم که چرته ددی بدنامیٔ یره نه وے چی خلق به ما په دروغو باندی بدنام کړی(یعنی دروغ به مِ ښکاره کړی) نو ما به خوامخوا دروغ وئیلے وے ،مګر د بدنامیٔ یرے په رشیاؤ باندی مجبوره کړم ۔ددی نه بعد هغه د خپل ترجمان په ذریعه زمانه څه تپوسونه وکړل۔

سوال:د نبوت دا دعوه دار د نسب په اعتبار سره په تاسو کښې څنګه سړے دے؟

جواب: په مونږ کښې لوے اوچت نسب واله دے۔

سوال:دده په مشرانو کښې څوک بادشاه تیر شوے؟

جواب:څوک نه۔

سوال: دده تابع داری کونکی خلق لوئے خاندان واله دی کنه معمولی درجے واله؟

جواب:د معمولی درجے خلق۔

سوال:دده تابعداری کونکی کمیږی که زیاتیږی؟

جواب: زیاتیږی۔

سوال:دده په دین کښې د داخلیدو نه بعد څوک په خفګان دده د دین نه واپس کیږی هم که نه؟

جواب:نه۔

سوال:ستاسو دده سره چرته جنګ شوے دے؟

جواب:او شوے دے۔

سوال:د جنګ حالات څنګه وی(تاسو ګټه کوئ که هغوی)؟

جواب: کله هغوی غالب وی کله مونږ۔

سوال:هغه چرته وعده خلافی کوی؟

جواب:نه۔خو نن صبا ورسره زمونږ یوه معاهده ده نده معلومه چی پوره کوی به ئی کنه۔ ابوسفیان وائی چی ماته ددی خبری نه علاوه د بلی خبری موقع ملاؤ نه شوه چی د ځان نه مِ سوا کړے وے۔

سوال: دده نه مخکښ چا د نبوت دعوی کړی؟

جواب:نه۔

بعضو روپاتو کښ دی چی هرقل تپوس وکړو چی د بد عهدئ یره درسره ولی ده؟ ابو سفیان ووی چی زما قوم د خپلو حلیفو سره د هغوی د حلیفو خلاف مدد کړے دے۔په دی باندی هرقل ووی چی کله تاسو شروع وکړه نو تاسو ډیر بد عهده شوئ۔ددی نه بعد هرقل بیا خبره د سر نه شروع کړه او وئی وئیل : ما ستا نه د نسب تپوس وکړو تا ووی عالی نسب واله دے ۔انبیاءؑ په عالی نسب کښ پیدا کیږی ما ووی چی د هغه په مشرانو کښ څوک بادشاه وو نا ووی نه۔زما خیال چی شاید پدی بهانه باندی بادشاهت واپس اغیستل غواړی۔ما د هغه د متبعینو تپوس وکړو چی شریف خلق دی که کمزوری تا جواب راکړو چی کمزوری ،د انبیاءو متبعین ہمیشه کمزوری خلق وی(چی شریفان خلق خپل نخوت ددی نه منع کوی)ما سوال وکو چی ددی دعویٰ نه مخکښ تاسو د دروغ ګوئی الزام په ده باندی لګوو کنه؟تا انکار وکړو ۔ما دا کنړل چی کیدے شی د خلقو متعلق په دروغو دروغو ئی په الله هم دروغ شروع کړی وی (مګر څوک چی په خلقو باندی دروغ نه وائی نو دے به په الله باندی څنګه دروغ ووائی) ما سوال وکړو چی دده په دین کښ څوک داخل شی نو په خفګان سره بیا مرتد کیږی؟ تا انکار وکړو ۔د ایمان دا خاصیت دے چی کله دده بشاشت زړونو کښ ننوزی۔ما تپوس وکړو چی دده خلق سوا کیږی که کمیږی؟ تا ووی سوا کیږی د ایمان خاصه داده تردی چی تکمیل وشی۔ما د هغه سره د جنګ باره کښ تپوس وکړو تا ووی کله مونږ غالب کله هغه ۔د انبیاءؑ سره ہمیشه دا معامله وی خو خه انجام ددی وی ۔ ما د بد عهدئ باری کښ تپوس وکړو ،تا انکار وکړو۔دا د انبیاءو صفت وی چی بد عهد نه وی ،ما ووی دده نه مخکښ چا د نبوت دعویٰ کړی ده؟ تا انکار وکړو ،زما دا خیال وو که چری دده د مخکښ چا دا دعویٰ کړی وی نو دے هم دهغه تقلید کوی۔ددی نه بعد هرقل خلقو ته ووی دهغه تعلیمات څه دی ؟خلقو ووی د مونځ کولو،صدقه کولو،صله رحمی کولو،عفت او پاکدامنئ حکم کوی ۔

هرقل ووی که دا خبری رشتیا وی کومی چی تاسو وکړی نو بے شکه چی دے نبی دے۔زما دا یقین وو چی هغه به نزدے وخت کښ پیدا کیږی خو دا خیال مِ نه وو چی په تاسو کښ به وی ۔ که چری زما دا یقین وے چی

زه د هغه خواته رسیدے شم نو ما به د هغه سره د ملاویدو خواہش کړے وو(لیکن د مرګ او د بادشاهۍ د تلو د وجے نه تلے نشم) او که زه د هغه خواته وے نو ما به ورله خپی وینځلی وی ۔بیشکه د هغه بادشاهه دلته رارسیدونکی ده کوم ځائے چی زه یم۔د هرقل نورے هم ذکر دی ۔دے د خپل کتاب هم ماهر وو او د نجوم هم ماهر وو ددی وجے نه دته د مخکښ نه داسی خیالات راتلل او تحقیقات به ئی کول۔په بعضے روایاتو کښ دا هم راغلی دی چی ده دغه خط ډیر په احتیاط سره په یو صندق کښ د سرو زرو په یو بلکه کښ محفوظ ایخے وو چی چی هغه نسل در نسل دده په اولاد کښ رامنتقل شو۔

دریم خط د کوم چی په بره حدیث کښ ذکر دے د نجاشی په نوم باندی وو،دا خو معلومه شوی ده چی د حبشے د بادشاه نوم به نجاشی وو۔ دحضورﷺ په زمانه کښ په حبشه کښ دوه بادشاهان تیر شوی دی ،د اولنی نوم اصحمه وو دے مسلمان شوے وو ۔د اسلام په ابتداء کښ صحابہؓ د حبشے سلطنت ته په هغے وخت کښ هجرت کړے وو چی دے لا مسلمان شوے نه وو چی دده قصه په حکایات صحابه کښ په ۱۰ نمبر باب کښ مختصرًا تیره شوی ده۔

حضورﷺ د عمرو ابن امیه ضمریؓ په لاس باندی ده ته هم خط لیږلے وو چی مضمون ئی دا وو۔

بسم الله الرحمن الرحيم . من محمد رسول الله إلى النجاشي ملك الحبشة ، سلمٌ أنت فإني أحمد إليك الله الذي لا إله إلا هو الملك القدوس السلام المؤمن المهيمن ، وأشهد أن عيسى بن مريم روح الله وكلمته ألقاها إلى مريم البتول الطيبة الحصينة فحملت به فخلقه من روحه ونفخه كما خلق آدم بيده ، وإني أدعوك إلى الله وحده لا شريك له والموالاة على طاعته وإن تتبعني وتؤمن بالذي جاءني فإني رسول الله وإني أدعوك وجنودك إلى الله عزوجل وقد بلغت ونصحت فاقبلوا نصيحتي . والسلام على الهدى .

ترجمه:بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ د الله د رسول محمدﷺ د طرفنه د حبشے بادشاه نجاشی په نوم۔ته صلح خوشوی زه د هغے الله تعریف تاسو ته دررسوم د چا نه علاوه چی بل معبود نشته هغه بادشاه دے د ټولو عیبونو نه پاک دے د ہر قسم عیب نه محفوظ دے (یا بندګان د هغه د ظلم نه محفوظ دی)امن ورکوونکے دے نګهبان دے(چی د بندګانو د آفاتو نه حفاظت کوی)او زه ددی اقرار کووم چی حضرت عیسیٰؑ د الله هغه روح او هغه کلمه وه چی الله جل شانه هغه پاک صاف پیغلے مریم طرفته راولیږو پس هغه حامله شوه،الله تعالیٰ حضرت عیسیٰؑ الله تعالیٰ د خپل خاص روح نه پیدا کړو او په هغه کښ ئی ساه ورواچوو لکه څنګه چی ئی حضرت آدمؑ (بغیر د پلار نه) په خپل لاس مبارک سره پیدا کړو۔زه تا د هغے ذات طرفته رابلم او دی خبری طرفته تاسو رابلم چی تاسو زما اتباع وکړئ او کوم شریعت چی ماراوړے دے په دی ایمان راوړئ۔ بے شکه زه د الله رسول یم او الله طرفته تاسو او ستاسو ټول لښکر رابلم ،ما حقه خبره تاسو ته درورسوله او نصیحت مِ وکړو ته زما نصیحت قبول کړه، او سلام (یا سلامتیا)په هغے چا باندی ده څوک چی د هدایت اتباع کوی۔

د محدثینو دیو جماعت دا تحقیق دے چی دا نجاشی د مخکښ نه مسلمان شوے وو ۔په دی خط باندی ئی د خپل اسلام اظهار وکړو ،او بعضے خلق وائی چی دغه وخت مسلمان شو،بهر حال ده ددی خط په جواب کښ یو درخواست ولیکلو چی په هغے کښ ئی د خپل ایمان اقرار وکړو ،او ددی خبری اقرار ئی وکړو چی تا د عیسیٰؑ په باره کښ کوم څه لیکلی ټکی په ټکی صحیح دی او د خپل ځوی په لاس باندی ئی د شپیتؤ کسانو د یو جماعت سره هغه درخواست د حضورﷺ خدمت ته راولیږلو ،مګر افسوس چی په لاره

کښې دغه قافله په کشتۍ کښې په سمندر کښې ډوبه شوله او په دوی کښې څوک هم د حضورﷺ خدمت ته حاضر نه شو ،پخپله د نجاشي وصال هم د حضورﷺ ژوند کښې شوے وو او حضورﷺ غائبانه دده جنازه کړې وه(غائبانه جنازه کول يو فقهي بحث دے ددې ځائے ندے په ډيرو وجو سره د احنافوؒ په نزد باندې دده خصوصيت وو)دده نه وروستو بل نجاشي شو او هغه ته هم حضورﷺ خط ليږلے وو چې مضمون ئې دا دے۔

هذا كتاب من النبيﷺ الى النجاشي عظيم الحبشة۔سلام على من اتبع الهدىٰ و آمن بالله ورسوله وشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له ، لم يتخذ صاحبة ولا ولداً وأن محمدا عبده ورسوله وأدعوك بدعاية الله فإني أنا رسوله فأسلم تسلم ،يا أهل الكتاب تعالوا إلى كلمة سواء بيننا وبينكم أن لا نعبد إلا الله ولا نشرك به شيئا ولا يتخذ بعضنا بعضاً أربابا من دون الله ، فإن تولوا فقولوا اشهدوا بأنا مسلمون ، فان أبيت فعليك إثم النصارى .

ترجمه:دا خط الله د نبی محمدﷺ د طرفنه د نجاشي په نوم باندې چې د حبشے مشر او سردار دے سلام د وی په هغه چې د هدايت تابعداری کوی او په الله او دهغه په نبی ايمان ساتی او ددې اقرار کوی چې د الله نه علاوه څوک د عبادت لائق نشته هغه يواځے ذات دےنه څوک د هغه شريک شته نه ښځه نه اولاد ۔او ددې اقرار کوی چه محمد ﷺ د الله رسول او بنده دے زه د الله د وينا يعنی د لااله الا الله محمد رسول الله تاته دعوت درکوم ،مسلمان شه په سلامتيا به وسيږې اے اهل کتابو راشئ يوی داسے خبری طرفته چې زمونږ مينځ کښې شريکه ده ،هغه دا چې د الله نه سوا به د هيڅ چا عبادت نه کوو د الله سره به څوک شريک نه جوړوو ،او مونږ کښې به څوک يو بل نه رب نه جوړوی ،که ددې نه بعد هم اهل کتاب نه منی نو مسلمانانو! تاسو ووائی چې تاسو ګواه وسئ چې مونږمسلمانان يو (ږے باکه د خپل ايمان اعلان کوو) اے نجاشي! که چرې ته زما د دعوت نه انکار کوی نو د نصاریٰ ګناه به هم پتا وی (ځکه چې دوی ستا متبع دی) فقط۔

په دی خط کښې به د معمول مطابق غالبًا بسم الله هم وی خو دکوم ځائے نه چې ما نقل کړے دے په هغے کښې نشته ۔ددې نجاشي متعلق دا خبره نده ثابته شوی چې دے مسلمان شوے وو کنه؟ او دده نوم څه وو۔د اکثرو محدثينو رائے داده چې بره حديث کښې چې کوم دريم خط د نجاشي په نوم راغلے دے دا هغه نجاشي دے، لکه چې په بعضو رواياتو د نجاشي د نوم سره دا هم دی چې دا هغه نجاشي ندے دکوم جنازه چې حضورﷺ کړې وه او دا صحيح دے، اګر چې بعضے محدثينو صرف د اولنی خط ذکر کړے دے او بعضے صرف د دويم۔

حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ قَالَ: حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَامِرٍ، وَالْحَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ، عَنْ هَمَّامٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ نَزَعَ خَاتَمَهُ"

حضرت انسؓ فرمائی چې حضورﷺ چې به کله بيت الخلاء ته تشريف وړو نو خپله ګوتۍ به ئې وويستله۔

فائده:چونکه په دی باندې د الله جل شانه عم نواله نوم مبارک ليک وو ددی وجے نه حضورﷺ د هغے په لاس استنجا ته نه ورتلو ،ددی وجے نه علماء دداسی ګوتۍ سره بيت الخلاء ته تلل مکروه ګنړلی دی په کومه کښې چې برکت والا نوم وی

حدثنا اسحاق ابن منصور، اخبرنا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ:" اتَّخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا مِنْ وَرِقٍ، فَكَانَ فِي يَدِهِ ثُمَّ كَانَ فِي يَدِ أَبِي بَكْرٍ، وَيَدِ عُمَرَ، ثُمَّ كَانَ فِي يَدِ عُثْمَانَ، حَتَّى وَقَعَ فِي بِئْرِ أَرِيسٍ نَقْشُهُ: مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ"

ابن عمرؓ فرمائی چی د حضورﷺ گوتۍ د حضورﷺ په لاس مبارک باندی وه،بیا د حضرت ابوبکرؓ په لاس باندی وه،بیا د عمرؓ په لاس مبارک باندی وه،بیا د عثمانؓ په لاس بیا ددوی په زمانه کښ په بیر آریس کښ ورتاوه شوی وه۔ دد غې گوتۍ نقش (محمد رسول الله) وو۔

فائده: بیر آریس د قبا نزدے یو کوهے دے،دا گوتۍ د عثمانؓ په زمانه کښ شپږ کالو پوری وه بیا اتفاقًا په دغه کوهی کښ وغورزیده ،حضرت عثمانؓ ہر خومره کوشش وکړو دری ورځو پوری دهغې اوبه راویستلی خو ملاو نه شوه۔علماء لیکلی دی چی ددی د ورتاویدو سره فتنې او حوادث شروع شول چی د حضرت عثمانؓ په زمانه کښ په کثرت سره ښکاره شوی۔

په دی حدیث کښ حضرت ابن عمرؓ پخپله د حضورﷺ په لاس مبارک باندی د موجودیدو بیان کړے دےاو په دی باب کښ په بل حدیث کښ پخپله د گوتۍ په گوته کولو نفی هم کړے ده چی بیان ئې مخکښ شوے دے، ددی تعارض یو خاص جواب داسی هم کیدے شي چی د حضورﷺ په لاس کیدو مطلب دادے چی د حضورﷺ په قبضه کښ به وه د حضورﷺ سره به وه،په لاس کول ددی سره لازم ندی،لکه چی په آئنده باب کښ رازی چی د حضرت معیقیبؓ سره به وه۔

باب ما جاء ان النبیﷺ کان یتختم فی یمینه

فائده: په اول باب کښ مصنفؒ د گوتۍ کیفیت بیان کړو په دی باب کښ د هغې د پلاس کولوکیفیت بیان مقصود دے مصنفؒ په دی باب کښ نهه احادیث ذکر کړی دی۔

"حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَهْلِ بْنِ عَسْكَرٍ الْبَغْدَادِيُّ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَا: أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ حَسَّانَ قَالَ: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ، عَنْ شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حُنَيْنٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَلْبَسُ خَاتَمَهُ فِي يَمِينِهِ

حضرت علیؓ فرمائی چی حضورﷺ گوتۍ په خی لاس باندی پلاس کوله۔

فائده: په دی باره کښ مختلف روایات راغلی دی چی حضورﷺ به گوتۍ په خی لاس باندی پلاس کوله که په گس،بعضی علماء په دی کښ ترجیح طرفته مائل شوی دی ،لکه چی امام بخاریؒ او امام ترمذیؒ وغیره رائے داده چی د خی لاس روایات راجح دی ،بعضی علماء فرمائی چی اکثر به ئې په خی لاس باندی په لاس کوله او کله کله به ئې په گس لاس ،علماء په دی کښ مختلف دی چی په خی لاس باندی په لاس کول افضل دی او که په گس لاس ،پخپله د احنافو په مینځ کښ په دی باره کښ اختلاف دے بعضے خے لاس بهتر گرزولے دے او بعضو گس او بعضو مساوی۔شامی هم دا دوه قوله نقل کړی دی ۔

ملا علی قاریؒ یو قول د خی لاس افضل گرزولے دے لیکن د مذهب مطابق راجح قول هغه دے کوم چی شامی نقل کړے دے ـ امام نوویؒ په دواړه لاسو په لاس کولو باندی بلا کراهت اجماع نقل کړی ده ،مالکیهؒ په گس لاس باندی په لاس کول بهتر وائی ،الغرض احادیثو نه دواړه ثابت دی ،او علماء هم د ترجیح په مسئله کښ دواړو طرفته تلی دی۔

در مختار کښ د قهستانیؒ نه نقل دی چی په خی لاس باندی په لاس کول د روافضو شعار گرزیدلے لهذا ددی نه بچاؤ واجب دے ـصاحب در مختار فرمائی چی ممکن ده چی په دغه زمانه کښ ددی شعار وو وس نه دے۔ د حضرت گنگوهیؒ نه په کوکب دری کښ نقل شوی دی چی په خی لاس باندی په لاس کول د روافضو شعار دے ځکه مکروه دی۔سهارنپوریؒ په بذل المجهود کښ لیکلی دی چی د روافضو په کفر کښ اگر چی اختلاف دے لیکن په فاسق کیدو کښ د چا اختلاف نشته او د فاسقانو سره د تشبیه نه هم بچاؤ ضروری دے

نحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى قَالَ: حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بِلَالٍ، عَنْ شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ، نَحْوَهُ

» حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ: حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ قَالَ: رَأَيْتُ ابْنَ أَبِي رَافِعٍ، يَتَخَتَّمُ فِي يَمِينِهِ فَسَأَلْتُهُ عَنْ ذَلِكَ فَقَالَ: رَأَيْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ جَعْفَرٍ يَتَخَتَّمُ فِي يَمِينِهِ، وَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَتَّمُ فِي يَمِينِهِ

حماد ابن سلمهؒ فرمائی چی ما عبد الرحمٰن ابن ابی رافع ولیدو چی په خی لاس باندی ئی گوتۍ په لاس کړی وه،ما تری د وجے تپوس وکړو نو وئی فرمائیل چی ما عبد الله ابن جعفرؓ په خی لاس گوتۍ په لاسولو لیدلے دے او دا ئی فرمائیل چی ما حضور ﷺ په خی لاس باندی گوتۍ په لاس کولو لیدلے دے۔

» حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْفَضْلِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَخَتَّمُ فِي يَمِينِهِ»

د عبد الله ابن جعفرؓ نه په بل سند سره هم دا نقل دی حضور ﷺ به په خی لاس باندی گوتۍ په لاس کوله۔

فائده: یو حدیث کښ ورسره دا الفاظ هم راغلی دی چی زینت د خی لاس سره ډیر مناسب دے ،ددی وجے حافظ ابن حجر چی د فنِ حدیث امام دے فرمائی چی ماته چی د احدیثو نه کومه واضحه شوی ده هغه داده چی که د زینت اراده وی نو په خی لاس په لاس کول مناسب دی او که د مهر اراده وی نو په گس لاس چی په خی لاس راویستلو او مهر لگولو کښ به ورته اسانی وی ـ او په احادیثو کښ په دواړه لاسه ورچول راغلی دی۔

» حَدَّثَنَا أَبُو الْخَطَّابِ زِيَادُ بْنُ يَحْيَى قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَيْمُونٍ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَخَتَّمُ فِي يَمِينِهِ»

حضرت جابر ابن عبد اللہؓ فرمائی چی حضور ﷺ به په خی لاس باندی گوتۍ اچوله۔

» حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ الرَّازِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنِ الصَّلْتِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: كَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ، يَتَخَتَّمُ فِي يَمِينِهِ وَلَا إِخَالُهُ إِلَّا قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَتَّمُ فِي يَمِينِهِ»

صلت ابن عبد اللہؓ فرمائی چی ابن عباسؓ به په خی لاس باندی گوتۍ پلاسوله او زما چی ښومره خیال دے نو فرمائیل به ئی چی نبیﷺ به هم په خی لاس باندی پلاسوله۔

فائده:امام ترمذیؒ دا حدیث مختصر نقل کړے دے،په ابو داؤد شریف کښ لګ تفصیل دے ۔ابن اسحاق فرمائی چی ما صلتؒ ولیده چی د خی لاس په وړه ګوته(کومی ته چی کچڼ/یا خنجه ګوته هم وائی) ګوتۍ په لاس کړی ولیدو،ما تری د هغې متعلق تپوس وکړو نو هغه ووی چی ما ابن عباسؓ داسی لیدلے وو او غمے ئی د پاسه کړے وو او زما چی ښومره خیال دے نو د حضور ﷺ متعلق ئی هم داسی فرمائیل چی حضور ﷺ هم داسی په لاس کوله، په دی حدیث کښ دوه مضمونه دی ۔

۱ ۔غمے ئی د پاسه راوستے وو: بذل المجهود کښ د مرقاة الصعود مه نقل کړی چی غمے د لاس تلی طرفته راوستل ډیر صحیح دی او په اکثر روایاتو کښ راغلی دی ،لکه چی په شمائلو کښ هم په راتلونکی حدیث کښ رازی۔**علامه مناویؒ** لیکلی چی دا افضل دی په دی کښ د غمی هم حفاظت دے او د عجب او تکبر نه هم ۔

۲۔دویم مضمون :چی ګوتۍ په وړه ګوته باندی په لاس کول امام نووی ددی په سنت کیدو باندی اجماع نقل کړی ده،علامه شامی لیکلی چی ګوتۍ په دی ګوته په اچول پکار دی،او غمے د نارینو دپاره منګول طرفته کول او د زنانؤ د پاسه طرفته کول د زینت دپاره پکار دی۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي عُمَرَ قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ مُوسَى، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّخَذَ خَاتَمًا مِنْ فِضَّةٍ، وَجَعَلَ فَصَّهُ مِمَّا يَلِي كَفَّهُ، وَنَقَشَ فِيهِ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ، وَنَهَى أَنْ يَنْقُشَ أَحَدٌ عَلَيْهِ» وَهُوَ الَّذِي سَقَطَ مِنْ مُعَيْقِيبٍ فِي بِئْرِ أَرِيسٍ

ابن عمرؓ فرمائیئ چی حضور ﷺ د سپینو زرو یوه ګوتۍ جوړه کړه او ددی غمے به منګول طرفته وو په دی باندی (محمد رسول الله) نقش وو،او خلق ئی منع کړے وو چی ښوک به په ګوتۍ باندی داسی نقش نه کوی ،دا هغه ګوتۍ وی چی د معیقب نه د حضرت عثمانؓ په زمانه کښ په بیر اریس کښ پریوتی وه۔

فائده:حضور ﷺ نور خلق ددی نه ځکپه منع کړی وو چی که چری صحابه د ډیر اتباع د وجے نه داسی نقش جوړ کړی نو بیا به د حضور ﷺ سره د نورو مهر ګډ وډ کیږی۔

معیقیبؓ یو صحابی دے چی د حضورﷺ د زمانے نه د ګوتۍ محافظ وو ،کوم وخت کښ چی حضورﷺ ګوتۍ اچولی نه وه نو دا به د معیقیبؓ سره محفوظه وه،دغه شان بیاد ابوبکرؓ په دور کښ بیا د عمرؓ په دور بیا د عثمانؓ په دور کښ هم دا ترتیب وو،دغه دوران کښ یو ځل ده د عثمانؓ نه اغیستله یا ئی عثمانؓ له ورکوله چی دغه دوران کښ کوهی کښ وغورزیده۔په دی کښ اختلاف دے چی د عثمانؓ نه وغورزیده که د معیقیبؓ نه ،علماء د جمع دا صورت فرمائیلے دے چی کوم بیان شو،په دی صورت کښ دواړه روایتونه صحیح دی ځکه چی درمیان کښ غورزیدو سره دواړو ته نسبت کول ټیک دی۔

حدثنا قتیبه ابن سعید قال حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: «كَانَ الْحَسَنُ وَالْحُسَيْنُ يَتَخَتَّمَانِ فِي يَسَارِهِمَا»

امام محمد باقرؒ فرمائی چی حضرت امام حسنؓ او حضرت امام حسینؓ به په ګس لاس باندی ګوتۍ په لاس کولی۔

فائده:دا حدیث د امام ترمذی د باب د سرخۍ خلاف دے ځکه چی باب د خی لاس په باره کښ دے ،ددی توجیه داسی کیدے شی چی مقصود ددی قسم روایاتو د نقل کولو نه چی د باب اکثر رویات ددی خلاف وی ددغے حدیث ضعف طرفته اشاره وی ،

د بنده(حضرت شیخؒ) په نزد په باب کښ د خی لاس قید لګول د بیان افضلیت د پاره دے او خلاف نوعی والا حدیث د بیان جواز دپاره دے۔ بعض مشران دا هم توجیه کوی چی په سرخۍ(ترجمة الباب) کښ د محدثینو د عادت موافق (ام فی یساره) محذوف دے ،یعنی حضور ګوتۍ په خی لاس اچوله که په ګس لاس۔ ددی توجیه سره یو روایت هم د ترجمے مخالف نه شو۔

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى وَهُوَ ابْنُ الطَّبَّاعِ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ الْعَوَّامِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: «أَنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَخَتَّمُ فِي يَمِينِهِ» وَقَالَ أَبُو عِيسَى: «هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ هَذَا إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ» وَرَوَى بَعْضُ أَصْحَابِ قَتَادَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «أَنَّهُ كَانَ يَتَخَتَّمُ فِي يَسَارِهِ» وَهُوَ حَدِيثٌ لَا يَصِحُّ أَيْضًا"

حضرت انسؓ نه روایت دے چی حضور به په خی لاس باندی ګوتۍ اچوله او د انسؓ نه بعضے خلقو دا هم روایت کړی چی حضورﷺ به په ګس لاس ګوتۍ اچوله۔

فائده:دا امام ترمذیؒ تحقیق دادے چی دا دواړه روایات صحیح ندی ،چی ددی مطلب دا شو چی د انسؓ په حدیث کښ د لاس تعین نشته ،داد محدثیثو انتهائی احتیاط دے چی دوی د حدیثو په هره هره ټوټه ژور نظر ساتی چی په کون حدیث کښ کوم مضمون صحیح دے دے او کوم داسی دے چی په دی حدیث کښ صحیح ندے،په نورو حدیثو کښ اګر چی صحیح ثابت وی۔

دا هغه څیز دے چی ددی په وجه تر وسه پوری د حدیث شریف علم په ډیر پوخوالی او نورانیت سره په دنیا کښ خور شوے دے ،د حضورﷺ ګوتۍ په خی او ګس لاس باندی په ډیرو حدیثونو کښ ثابت دی،د خی لاس روایات په دی باب کښ ذکر شو او د ګس لاس رویات هم په ابوداؤد او مسلم شریف وغیره کښ

شته ، دی وجے نه امام نووی دواړه رویتونه صحیح ګرزولی دی ،لیکن د محدثیون دا قاعده ده چی ددی باوجود چی متن به صحیح وی خو چی په که په یو خاص طریقے سره د محدثینو د قواعدو موافق صحیح نه وی نو په دغه خاصه طریقه باندی کلام کوی ،ددی وجے نه امام ترمذیؒ کلام وکړو۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ الْمُحَارِبِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: اتَّخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمًا مِنْ ذَهَبٍ، فَكَانَ يَلْبَسُهُ فِي يَمِينِهِ، فَاتَّخَذَ النَّاسُ خَوَاتِيمَ مِنْ ذَهَبٍ فَطَرَحَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ: «لَا أَلْبَسُهُ أَبَدًا» فَطَرَحَ النَّاسُ خَوَاتِيمَهُمْ

حضرت ابن عمرؓ فرمائی چی حضورﷺ د سرو زرو ګوتۍ جوړه کړه چی په خی لاس به ئی اچوله،صحابهؓ هم د تابعدارئ په وجه د سرو زرو ګوتۍ جوړی کړی حضورﷺ ددی نه بعد هغه وغورزوله او وئی فرمائیل چی دا به کله هم وا نه چوم۔

فائده:سره زر د اسلام په ابتداء کښ جائز وو ،بیا د سړو دپاره حرام شول ۔ددی په د جمهورو اتفاق دے ۔امام نووی ددی په حرمت باندی اجماع نقل کړی ده ،دی مسئله کښ فقهی بحث ډیر دے دا محل ئی ندے۔

باب ما جاء فی صفة سیف رسول اللهﷺ

علماء فرمائی چی امام ترمذیؒ د ګوتۍ د باب نه بعد دا ځکه ذکر کړو چی حقیقة ددی نه یو خاص نظام العمل او دستورالسلطنت طرفته اشاره ده ،چی اول دی تبلیغی خطونه بادشاهانو ته ولیږل شی که مسلمانان شی نو د دنیا او اخرت د فائدو خو مالکان دی او که نه بیا توره۔

د حضورﷺ سره څه توری وی چی د هغوی خاص نومونه وو ،د ټولو نه اول توره ماثور وه چی په وراثت کښ د حضورﷺ د والد صاحب نه پاتی وه ،د یوی نوم قضیب د یوی نوم قلعی د یوی نوم کابتار د یوی نوم ذولفقار وو وغیره وغیره۔

امام ترمذیؒ په دی ځائے کښ څلور احادیث نقل کړی۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ قَالَ: «كَانَتْ قَبِيعَةُ سَيْفِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ فِضَّةٍ

حضرت انسؓ فرمائی چی د حضورﷺ د توری د لاسکی موټے د سپینو زرو وه۔
فائده:علامه بیجوریؒ لیکی چی دا د ذوالفقار بیان دے ،او فتح مکه کښ د حضورﷺ سره دا توره وه۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي الْحَسَنِ قَالَ: «كَانَتْ قَبِيعَةُ سَيْفِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ فِضَّةٍ «

سعید ابن ابی الحسنؒ هم دا نقل کړی دی چی د حضورﷺ د توری لاسکے د سپینو زرو وو۔

حَدَّثَنَا أَبُو جَعْفَرٍ مُحَمَّدُ بْنُ صُدْرَانَ الْبَصْرِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا طَالِبُ بْنُ حُجَيْرٍ، عَنْ هُودٍ وَهُوَ ابْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ جَدِّهِ قَالَ: «دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ يَوْمَ الْفَتْحِ وَعَلَى سَيْفِهِ ذَهَبٌ وَفِضَّةٌ «قَالَ طَالِبٌ: فَسَأَلْتُهُ عَنِ الْفِضَّةِ فَقَالَ: «كَانَتْ قَبِيعَةُ السَّيْفِ فِضَّةً

د هود بابا مزيده فرمائي چې حضورﷺ چې کله د فتح مکې په ورځ مکې ښار ته داخل شو نو په توره باندی ئی سپين زر او سره زر وو۔ طالب چې ددی حديث يو راوی دے فرمائي چې ما د خپل استاذ نه تپوس وکړو چې سپين زر کوم ځائے وو هغه وفرمائيل چې د لاسکی په موټی کښې۔

فائده:په توره باندی سره زر لګول د جمهورو علماء په نزد جائز ندی او ددی حديث نه په دی وجه باندی استدلال نشی کيدے چې محدثينو دا حديث ضعيف کرزولے دے ۔علامه توريشتیؒ فرمائي چې ددی حديث نه استدلال نشی کيدے ځکه چې ددی سند قابل اعتماد ندے،البته د سپينو زرو موټے لکه چې مخکښې تير شول جائز دی ۔او فرمائي چې سره زر ناجائز وو ددی وجې نه راوی صرف د سپينو زرو تپوس وکړو چې په کوم ځائے باندی وو او د سرو زرو تپوس ئی هم ونه کړو۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ شُجَاعٍ الْبَغْدَادِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو عُبَيْدَةَ الْحَدَّادُ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ سَعْدٍ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ قَالَ: «صَنَعْتُ سَيْفِي عَلَى سَيْفِ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، وَزَعَمَ سَمُرَةُ أَنَّهُ صَنَعَ سَيْفَهُ عَلَى سَيْفِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ حَنَفِيًّا

حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ مُكْرَمٍ الْبَصْرِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ سَعْدٍ، بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ

ابن سيرينؒ فرمائي چې ما خپله توره د سمرهؓ د توری موافق جوړه کړه او دے فرمائي چې دده توره د حضورﷺ د تورے موافق جوړه وه،او هغه د بنو حنيفه د تورو په طرز وه ۔

فائده: بنو حنيفه د عرب يوه مشهوره قبيله ده چې د اعلیٰ تورو جوړولو کښې مشهوره ده ۔دے ټولو خلقو د حضورﷺ په اتباع کښې پرله پسے دغه شان تورے جوړولے۔

باب ما جاء في صفة درع رسول اللهﷺ

فائده:د حضورﷺ سره اوه(۷) زغرے وے چې نومونه ئی دادی :ذات الفضول،چې د خپلی فراخئ د وجې نه په دی نوم مشهوره وه،او دا هغه ذغره ده چې قصه ئی د حديثو په کتابونو کښې رازی،چې د ابوالشحم يهودی سره ګانړه وه۔ او باقی شپږ نومونه دادی:ذات الحواشی،ذات الوشاح،فضه،سُغديه،بتراء،خِرنِق۔

حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ الْأَشَجُّ قَالَ: حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ بُكَيْرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبَّادِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ قَالَ: كَانَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ دِرْعَانِ، فَنَهَضَ إِلَى الصَّخْرَةِ فَلَمْ يَسْتَطِعْ، فَأَقْعَدَ طَلْحَةَ تَحْتَهُ، وَصَعِدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى اسْتَوَى عَلَى الصَّخْرَةِ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «أَوْجَبَ طَلْحَةُ

حضرت زبيرؓ فرمائي چې د حضورﷺ په بدن مبارک باندی د احد په ورځ دوه زغری وی (ذات الفضول او فضه) حضورﷺ په يو ګټ باندی د ختو اراده وفرمائيله (خو هغه دنګ وو او د دوو زغرو وزن،ورسره د

غزوه احد هغه تکلیفونه چی حضورﷺ ته رسیدلی وو چی د هغې په وجه ئ مخ مبارک په وینو سُر شوے وو غرض ددی وجے نه)حضورﷺ په هغې باندی ونه ختلے شو،ځکه ئ حضرت طلحهؓ کینوو او د هغه په ذریعه باندی په ګټ وختو حضرت زبیرؓ فرمائی چی ما د حضورﷺ نه دا واوریدل چی طلحه واجب کړو(جنت،یا زما شفاعت)۔

جنګ احد کښ د جنګ حالت ډیر خطر ناک وو تر دی چی د حضورﷺ د وصال وهم د بعضو راغلے وو۔حضورﷺ دی دنګ ځائے ته تشریف یوړو چی صحابهؓ حضورﷺ ووینی او مطمئن شی ،او بعض اکابر فرمائی چی د کفار د لیدلو د پاره ختلے وو ،حضرت طلحهؓ په دغه ورځ په پوره بهادرئ سره د حضورﷺ ملګرتیا کړی وه،تردی چی صحابهؓ به کله د احد تذکره کوله نو ویئل به ئ چی دا ورځ خو ټول په ټوله د طلحه ده، حضرت طلحهؓ خپل ځان د حضورﷺ ډهال جوړ کړے وو،د اتیاؤ نه زیات زخمونه دده په بدن راغلل خو د حضورﷺ ملګرتیا ئ پرینه خوده،تردی چی دده لاس هم شل شو۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي عُمَرَ قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ خُصَيْفَةَ، عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ، «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عَلَيْهِ يَوْمَ أُحُدٍ دِرْعَانِ، قَدْ ظَاهَرَ بَيْنَهُمَا «

سائب ابن یزیدؓ فرمائی چی د حضورﷺ په بدن د احد په ورځ دوه زغری وی چی د یو بل د پاسه ئ اغوستلی وی ۔

فائده: دحضورﷺ دوه زغری اغوستل د حضورﷺ د کامل توکل خلاف ندی ځکه چی اول خو کمال سلوک پخپله د صوفیانو په نزد باندی رجوع الی البذایت دے یعنی په عامو معاملاتو کښ به د عامو خلقو پشان برتاؤ وی لیکن د شریعت پابندی طبعیت جوړ شی ۔دویمه خبره داده چی د حضورﷺ په معمولاتو کښ داسی قسم برتاؤ د اُمت د تعلیم دپاره وو او دا ښکاره ده، دریمه خبره داده چی د الله تعالیٰ ارشاد دے(یا ایها الذین آمنو خذو حذرکم فانفروا ثبات او انفروا جمیعا) ای ایمان والو!(د کافران وپه مقابله کښ)خپل احتیاط کوئ(ددی د مقابلے د پاره)جُدا جُدا یا یوځائے(څنګه چی موقع وی) راووزئ۔(بیان القرآن) ددی وجے نه د موقع مناسب سامان اغیستل په آیت باندی عمل کول دی ،او د حضورﷺ نه زیات په ارشاد باندی عمل کونکے بل څوک کیدے شی ۔په دی سلسه کښ زغره جنګی ټوپۍ وغیره داټول احتیاطی سامان استعمالول دی ۔

باب ما جاء فی صفة مِغفر رسول اللهﷺ

د حضورﷺ د خود(جنګی ټوپۍ)په باره کښ

فائده:خود د وسپنی نه جوړه شوی ټوپۍ وی ،چی د جنګ په حالت کښ د سر د حفاظت دپاره پسرولے شی ۔امام ترمذیؒ په دی باب کښ دوه حدیثونه نقل کړی دی ۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ: حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ مَكَّةَ وَعَلَيْهِ مِغْفَرٌ، فَقِيلَ لَهُ: هَذَا ابْنُ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ، فَقَالَ: «اقْتُلُوهُ «

حضرت انسؓ فرمائی چی حضورﷺ چی کله د فتح مکے په ورځ باندی ښار ته داخل شو نو د حضورﷺ په سر مبارک باندی خود وو(حضورﷺ خود لری کړو او اطمینان کښ شو) نو څوک راغلل او عرض ئ وکړو اے د الله رسولهﷺ دا ابن خطل دے او د کعبے پرده ئ نیولی ده حضورﷺ وفرمائیل قتل ئ کړئ۔

فائده:حضورﷺ چی کله فتح د پاره مکے ته داخل شو نو په مکے والو باندی داسی یره او ګبراهټ سور وو چی حد ئ نشته ۔نه جائے ماندن نه پائے رفتن۔

حضورﷺ د ډیر شفقت او مهربانۍ د وجې نه وفرمائیل چې کوم سړے بیت الله شریف ته داخل شو هغه به په امن وی ،څوک چې خپل کور کښې کیناستو هغه په امن،څوک چې وسله کیدی امن کښې دے وغیره وغیره،
البته یوولس سړی او شپږ ښځې داسې وې چې د هغوی جرمونه د معافۍ قابل نه وو نو نبیﷺ هغوی ددې معافۍ نه وویستل او وئې فرمائیل چې دی خلقو ته امن نشته۔
په دې کښې هم اووه ۷ سړو او دوو ۲ ښځو ایمان راوړو او په دې معافۍ کښې داخل شول او څلور سړی او څلور ښځې قتل شول ، اتم ددی اتوو نه ابن خطل هم وو۔
دا سړے اول مدینې ته راغې او مسلمان شو او عبد الله نوم ئې کیخودے شو،حضورﷺ د یوی قبیلې د زکوٰة د پاره دے ولیږه ،ده خپل غلام صرف په دې خبره ووژنه چې هغه په ډوډی تیارولو کښې ناوخته کړے وو،او بیا ددې یرے نه مدینې ته واپس نه شو چې ما به هلته په قصاص کښې قتل کړی ،مرتد شو او مکې ته راغې او د حضورﷺ سپکاوے به ئې کوو او دوه وینځې ئې واغستی چې هغوی به د حضورﷺ د سپکاوی په شعرونو باندې دے خوشحاله کوو،حضورﷺ ددغ اتو سره دده وینه هم روا کړے وې،ددې وجې سره ددې چې په بیت الله شریف کښې وو دے قتل کړے شو۔
دده د قاتل په باره کښې مختلف اقوال دی چې چا قتل کړو ،په دې کښې یو فقهی بحث هم دے چې حدود او قصاص په حرم کښې قائم کیدے شی کنه؟دی مسئله کښې تفصیل دے او د عام ضرورت سره ئې هم تعلق نشته ددې وجې نه اختصارًا پریخودے شوه،لیکن په داسې موقعو کښې تنبیه ددې دپاره وشی چې که په علم میین حضرات یا طالبان دا وویني نو ددې نه بعد د مشائخو د کتابونو نه تحقیق وکړی ،دغه ددې حدیث نه بغیر احرامه مکې ته د داخلیدو جواز هم معلومیږی چې د هغې بحث په بل حدیث کښې رازی۔

حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ أَحْمَدَ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ قَالَ: حَدَّثَنِي مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ مَكَّةَ عَامَ الْفَتْحِ، وَعَلَى رَأْسِهِ الْمِغْفَرُ قَالَ: فَلَمَّا نَزَعَهُ جَاءَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ لَهُ: ابْنُ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ فَقَالَ: «اقْتُلُوهُ «قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: وَبَلَغَنِي أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ يَوْمَئِذٍ مُحْرِمًا

حضرت انسؓ نه روایت دے چې حضورﷺ کله د فتح مکې په وخت مکې ته داخل شو نو د حضورﷺ په سر مبارک باندې خود وو،کله چې حضورﷺ هغه لرے کړو نو یو کس راغې وئې وئیل حضور! ابن خطل د کعبې د پردے پورې نختې دے ،حضورﷺ وفرمائیل هغه په امن والو کښې ندے قتل ئې کړئ۔زهریؒ فرمائی چې ماته دا خبره معلومه شوې ده چې حضورﷺ په دغه ورځ باندې محرم نه وو۔

فائده: دا اخری جمله د امام زهریؒ هم یوے فقهی مسئلې طرفته اشاره ده ،هغه دا چې د احنافو په نزد باندې مکې مکرمې ته بغیر د احرام نه داخلیدل جائز ندی ،ځکه چې په حدیث شریف کښې د میقات نه بغیر د احرام نه د اوړیدو ممانعت راغلے دے ،او د شوافوؒ په نزد باندې ددې حدیث په بنیاد باندې جائز دی ۔

د حنفیهؒ په نزد باندې دا حدیث دلیل ځکه ندے چې د حضورﷺ دپاره د فتح مکې په ورځ باندې د مکې حرمت اوچت کړے شوے وو،لکه چې د بخاریؒ په روایت کښې ددې تصریح ده چې حضورﷺ وفرمائیل زما د پاره دا نن ورځ حلال دی د بل چا دپاره نه۔

د ابن خطل د کعبې پورې نختل ممکن ده د ژړا فریاد د پاره وی ځکه دته امن میلاؤ نه وو او خپل ټول کرتوت ورته هم یاد وو چې مرتدد شوے یم او څه څه مِ ندی کړی دی وجې نه ددعا دپاره به ئې دا کړی وی

ځکه چې د کعبې قدر خو په دغ خلقو هسې هم کوو،او ډيره نزدې دا خبره ده چې د پخوانی دستور موافق ددې وجې نه ئې د امن اميد وو چې د کعبې د تعظيم د وجې نه به مجرمان په دې حال کښ نه قتل کيدل۔

باب ما جاء فی عمامة النبیﷺ
د حضورﷺ د پګړئ مبارکې باره کښ

د حضورﷺ د پګړئ مقدار په مشهورو حديثونو کښ نشته ،د طبرانی په يو روايت کښ اووه ګزه راغلی دی۔ بيجوریؒ د ابن حجرؒ نه ددې حديث بے اصل کيدل نقل کړی دی ۔علامه جزریؒ فرمائی چې ما دسيرت کتابونه خاص طور باندې چانړ کړل مګر د پګړئ مقدار ماته ملاؤ نشو۔

البته د امام نوویؒ نه نقل کيږی چې د حضورﷺ دوه پګړئ وی ،يوه وړه او بله غټه،وړه د مناویؒ د قول موافق شپږ ګزه وه او د ملا علی قاریؒ د قول موافق اووه ګزه وه ،او يوه غټه دولس ګزه وه ۔صاحبِ مدخل د حضورﷺ د پګړئ مقدار صرف اووه ګزه خودلے دے بل ئې ندے خودلے ۔

د پګړئ تړل مستقل سنت دی د نبیﷺ نه د پپګړئ تړلو حکم هم منقول دے لکه چې حضورﷺ فرمائی پګړئ تړئ دی سره به حلم کښ سوا شئ۔

حضرت عبد الله ابن عمرؓ نه چا تپوس وکړو چې آيا پګړئ تړل سنت دی دوی وفرمائيل او سنت دی(عينی)۔

يو حديث کښ دی چې پګړئ تړئ !پګړئ د اسلام نخه ده او د مسلمان او کافر فرق کوونکی ده۔(عينی)۔

> حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، ح وَحَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ قَالَ: «دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ يَوْمَ الْفَتْحِ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ

حضرت جابرؓ فرمائی چې حضورﷺ چې کله د فتح مکے په ورځ باندې ښار ته داخل شو د حضورﷺ په سر مبارک باندې توره پګړئ وه۔

فائده:دا حديث په ظاهره باندې د تير باب د روايتونو خلاف دے چې په کومو کښ د حضورﷺ مکے د داخليدو په وخت د خَود ذکر راغلے دے ،ليکن حقيقت کښ اختلاف نشته ځکه چې په خود باندې د پګړئ تړلو کښ څه ناشنا والے نشته دواړه په اسانه جمع کيدے شی ۔بعضی علماء فرمائی چې دداخليدو په وخت باندې ئې په سر مبارک باندې خَود وو او بيا ئې سمدستی پګړئ تړلے وه،او دا وخت هم ډير نزدې وو ددې وجې نه ئې دداخلی وخت ذکر کړو،بعض علماء فرمائی چې د وسپنی ټوپۍ د تکليف د وجے نه به ئې د لاندی پګړئ تړلی وی۔

> حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مُسَاوِرٍ الْوَرَّاقِ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: «رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ عَلَى الْمِنْبَرِ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ

عمرو ابن حريثؓ فرمائی چه ما د حضورﷺ په سر مبارک باندې توره پګړئ وليده۔

فائده: مسلم او نسائی شریف کښ دی چی عمرو ابن حریثؓ فرمائی چی هاغه منظر زما د سرګو وړاندی دے چی حضور ﷺ په منبر باندی خطبه لوستله ،توره پګړئ د هغوی په سر مبارک باندی وه او شمله ئی د دواړو وَلو مینځ کښ وه۔

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، وَيُوسُفُ بْنُ عِيسَى، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ مُسَاوِرٍ الْوَرَّاقِ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ، عَنْ أَبِيهِ، «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ النَّاسَ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ»

عمرو ابن حریث نه دا هم روایت دے چی حضور ﷺ یوه پیره خطبه ولوسته او د حضور ﷺ په سر مبارک باندی توره پګړئ وه۔

فائده: د مشهور قول مطابق دا خطبه د فتح مکے ده چی د کعبے په چوکاټ کښ حضور ﷺ ودریدو او دا ئی وفرمائیله،ددی ذکر د جابرؓ نه په مخکښ راوایاتو کښ نقل شو۔

لیکن بعضو ددی وجے نه چی په دی کښ د منبر لفظ راغلے دے او د فتح مکے خطبه په منبر باندی نه وه نو ددی نه ئی د مدینے منورے یوه خطبه یا د جمعے خطبه مراد اغستے ده ځکه چی په بعضو حدیثونو کښ په دی قصه کښ د جمعے لفظ هم موجود دے۔

ملا علی قاریؒ د مشکوٰة په شرح کښ د میرک شاه نه نقل کړی دی چی دا خطبه د حضور ﷺ د وصال ده۔والله اعلم۔

حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَدَنِيُّ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اعْتَمَّ سَدَلَ عِمَامَتَهُ بَيْنَ كَتِفَيْهِ» قَالَ نَافِعٌ: «وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ، يَفْعَلُ ذَلِكَ» قَالَ عُبَيْدُ اللهِ: «وَرَأَيْتُ الْقَاسِمَ بْنَ مُحَمَّدٍ، وَسَالِمًا يَفْعَلَانِ ذَلِكَ»

ابن عمرؓ فرمائی چی حضور ﷺ به کله پګړئ تړله نو شمله به ئی د دواړو وَلو مینځ کښ یعنی شاته اړوله،نافعؒ فرمائی چی ما ابن عمرؓ په داسی کولو باندی لیدلے دے ،عبید الله چی د نافع شاګرد دے فرمائی چی ما په خپله زمانه کښ د ابوبکرؓ نَوسے قاسم ابن محمد او د عمرؓ نوَسے سالم ابن عبد الله په داسی کولو لیدلی ۔

فائده: د حضور ﷺ عادت مبارک د شملے باره کښ مختلف وو،د شملے پریخودو عادت ئی ډیر وو تردی چی بعضو خو وئیلی چی بغیر شملی پګړئ ګډو ثابت نده،لیکن محققین وائی چی کله کله به ئی بغیر شملی نه هم پګړئ تړله،او د شملے پریخودو معمول ئی هم مختلف وو، کله کله مخکښ کی طرفته کله شاته د وَلو درمیان کله به ئی د پګړئ دواړه سرونه د شملے په طور پریخودل۔

علامه مناویؒ فرمائی چی اګر چی ثابت ټول صورتونه دی خو افضل په کښ شاته د دواړو وَلو درمیان ته شمله اړول دی ۔

حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى قَالَ: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو سُلَيْمَانَ وَهُوَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْغَسِيلِ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَ النَّاسَ وَعَلَيْهِ عِصَابَةٌ دَسْمَاءُ

ابن عباسؓ فرمائی چی حضور ﷺ یو ځل خطبه ولوسته او په سر مبارک باندی ئی توره پګړئ وه یا غوَړه پټئ وه۔

فائده: دا قصه د حضورﷺ د مرض الوفات ده او د آخره وعظ ده چې ددی نه بعد نه حضورﷺ منبر ته ختلے او نه ئې خطبه لوستې ده۔

په دې حضورﷺ د انصارو سره درعایت کولو خاص طور ذکر وفرمایه،ددوی نیکئ او احسانات ئې یاد کړل او دائې هم ارشاد وفرمائه چې تاسو کښې څوک د څه هم امیر جوړ شی نو ددوی خاص طور رعایت ساتئ، دغه وخت د حضورﷺ په سر مبارک باندې ډیر درد وو چې ددې وجې نه پټې تړل هم یوه وجه ده ،او د حضورﷺ په سر مبارک باندې به د تیلو مالش هم ډیر کیدلو لکه چې آئنده کښې رازی ددې وجے نه د پټئ غوړیدل هم د قیاس موافق دی ،او توره پګړئ خو ظاهره ده ځکه دا خو هسې هم د حضورﷺ عادت شریف وو۔

غرض علماء ددې په مطلب کښې دواړه طرفته تلی دی ،بعضو د توری پګړئ ترجمه کړې او بعضو د غوړې پټئ۔او دواړه صحیح دی ځکه لفظ هم ددواړو احتمال لری او عمل هم ددواړو موافق دے۔

ددې حدیث یو راوی ابن الغسیل دے چې د حضرت حنظلهؓ غسیل الملائکة اولاد کښې دے۔

د حضرت حنظلهؓ لقب غسیل الملائکة دے چې ترجمه ئې داده د فرشتو غسل ورکړے شوے،دده عجیبه قصه ده چې کله د احد د جنګ دپاره روانګی کیدله نو دے د خپلې کوروالہ سره مشغوله وو چې په دې حالت کښې ئې شور واوریدو ،معلومه شوه ورته چې قافله روانیږی،ده چې دا خبر واوریدو نو ورسره شو او دومره وخت ورته میلاؤ نه شو چې غسل ئې کړے وے هلته چې ورسیدو نو شهید شو ،او چونکه شهید له خو غسل نشی ورکولے لهذا ده لره هم غسل ورنه کړے شو ،خو نبیﷺ ولیده چې فرشتے ده له غسل ورکوی دی وجے نه حضورﷺ تحقیق وکړو نو په واپسئ کښې دده کوروداني نه دا ټول حال معلوم شو۔

په حقیقت کښې دغې خلقو ته په دین باندې مره کیدل دومره آسان ووڅومره چې مونږ خلقو ته په دنیاوی خواهشاتو کښې ورننوتل آسان دی۔

باب ما جاء فی صفة ازار رسول اللهﷺ
د حضورﷺ د لنګ باره کښې

د حضورﷺ عادت شریفه د لنګ اغوستلو وو ۔پرتوګ اوغوستل د حضورﷺ مختلف فیه دے۔ د علامه بیجوریؒ د تحقیق موافق راجح دادی چې د اغوستو ثبوت ئې نشته،البته دا ثابته ده چې د حضورﷺ سره موجود وو، تردې دې وئیلې شوی دی چې د وصال نه وروستو په ترکه کښې هم وو۔

ابن قیمؒ فرمائی چې حضورﷺ اغَستلے خو دے او دا ظاهره ده چې د اغوستلو دپاره به ئې اغَستے وی ددې نه علاوه په مختلفو حدیثونو کښې دحضورﷺ د اغوستل هم نقل دی ،او صحابهؓ خو به د حضورﷺ په اجازت باندې اغوستلو (زاد المعاد)۔

ابوامامهؓ فرمائی چې ما حضورﷺ ته عرض وکړو چې اهل کتاب لنګ نه اچوی او پرتوګ اچوی ۔حضورﷺ وفرمائیل تاسو ددوی خلاف کوئ لنګ هم اچوئ او پرتوګ هم۔

ابوهریرةؓ په یو اوږد حدیث کښ فرمائی چی ما د حضورﷺ نه تپوس وکړو چی تاسو چرته پرتوګ اغوندئ؟ دویﷺ وفرمائیل او اغوندم ماته د بدن پټولو حکم دے او ددی نه ډیره پرده په نورو ځیزونو کښ نشته۔ لیکن محدیثونو دی حدیث ته ضعیف وئیلی دی (نیل الاوطار)

د حضورﷺ معمول د لنګ اغوستو او څادر پسرولو اکثر وو د حضورﷺ څادر څلور لاسه اوږد او یو نیم لاس پلن وو، او د یو روایت موافق شپږ لاسه اوږد او دری لاسه او یوه لویشت پلن وو، او د حضورﷺ لنګ څلور لاسه او یوه لویشت اوږد او دوه لاسه پلن وو۔

په دی باب کښ مصنفؒ څلور حدیثونه ذکر کړی دی۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ: حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ قَالَ: أَخْرَجَتْ إِلَيْنَا عَائِشَةُ، كِسَاءً مُلَبَّدًا وَإِزَارًا غَلِيظًا، فَقَالَتْ: «قُبِضَ رُوحُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَيْنِ

ابو بردةؓ فرمائی چی حضرت عائشہؓ ماته یو پیوند شوی څادر او یو پیړه لنګ وخودو او دا ئی وفرمائیل چی د حضورﷺ وصال په دی دوؤ کپړو کښ شوے وو۔
فائده: یعنی د وصال پوری د حضورﷺ معمول د داسی کپړو د استعمال وو حالانکه دغه وخت فتوحات هم شروع شوی وو ،څه نه څه فراخی هم راغلی وه د خیبر د فتحے نه وروستو د مسلمانانو حالت په بهترے باندی شروع شوے وو ،او د فتح مکے نه بعد خو د نورو ملکونو د بادشاهانو نه د هدیو او نذرانو سلسله هم شروع شوی وه۔
لیکن د حضورﷺ معمول د خپل معیشت دپاره هاغه پخوانے وو څه چی به راتلل هغه به ئی په نورو باندی تقسیمول چی ددی څه حصه ما په حکایات صحابهؓ کښ لیکلے ده۔
امام نوویؒ فرمائی چی دا حدیث او دی پشان نور حدیثونه دی طرفته اشره کوی چی حضورﷺ د دنیاوی نعمتونو او خوندونو نه اعراض وو، پیړه کپړه تواضع او انکسارئ طرفته بوستل کوی او باریکه عمده کپړه کله کله عجب ،تکبر او ځان خودنه پیدا کوی ۔
ماته زما محترم بزرګ مولانا حکیم جمیل الدین نګینوی ثم الدهلویؒ د حضرت اقدس فخر المحدثین مولانا ګنګوهی نورالله مرقده یوه عجیبه قصه بیان کړه: چی حضرت کله حج له تشریف وووړو نو د مطاف په غاړه باندی یو ړوند بزرګ ناست وو،چی کله به حضرت په دغه طرف تلو نو هغه به په قلاره اواز سره وئیل (البس ثیاب الصالحین) او کله چی حضرت د طواف نه فارغ شو نو ده طرفته لاړو نو هغه وئیل(خشن خشن) یعنی پیړه پیړه یا ځیګه ځیګه ،ددی سره ئی په دی خبره باندی خبردارے کوو چی د صالحانو ژامے پیړے کپړے دی،
دا د حضورﷺ اکثری لباس وو خو بعض وخت کښ باریکے عمده کپړے هم ثابتے دی چی دا به د بعضے دینی مصلحتونو د پاره او د تکلف نه بچاؤ د پاره وے، مطلب چی څنګه به ملاؤ شوی اغوستلے به ئی دا نه چی د عمده کپړؤ نه ئی بالخصوص ځان ساتلو۔

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنِ الْأَشْعَثِ بْنِ سُلَيْمٍ قَالَ: سَمِعْتُ عَمَّتِي، تُحَدِّثُ عَنْ عَمِّهَا قَالَ: بَيْنَا أَنَا أَمْشِي بِالْمَدِينَةِ، إِذَا إِنْسَانٌ خَلْفِي يَقُولُ: «ارْفَعْ إِزَارَكَ، فَإِنَّهُ أَتْقَى وَأَبْقَى «فَإِذَا هُوَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّمَا هِيَ بُرْدَةٌ مَلْحَاءُ قَالَ: «أَمَا لَكَ فِيَّ أُسْوَةٌ؟ «فَنَظَرْتُ فَإِذَا إِزَارُهُ إِلَى نِصْفِ سَاقَيْهِ

عبید الله ابن خالدؒ فرمائی چی زه په مدینه کښ یوه ورځ روان ووم چی د شانه مِ یو کس په دی اواز کولو واوریدو:لنګ بره اوچت کړه په ده سره د نجاست ظاهری او باطنی(تکبر وغیره نه صفائی هم حاصلیږی او کپړه په زمکه راخکو سره خرابه او خیرنیدو نه) محفوظ وی۔ما اواز کونکی طرفه توجه وکړه تو هغه رسول اللهﷺ وو،ما عرض وکړو حضور! دا خو معمولی شان څادرګوټی دے په دی کښ به څه تکبر وی او ولی ددی حفاظت ضروری دے ۔حضورﷺ وفرمائیل که چرے ستا په نزد باندی څه مصلحت نه هم وی نو بیا زما تابعداری خو چرته تلی نده۔ ما د حضورﷺ لنګ ته وکتل نو د پنډئ تر نیمی پوری وو۔

فائده:لنګ،پرتوګ وغیره د ګټو نه خکته کولو باندی ډیر سخت زورنه راغلے ده ،د ګټو نه لاندی څومره حصه باندی چی کپړه زوړنده وی هغه به په اوور کښ سیزلے شی ۔

عبد الرحمٰنؒ فرمائی چی ما د حضرت ابو سعید خدریؓ نه د لنګ باره کښ تپوس وکړو هغه وفرمائیل چی تا د ډیر پوهه نه تپوس وکړو،حضورﷺ فرمائیل دی چی د مسلمان لنګ دِ د پنډئ د نیمی پوری وی او ددی نه خکته تر ګیټو پوری هم څه خبره نده ،خو د ګیټو نه لاندی تر کومے پوری چی لنګ زوړند وی په اوور کښ به سوَزی۔

او کوم سړے چی د تکبر په وجه کپړه رازوړنده کړی د قیامت په ورځ به الله تعالیٰ دته نظر نه کوی(ابو داؤد)۔

داقسم زورنے په نورو حدیثونو کښ هم راغلی دی ،دی وجی نه دیته په خاص طور توجه پکار ده ،ددی ٲلته زمونږ په دی زمانه کښ خاص طور کپړے لاندی راخکلے کیږی۔فالی الله المشتکی۔

> حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُبَيْدَةَ، عَنْ إِيَاسِ بْنِ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: كَانَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ، يَأْتَزِرُ إِلَى أَنْصَافِ سَاقَيْهِ، وَقَالَ: «هَكَذَا كَانَتْ إِزْرَةُ صَاحِبِي»، يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

سلمه ابن اکوعؓ فرمائی چی حضرت عثمانؓ به لنګ تر پنډئ نیمے پوری ساته او دا صورت وو زما د آقا حضورﷺ د لنګ۔

> حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ مُسْلِمِ بْنِ نَذِيرٍ، عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ قَالَ: أَخَذَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَضَلَةِ سَاقِي أَوْ سَاقِهِ فَقَالَ: «هَذَا مَوْضِعُ الْإِزَارِ، فَإِنْ أَبَيْتَ فَأَسْفَلَ، فَإِنْ أَبَيْتَ فَلَا حَقَّ لِلْإِزَارِ فِي الْكَعْبَيْنِ»

حذیفه ابن یمانؓ فرمائی چی حضورﷺ زما دپنډئ یادخپلی پنډئ د غوخے څه حصه ونیوله او وئی فرمائیل چی داحد دے د لنګ ،که په دی باندی صبر نه کوی نو ددی نه څه لاندی هم خه ،او که په دی باندی هم صبر نه وی نو بیا د لنګ په ګټو باندی څه حق نشته ،لهذا ګټو ته رسوَل ندی پکار۔

فائده: د ګټونه لاندی د لنګ یا پرتوګ زوړندول حرام دی ،لیکن علماءو ددی نه ضرورت مستثنیٰ کړے دے لکه چی د چا په ګټئ باندی ننکئ/زخم وی وغیره او په هغے باندی د مچانو د کښیناستو یره وی نو بیا په ګټو باندی زوړندول جائز دی تر سو چی زخم خه شی۔

باب ما جاء في مِشية رسول اللهﷺ

د حضورﷺ د رفتار په باره کښ

فائده:دحلیے شریف په بیان کښ د رفتار/تګ ذکر هم تبعًا تیر شوے دے دی باب کښ صرف د رفتار کیفیت مستقلًا بیانول مقصود دی۔

دی باب کښ مصنف درے رویات ذکر کړی دی۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ: حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ أَبِي يُونُسَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «وَلَا رَأَيْتُ شَيْئًا أَحْسَنَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَأَنَّ الشَّمْسَ تَجْرِي فِي وَجْهِهِ، وَمَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَسْرَعَ فِي مِشْيَتِهِ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَأَنَّمَا الْأَرْضُ تُطْوَى لَهُ إِنَّا لَنُجْهِدُ أَنْفُسَنَا وَإِنَّهُ لَغَيْرُ مُكْتَرِثٍ»

ابوهریرةؓ فرمايئ چی ما د حضورﷺ نه خائسته ښوک ندی ليدلی ،ګويا چی نمر د حضورﷺ په مخ مبارک کښ پرقيږی،ما د حضورﷺ نه تيز رفتاره هم ښوک ندی ليدلی چی لګ ساعة مخکښ دلته وو وس هلته مونږ به د حضورﷺ سره په مشقت سره (په منډه)روان وو او حضورﷺ به د معمول په رفتار سره تلو۔

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ قَالُوا: حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ مَوْلَى غُفْرَةَ قَالَ: أَخْبَرَنِي إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُحَمَّدٍ، مِنْ وَلَدِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ قَالَ: كَانَ عَلِيٌّ إِذَا وَصَفَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «كَانَ إِذَا مَشَى تَقَلَّعَ كَأَنَّمَا يَنْحَطُّ مِنْ صَبَبٍ»

ابراهيم ابن محمدؒ فرمائی چی به کله د حضرت علیؓ چی به کله د حضورﷺ ذکر کوو نو فرمايل به ئی چی کله به حضورﷺ تللو نو په همت او قوت سره به ئی خپه اوچتوله،دخځو په شان خپی به ئی نه راخکلی،دګرزيدو په تيزئ او قوت سره به داسی ښکاريدل ګويا چی د بری نه راکوزيږی۔

فائده:دا حديث مخکښ حلئيے په باب کښ تفصيلی بيان شوے دے ۔

حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبِي، عَنِ الْمَسْعُودِيِّ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ مُسْلِمِ بْنِ هُرْمُزَ، عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَشَى تَكَفَّأَ تَكَفُّؤًا كَأَنَّمَا يَنْحَطُّ مِنْ صَبَبٍ

حضرت علیؓ فرمائی چی حضورﷺ به کله تشريف وړو نو لګ ټيټ به تلو ګويا چی د بری نه راکوزيږی۔

فائده:دامضمون هم مخکښ تير شوے دے۔

باب ما جاء فی تقنع رسول اللهﷺ
د حضورﷺ د قِناع باره کښ

فائده:قِناع هغه کپړی ته وائی چی حضورﷺ به په سر مبارک باندی د پګړئ لاندی کيخوده چی د تيلو په وجه باندی پګړئ خرابه نشی،ددی نه علاوه علماءو نورے هم فائدے بيان کړی دی۔

په دی باب کښ صرف يو حديث دے۔

حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى قَالَ: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ قَالَ: حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ صَبِيحٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبَانَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ الْقِنَاعَ كَأَنَّ ثَوْبَهُ ثَوْبُ زَيَّاتٍ

حضرت انسؓ فرمائی چی حضورﷺ به په خپل سر مبارک باندی اکثر يوه کپړه کيخوده او دغه کپړه به د ډير غوړ والی د وجے د تيلی کپړه ښکاريده۔
فائده:يعنی ښنګه چی د تيلی کپړه غوړه وی دغه شان به دا کپړه د تيلو د کثرت د وجے نه غوړه وه۔ليکن سره ددی دا د نبیﷺ خصوصياتو کښ شماريږی چی د حضورﷺ دا کپړه به خيرنيدله نه ، نه به د حضورﷺ په

کپړو کښ سپړی کیدی ،نه به منګړ/کټملو د حضورﷺ وینه څکلے شوه۔(قاری) د علامه رازی نه مناویؒ نقل کړی دی چی مچ به هم د حضورﷺ په بدن باندی نه کښیناستو۔

باب ما جاء فی جِلسة رسول اللهﷺ

د حضورﷺ د ناستی باره کښ

فائده: یعنی د حضورﷺ د ناستی کوم کوم شکلونه وارد شوی دی ۔

دی باب کښ درے حدیثونه دی۔

حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَفَّانُ بْنُ مُسْلِمٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ حَسَّانَ، عَنْ جَدَّتَيْهِ، عَنْ قَيْلَةَ بِنْتِ مَخْرَمَةَ، أَنَّهَا رَأَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ وَهُوَ قَاعِدٌ الْقُرْفُصَاءَ قَالَتْ: «فَلَمَّا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُتَخَشِّعَ فِي الْجِلْسَةِ أُرْعِدْتُ مِنَ الْفَرَقِ»

قیلهؓ فرمائی چی ما حضورﷺ په جومات کښ (په داسی عاجزانه صورت)په زنګونانو ناست ولیده چی زه د رعب د وجے نه په رپیدو شوم۔
فائده: د قرفصاء په تصویر کښ علماءو اختلاف کړے دے ،مشهور قول دادے چی دواړه زنګونان ودروی او دواړه لاسونه د هغې نه تاؤ کړی په سرین باندی کښینی۔
درعب وجه خو ظاهرًا داده چه دا حالت د غم او فکر دے او د حضورﷺ فکر به په څه وړی خبری باندی نه وو ،دی وجے نه دی ته دا یره وشوه چی خدائے مکه په امت خو څه عذاب راروان ندے،ځکه چی د حضورﷺ سره به د امت فکر ډیر وو،دا په ظاهره هغه حدیث دے چی د حضورﷺ د لباس په باب کښ دولسم نمبر مختصر تیر شوے دے ،هلته هم دی طرفته لګه اشاره کړے شوے وه،ددی حدیث څه حصه نوره هم ده خو مصنف مختصر کړے دے هغه دا چی د قیلےؓ دا حالت چی ولیدو نو په حاضرینو کښ یو کس ووئیل د الله رسولهﷺ دا غریبه خو ویریده۔قیلهؓ فرمائی چی زه د حضورﷺ شا طرفته ووم حضورﷺ ماته کتلی هم نه وو په ژبه مبارکه ئی دا وفرمائیل اے مسکینے په سکون شه،د حضورﷺ دا فرمائیل وو چی چی څومره یره په ما باندی وه ټوله ختمه شوه ۔
بعضے روایاتو کښ دا قصه د یو سړی باره کښ ده لکه چی د حضورﷺ د لباس په باب کښ تیر شوے دے۔

حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ، عَنْ عَمِّهِ، «أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَلْقِيًا فِي الْمَسْجِدِ وَاضِعًا إِحْدَى رِجْلَيْهِ عَلَى الْأُخْرَى»

د عباد تره عبد الله ابن زیدؓ فرمائی چی ما حضورﷺ په جومات کښ ستونی ستغ ملاس لیدلے چی یوه خپه ئی په بله خپه باندی د پاسه اچولی وه۔
فائده: د مسلم شریف په روایت کښ ددی قسم ملاستی نه منع راغلی ده،علماءو دا په مختلفو طریقو سره جمع کړی دی ۔واضح توجیه ئی داده چه دا ملاسته په دوه قسمه ده او دواړه جدا جدا د حدیثونو مصداق دے۔
یو صورت دادے چی دواړه خپی خورے/وغزوے او یوه خپه په بله دپاسه کړی نو په دی کښ څه باک نشته او دا د شمائیلو د حدیث مصداق دے۔
دویم صورت دادے چی یوه خپه ودرولے شی او بله خپه د هغې په زنګون باندی کیخودے شی دا صورت د مسلم شریف د روایت مصداق دے ۔او ددی د ممانعت وجه داده چی په عربو کښ عام طور د لنګ اچولو

رواج وو ،او د لنګ سره داسی ملاسته کښ د ستر د خکاره کیدو قوی امکان وی دی وجے نه حضور ﷺ منع وفرمائیله۔
دلته دا یو اعتراض کیږی چی ددی حدیث خو د ناستی تعلق نشته ۔علماءو ددی مختلفی وجهے بیان کړی دی ،اسانه داده چه په باب کښ د ناستی نه مراد عام واغستے شی چی ملاستی او ناستی دواړو ته شامل شی اګر چی د ملاستی بعضی حالات به د خوب په باب کښ راشی۔دا هم ممکن ده کومه شی ابن حجرؒ لیکلی ده چی کله دا قسمه ملاسته(باوجود ددینه چی په روایاتو کښ ممانعت راغلے دے) په جومات کښ جائز ده نو ناسته خو په هر قسم جائز شوه۔

حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ شَبِيبٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْمَدَنِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْأَنْصَارِيُّ، عَنْ رُبَيْحِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَلَسَ فِي الْمَسْجِدِ احْتَبَى بِيَدَيْهِ «

ابو سعید خدریؓ فرمائی چی حضور ﷺ به کله په جومات کښ تشریف کیخودو نو احتبئ به ئی کوله۔
فائده:احتبا سره ناسته دی ته وائی چی دواړو زنګونان ودرولے شی او په سرین باندی کیناستے شی او دواړه لاسونه د خپو نه تاؤ کړے شی ،کله کله د لاسو په ځائے خادر ،لنګ یا پګړئ وغیره داسی تاؤ کړے شی چی په ملا او خپو باندی راشی ،دا قسمه ناسته د عاجزئ اومسکنت ده ،دی وجے نه حضور ﷺ به اکثر داسی کیناستو،او صحابه هم ، خو دا مطلب نه چی همیشه به داسی کیناستو ۔دی وجے نه وس د ابوداؤد شریف د حدیث سره څه اختلاف رانغی کوم کښ چی دی چی حضور ﷺ به د سحر د مانځه نه تر نمر ختو پوری په پرلت سره ناست وو ۔دغه شان د نورو هغه حدیثونو سره هم خلاف نه رازی چی کوم دی باره کښ راغلی دی ،دی قسم ناسته کښ د تواضع او انکسارئ نه علاوه راحت هم دے ۔
دی وجے نه یو حدیث کښ دی چی احتباء سره ناسته د عربو دیوالونه دی یعنی په ځنګل کښ خو دیوالونه نه وی کومو سره چی ډډه ووهلے شی ځکه دا قائم مقام دیوالونه دی ،بعضے وخت کښ د لاسونو په ځائے کپړه تاؤ کړے شی چی ډیر د راحت سبب وی ۔

باب ما جاء فی تکآة رسول الله ﷺ

د حضور ﷺ د تکیه ذکر

مصنف په دی باب کښ خلور حدیثونه ذکر کړی دی۔

حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ الْبَغْدَادِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: «رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَّكِئًا عَلَى وِسَادَةٍ عَلَى يَسَارِهِ «

جابر ابن سمرةؓ فرمائی چی ما حضور ﷺ په یوه تکیا باندی ډډه وخونکے ولیدلو چی ګس طرفته پرته وه۔
فائده:تکیه خی او ګس دواړه طرفته کیخودل جائز دی ،په حدیث کښ ګس طرف د تخصیص دپاره ندے بلکه یو اتفاقی خبره ده ،لیکن د محدثینو د قواعدو مطابق د ګس طرف لفظ په مشهورو روایاتو کښ نشته ،دی وجے نه امام ترمذیؒ د باب په ختمیدو کښ په دی لفظ باندی کلام کړے دے ۔

حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ قَالَ: حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ قَالَ: حَدَّثَنَا الْجُرَيْرِيُّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَلَا أُحَدِّثُكُمْ بِأَكْبَرِ الْكَبَائِرِ؟ «قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ. قَالَ: «الْإِشْرَاكُ بِاللَّهِ، وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ» . قَالَ: وَجَلَسَ

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ مُتَّكِئًا قَالَ: «وَشَهَادَةُ الزُّورِ» أَوْ «قَوْلُ الزُّورِ» قَالَ: فَمَا زَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُهَا حَتَّى قُلْنَا: لَيْتَهُ سَكَتَ

ابوبکرهؓ فرمائی چی حضورﷺ یو ځل ارشاد وفرمایو چی تاسو خلقو ته په کبیره گناهونو کښ غټ گناه وخائم؟ صحابهؓ عرض وکړو د الله رسولهﷺ ضرور وخائیی! حضورﷺ وفرمائیل د الله سره شریک جوړول د والدینو نافرمانی کول په دروغه باندی گواهی کول یا دروغ وئیل د راوی شک دے چی په دی دواړو کښ ئی کوم یو لفظ فرمائیلے دے ۔

دغه وخت حضورﷺ په یو څیز باندی تکیه لگولے وه تشریف فرما وو،خو د دروغو د ټکی وئیلو سره حضورﷺ د اهتمام د وجے نی کیناستو او بار بار ئی دا وئیل ،تردی چی مونږ خلقو ووی چی وس حضورﷺ چپ شوے باربار ئی نه وئیلے۔

فائده: د حضورﷺ د بار بار وئیلو باندی د چپ والی تمنٔ کول یا خو د صحابهؓ د عشق د وجے وو چی حضورﷺ به باربار وئیلو سره ستړے شی او مونږله یو ځل وئیل هم کافی دی ،او ممکن ده چی ددی یری نه وی چی په حضورﷺ باندی د غصے او خفگان آثار وو،او دا هم ممکن دی چی ددی یری نه وی چی هسی نه حضورﷺ یو داسی لفظ وفرمائی چی د امت دپاره د نقصان سبب شی ۔

کومو خلقو ته دی ددنیاوی یا دینی دربار ناسته ملاؤ شوی وی هغوی ددی حالت نه خه خبر دی۔

او د حضورﷺ باربار وینا د ډیر اهتمام د وجے نه وو چی د دروغو په وجه سړے په زنا، قتل وغیره ډیرو گناهونو کښ مبتلا کیږی ۔

د حضورﷺ ارشاد دے چی کله یو سړے دروغ وائی نو فرشتے دده د خولے د بد بوئی د وجے نه یو میل لرے لاړے شی۔

د حضورﷺ ارشاد دے چی مسلمان دروغجن نشی کیدے۔

ابوبکرؓ فرمائی ځان د دروغو نه وساتئ چی دروغ د ایمان نه لرے دی(اعتدال)

په دی حدیث کښ د کبیره گناهونو ذکر دے ،شریعت کښ گناهونه په دوه قسمه دی ۔

یو صغیره :چی په اودس،مونځ،روژه،حج وغیره سره معاف کیږی۔

دویم کبیره :یعنی لوئے گناه چی ددی متعلق ضابطه داده چه بغیره توبے نه به نه معاف کیږی،البته الله خپل رحم وکړی او د چا سره رعایت وفرمائی نو داجدا خبره ده ،مگر قانون دادے چی بغیر توبه نه معاف کیږی۔

په دی کښ اختلاف دے چی کبیره گناهونه څومره دی ؟ علماء دا په مستقل کتابونو کښ لیکلی دی علامه ذهبیؒ کتابپه دی یو مستقل مضمون دے پدی کښ څلور سوه کبیره گناهونه شمار کړی دی ،

علامه ابن حجر مکیؒ هم په دوه جلده کښ یو کتاب لیکلے چی وس په مصر کښ چاپ شوے دے ،په دی کښ ئی د مونځ روژے،حج،زکوٰة وغیره مستقل بابونو کبیره شمار کړی چی مجموعه ئی څلور سوه او اووه شپیته ده۔

ملاعلی قاریؒ په شمائیل کښ مشهور کبائر شمارلی چی دادی:

د چا قتلول،زنا کول،اغلام بازی کول،شراب څکل، غلا کول،په چا باندی تهمت لگول ،رشتونی گواهی پټول،په دروغه قسم خوړل،د چا مال په زار باندی اغیستل،بغیر عذر نه د کافرو د مقابلے نه تختیدل،سود کول،د یتیم مال خوړل،رشوت اغیستل،د اصولو یعنی والدینو نافرمانی کول،رشته پری کول،ددروغو حدیث جوړول،د رمضان روژه خوړل،په ناپ تول کښ کمے کول،فرض مونځ د وخت نه مخکښ روستو کول،زکوٰة نه ورکول،د چا سره چی معاهده وی هغه قتول اگر که کافر وی ،د یو صحابی په شان کښ گستاخی کول،غیبت کول خاص طور د عالم یا حافظ قرآن غیبت، یو ظالم ته چغلی کول،دیوث کیدل(یعنی خپلی ښځی،لور وغیره سره د چا په تعلق باندی رضا کیدل،بهړوا کیدل(یعنی د چا ناجائز

تعلقاتو جوړولو کښې مدد کول)،امر بالمعروف او نهی عن المنکر سره د قدرت نه پريخودل، د جادو ازده کول يا بل ته خودل،په چا باندې جادو کول،قرآن هېرول،بغير مجبورئ نه ساه لرونکے سوزول،د الله د رحمت نا نااميده کېدل يا د الله د عذاب نه نه يرېدل،د ځخې د خپل خاوند نافرمانی کول بلا وجه د هغه د خواهش نه انکار کول، چغلی کول۔

ملا علی قاریؒ دا دمثال په طور نقل کړې دی ،د مشکوٰۃ په ترجمه مظاهر حق کښې په شروع کښې د کبائرو مستقل باب دے په هغې ئې دا او ددی قسم نور هم څه ګناهونه شمارلی دی ،په هغې کښې ليکلی دی چې د الله سره شريک جوړول بابره خبره ده که په ذات کښې وی ،يا عبادت يا مدد يا علم يا قدرت يا تصرف يا پيدا کولو يا په رابللو يا په نوم کيخودو يا په ذبح يا نذر منلو يا د خلقو هغه طرفته د کارونو سپارلو کښې يعنی سنګه چې الله تعالیٰ ته ټول کارونه سپارلی دی دغه شان بل څوک منل، دغه شان لانده کارونه ئې هم هلته ذکر کړې دی۔

په ګناه باندې د اصرار نيت ساتل،د نشے څيز څکل،د محارمو سره نکاح کول،جواری کول،د کافرو سره دوستی کول،سره دقدرته جهاد نه کول،د مرداری غوښه خوړل،د نجومی تصديق کول، قرآن يا رسول الله ﷺ يا فرشتو ته بد رد وئيل ،يا ددی انکار کول،صحابهؓ ته بد ويل، په ځځه او خاوند کښې جنګ جوړول،اسراف کول،فساد کول،د خپلی بی بی نه علاوه د چا مخکښې بربنډيدل،بخل کول، واړه بول يا منی د ځان نه نه پاکول که ولګی،د تقدير انکار کول،د تکبر دوجے نه د ګيټو نه پائنسے خکته کول،نوحه(په مړی باندې ژړا کول)،بده طريقه ايجاد کول،د احسان کونکی نا شکری کول،يو مسلمان ته کافر وئيل،د حيض په حالت کښې صحبت کول،د غلے په ګرانيدو باندې خوشحاليدل،د ځناور سره بد کاری کول، بے ګيری کس ته د شهوت په نظر کتل،د چا کور ته تماشه کول،د عالم يا حافظ سپکاوے کول، د يوے نه زياتې بيبيانے وی هغې کښې مساوات نه کول،د امير سره وعده خلافی کول وغيره وغيره ئې شمار کړې دی۔

په کبيره کښې هم درجے دی دی وجے نه ئې په حديث کښې لوئے کبيره وفرمائيل،او د موقع مناسبت سره ئې مختلف ګناهونو ذکر فرمائيلے دے، علماء فرمائی چې په اصرار سره صغير هم کبيره کيږی او په استغفار سره کبيره هم نه پاتې کيږی بلکه معاف کيږی۔

او د توبے حقيقت دادے چې په زړه سره په هغې کار خپيمانتيا وی او آئينده ددی د نه کولو پخه اراده وی چې وس به ئې چرته هم نه کوم ،اګر که بل وخت هغه بيا وشی خو ددی نه اولنئ توبه ختميږی نه، البته د توبے په وخت دا پخه اراده پکار ده چې آئنده به ئې نه کووم،

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ: حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْأَقْمَرِ، عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَمَّا أَنَا فَلَا آكُلُ مُتَّكِئًا»
حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْأَقْمَرِ قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا جُحَيْفَةَ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا آكُلُ مُتَّكِئًا»

ابو جحيفهؓ فرمائی چې حضور ﷺ وفرمائيل چې زه په ډډه لګولو سره ډوډئ نه خورم۔

فائده: ځکه چې په ډډه ډوډئ خوړل د توضع د خلاف کيدو سره سره د ډيرے ډوډئ خوړلو طرفته هم راخکونکی دی ۔بعضے خلق وائی چې ددی سره خيټه هم غټيګی او د زر هضم نه حاصليږی خپل ذکر حضور ﷺ ځکه وکړو چې ددی اتباع وکړے شی۔ علماءفرمائی چې دډډی لګولو څلور صورتونه دی او ټول په دی کښې شامل دی :اول دا چې ښے يا ګس طرف يو ديوال يا تکيه ته ډډه ورکړے شی ،دويم دا چې لاس په زمکه کيخودے شی او سهاره پے حاصله کړے شی ،دريم دا چې پرلت ووخلے شی په څه ګدئ وغيره

باندی کیناستے شی ، څلورم دا چی ملا تکیه یا دیوال سره ولګولے شی ، دا ټول صورتونه سره د مرتبو د فرق نه ډډه لګولو کښ داخل دی۔

حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى قَالَ: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ قَالَ: حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: «رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَّكِئًا عَلَى وِسَادَةٍ» قَالَ أَبُو عِيسَى: «لَمْ يَذْكُرْ وَكِيعٌ عَلَى يَسَارِهِ، وَهَكَذَا رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ عَنْ إِسْرَائِيلَ نَحْوَ رِوَايَةِ وَكِيعٍ، وَلَا نَعْلَمُ أَحَدًا رَوَى فِيهِ عَلَى يَسَارِهِ إِلَّا مَا رَوَاهُ إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، عَنْ إِسْرَائِيلَ»

جابر ابن سمرةؓ فرمائی چی ما حضورﷺ په یوه تکیه باندی ډډه وخونکے ولیده۔
فائده: دا هغه حدیث دے کوم چی د باب په اول کښ ذکر شوے دے ،مصنف په دی بانده کلام کول غوختل ځکه ئی دوباره ذکر کړو۔

باب ما جاء فی اتکاء رسول اللهﷺ

د حضورﷺ د تکیه نه علاوه په بل څیز باندی تکیه لګول

فائده:د تکیه ذکر په مخکښ باب کښ ذکر شوے دے ،ددی نه علاوه د حضورﷺ په سړو باندی د بیمارئ په حالت کښ سهاره او تکیه لګول هم ثابت دی ،په ظاهره مصنف دا باب ددی دپاره مستقل ذکر کړو۔

په دی باب کښ دوه روایات دی :

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ: حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ قَالَ: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ: «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ شَاكِيًا فَخَرَجَ يَتَوَكَّأُ عَلَى أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ وَعَلَيْهِ ثَوْبٌ قِطْرِيٌّ قَدْ تَوَشَّحَ بِهِ فَصَلَّى بِهِمْ»

حضرت انسؓ فرمائی چی د حضورﷺ طبیعت ناسازه وو دی وجے نه ئی د حجرے شریفے نه په حضرت اسامهؓ باندی سهاره کړی تشریف راؤړو او صحابهؓ له ئی مونځ وکړو۔ حضورﷺ دغه وخت یو یمنی څادر په سر کړے وو۔
فائده:دا حدیث د حضورﷺ د لباس په بیان کښ په ٦ نمبر باندی تیر شوے دے۔

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُبَارَكِ قَالَ: حَدَّثَنَا عَطَاءُ بْنُ مُسْلِمٍ الْخَفَّافُ الْحَلَبِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ بُرْقَانَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، عَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَرَضِهِ الَّذِي تُوُفِّيَ فِيهِ وَعَلَى رَأْسِهِ عِصَابَةٌ صَفْرَاءُ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ، فَقَالَ: «يَا فَضْلُ» قُلْتُ: لَبَّيْكَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: «اشْدُدْ بِهَذِهِ الْعِصَابَةِ رَأْسِي» قَالَ: فَفَعَلْتُ، ثُمَّ قَعَدَ فَوَضَعَ كَفَّهُ عَلَى مَنْكِبِي، ثُمَّ قَامَ فَدَخَلَ فِي الْمَسْجِدِ وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ

فضل ابن عباسؓ فرمائی چی زه د حضورﷺ په خدمت کښ د هغوی په مرض الوفات کښ حاضر شوم،د حضورﷺ په سر مبارک باندی دغه وخت زیړه پټئ تړلے شوی وه،ما سلام وکړو۔حضورﷺ دجواب نه بعد وفرمائی اے فضل! په دی پټئ باندی زما دا سر په خه په زور سره وتړه ما د حکم تعمیل وکړؤ،بیا حضورﷺ کیناستو او زما په اوږو باندی ئی سهاره وکړه او پاسیدو او جومات ته ئی تشریف یوړو۔ په دی حدیث کښ تفصیلی قصه ده۔
فائده:ر

دحضورﷺ په سر باندی د درد په وجه پټۍ تړلی وه ،بعضې علماؤ د پګړۍ ترجمه هم کړیده او د حضورﷺ ئې د مختلف رنګ پګړۍ ثابتې کړی دی،او د زیړی پګړۍ اثبات ئې هم ددی نه کړے دے،امام ترمذی چی کومے قصے طرفته اشاره کړے ده په مجمع الزوائد کښ تفصیلی ذکر ده:

حضرت فضلؓ فرمائی چی زه د حضورﷺ په خدمت کښ حاضر شوم ما ولیده چی د حضورﷺ تبه ده او په سر مبارک باندی ئې پټۍ تړلی ده۔حضورﷺ وفرمائیل زما لاس ونیسه ،ما د حضورﷺ لاس ونیسو نو حضورﷺ جومات ته تشریف یوړو او په ممبر باندی تشریف فرما شو ارشاد ئې وفرمایو چی خلقو ته اواز وکړه چی جمع شی،ما خلق راجمع کړل،حضورﷺ د حمد و ثناء نه بعد دا ارشاد وفرمایو:

زما ستاسو خلقو د خوا نه د تللو وخت نزدے راغلے دے دی وجے نه ما چی د چا مْلا وخلی وی نو زما مْلا موجوده ده بدله دی واخلی اود چا په آبرو چی ما حمله کړی وی زما آبرو(عزت) موجود دے بدله دی واخلی،د چا چی مالی مطالبه وی په ما باندی بدله دِ واخلی، څوک دِ دا شبه نه کوی د (بدلے اغیستو) سره به د رسول اللهﷺ په زړه کښد بغض پیدا کیدو یره ده ځکه چی بغض نه خو زما طبیعت دے او نه زما سره مناسب۔

خه پوښه شۍ! چی ماته ډیر محبوب هغه کس دے چی زمانه خپل حق واخلی یا ئې معاف کړی او زه الله ته په حوشحاله نفس سره لاړ شم۔زه په دی اعلان باندی په یو ځل اکتفاء نه کوم بیا به هم دا اعلان کووم،بیا د ممبر نه راکوز شو،د ماسپخین د مانځه نه بعد بیا ئې بانی تشریف کیخودو او دغه اعلان ئې وفرمایو او د بغض متعلق ئې د هغې مضمون اعاده وکړه،او دا ئې هم وفرمائیل چی د چا په ذمه باندی څه حق وی هغه هم ادا کړۍ او ددنیا د رسوائی خیال مه کوۍ چی د دنیا رسوائی د اخرت د رسوائۍ نه ډیره کمه ده۔

یو کس پاسیدو او عرض ئې وکړو چی زما په تاسو باندی دری درهم دی ،حضورﷺ ارشاد وفرمایو چی زه د مطابه کوونکی نه تکذیب کووم او نه تری قسم اخلم، لیکن دا تپوس کووم چی څنګه دی؟

هغه ووئیل یو سوالګرے ستاسو خواته راغلے وو تاسو ماته فرمائیلی وو چی ده له درے درهمه ورکړه۔

حضورﷺ فضلؓ ته وفرمائیل ده له درے درهم ورکړه۔

دی نه بعد یو بل کس پاسیدو وئی فرمائیل په ما باندی د بیت المال درے درهمه دی ما په خیانت باندی اغیستی دی ،حضورﷺ معلومه کړه ولی دی خیانت کوو؟ ده ووئیل زه دغه وخت ډیر محتاجه ووم۔حضورﷺ حضرت فضلؓ ته وفرمائیل دده نه وصول کړه۔

دی نه بعد حضورﷺ بیا اعلان وکړو چی که د چا د خپل حالت شک وی هغوی هم د دعا درخوست وکړۍ(چی د روانګۍ وخت دے)یو کس پاسیدو عرض ئې وکړو حضورﷺ! زما دروغجن یم،منافق یم ،د ډیر خوب مریض یم۔ حضورﷺ دعا وکړه اے الله! دته رشتیا نصیب کړه ایمان کامل نصیب کړه او د ډیر خوب د مرض نه ورته نجات ورکړه ۔

دی نه بعد یو بل صاحب پاسیدو عرض ئې وکړو اے د الله رسولهﷺ :زه دروغجن یم،منافق یم، یَو ګناه داسی نشته چی ما نوی کړے۔حضرت عمرؓ دته زورنه ورکړه چی خپل ګناه خوروی ۔حضورﷺ وفرمائیل عمره چپ شه ددنیا رسوائی د آخرتپه اعتبار ډیره کمه ده۔دی نه بعد حضورﷺ وفرمائیل اے الله دته رشتیا،کامل ایمان نصیب که او دده حالات خه کړه۔ددی نه وروستو عمرؓ په مجمع کښ څه خبره وکړه چی په دی باندی حضورﷺ وفرمائیل عمرؓ زما سره دے او زه د عمر سره یم، زما نه وروستو به حق د عمر سره وی چرته چی هم دے ځی۔

یو بل حدیث کښ سا هم دی چی یو صاحب پاسیدو چی اے د الله رسولهﷺ زه یریدونکے یم او د ډیر خوب مریض یم ۔حضورﷺ ددی دپاره هم دعا وکړه ۔

حضرت فضلؒ فرمائی چی ددی نه وروستو به مونږ کتل چی د هغه پشان څوک هم بهادر نه وو۔
دی نه بعد حضورﷺ د حضرت عائشہؓ کور ته لاړو او هلته ئی هم دغه شان اعلان وکړو او کوم ارشادات چی ئی د سړو په مجمع کښ درمائیلی وو هلته ئی هم وفرمائیل۔ یوے صحابیؓ عرض وکړه د الله رسولهﷺ زه د خپلے ژبے نه عاجزه یم ۔حضورﷺ د هغے د پاره دعا وفرمایئله۔(مجمع الزوائد)
ددی صحابهؓ خپل ځان ته منافق وئیل ددی وجے نه وو چی دوی حضراتو سره به د الله یره ډیره زیاته وه ددی څو واقعات مِ په حکایات صحابه دوم جلد کښ لیکلی دی ۔ددی وجے نه به ئی په ځان باندی د منافق شک راتلو۔
لکه چی ابوبکرؓ چی په اتفاق د اهل حق په ټول امت کښ افضل دے هغه ته به هم دا شبه راتله لکه چی په حکایات صحابه کښ د حضرت حنظلهؓ په قصه کښ ذکر دی۔
ابن ابی ملیکهؒ فرمائی چی ما دیرش صحابه کرام وموندل چی د هغوی هر یو په ځان باندی د منافقت یره وه چی خدائے مه که منافق خو نه یم۔
حضرت حسن بصریؒ چی مشهور اکابر صوفیه کښ دے او تابعی دے دوی فرمائی چی هغه مسلمانان کوم چی تیر شوی دی یعنی صحابهؓ او چی موجود یعنی تابعین او باقی صحابه یو هم داسی ندے چی په خپل نفاق باندی ورسره یره نه وی او په تیره زمانه کښ او موجوده کښ یو منافق داسی نشته چی مطمئن نه وی۔
د حضرت حسن بصریؒ دا مقوله ده چی څوک د نفاق نه نه یریگی هغه منافق دے۔
ابراهیم تیمیؒ دی په فقهاء تابعینو کښ دے فرمائی چی زه کله هم خبره خبره په خپل فعل باندی پیش کوم یو یریږم چی چرته دروغ نه وی(فتح الباری)
دا مطلب دے ددی حضراتو د نفاق نه د یرے چی خپل اعمال لگ او نیش کنړی۔ او د پند او نصیحت وغیره حالاتو نه یریری چی هسی نه دا نفاق شی۔

باب ما جاء فی صفة اکل رسول الله

د حضورﷺ د خوراک کولو په باره کښ

فائده: یعنی د ډوډی خوړلو بعضی آداب۔ په دی باب کښ پنځه آحادیث دی:

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ ابْنٍ لِكَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِيهِ، «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَلْعَقُ أَصَابِعَهُ ثَلَاثًا» قَالَ أَبُو عِيسَى:" وَرَوَى غَيْرُ مُحَمَّدِ بْنِ بَشَّارٍ هَذَا الْحَدِيثَ قَالَ: يَلْعَقُ أَصَابِعَهُ الثَّلَاثَ"

کعب ابن مالکؓ فرمائی چی حضورﷺ به خپلی گوتی دری پیرے سټلے۔
فائده: د ډوډئ خوړلو نه بعد د وینځلو نه مخکښ خپلی گوتی سټل مستحب دی البته ددی روایت په بنا باندی دری پیرے مستحب دی ۔
ملا علی قاریؒ فرمائی چی درے پیرے مراد ندی بلکه درے گوتی مراد دی ،لکه چی په بل روایت کښ رازی ،لکه چی پدی باب کښ پخپله د کعب ابن مالکؓ روایت راروان دے ،لیکن بعض شارحین حدیث فرمائی چی دا مستقل ادب دے چی درے پیرے وینځلو سره بلکل صفائی حاصلیری او درے گوتی چی کوم په بل حدیث کښ رازی دا هم مستقل ادب دے۔

حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ قَالَ: حَدَّثَنَا عَفَّانُ قَالَ: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَكَلَ طَعَامًا لَعِقَ أَصَابِعَهُ الثَّلَاثَ»

حضرت انسؓ فرمائی چی حضورﷺ به کله ډوډئ خوړله نو خپلې درے ګوتې مبارکې به ئې څټلې۔

فائده: د حضورﷺ عادت مبارکه په دریو ګوتو باندی د ډوډئ خوړلو وو،اګر چې په پنځوؤ ګوتو سره ډوډئ خوړل هم معلوم شوی دی۔لیکن درے ګوتې چې غټه ګوته،د شهادت ګوته او مینځئ ګوته دی د اکثر روایاتو نه معلومیږی۔په درے ګوتو باندی خوړلو کښ مصلحت د نوړئ وړوکے والے دے چې په ډیر مقدار ډوډئ ونه خوړے شی۔

امام نوویؒ فرمائیلی دی چې ددی احادیثو نه په دری ګوتو سره د ډوډئ خوړلو استحباب معلومیږی،لهذا څلورمه یا پینځمه ګوته بغیر ضرورت شاملول ندی پکار ،هاں که ضرورت وی یعنی داسی څیز وی چې د هغې په درے ګوتو سره خوړلو کښ مشقت وی نو بیا څه خبره نده۔

ملا علی قاریؒ فرمائی چې په پنځه ګوتو سره خوراک کول د حرص والو نخه ده،او د نوړئ د غټ والی د وجې نه کله کله د معدے په خله باندی بوجهـ کیدل او په مرئ کښ د انختلو سبب هم جوړیدے شی۔

حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ يَزِيدَ الصُّدَائِيُّ الْبَغْدَادِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِسْحَاقَ يَعْنِي الْحَضْرَمِيَّ قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْأَقْمَرِ، عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَمَّا أَنَا فَلَا آكُلُ مُتَّكِئًا»
حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْأَقْمَرِ نَحْوَهُ

ابو جحیفهؓ فرمائی چې حضورﷺ وفرمائیل چې زه په ډډه لګولو سره ډوډئ نه خورم۔

فائده: دا حدیث په دی باب کښ اول ذکر شوے دے۔

حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنِ ابْنٍ لِكَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ بِأَصَابِعِهِ الثَّلَاثِ وَيَلْعَقُهُنَّ»

کعب ابن مالکؓ فرمائی چې د حضورﷺ عادت شریفه په دریو ګوتو د ډوډئ خوړلو وو او دا به ئې څټلې هم۔

فائده: بعضے روایاتو کښ دی چې اول به ئې د مینځ ګوته څټله دهغې نه وروستو به ئې د شهادت ګوته هغې نه وروستو غټه ګوته،او دغه دری ګوتې وی چې په دی سره زمونږ د آقا د ډوډی خوړلو معمول وو۔په دی ترتیب کښ هم علماؤ ډیر مصلحتونه بیان کړی دی ۔یو دا چې داسی ترتیب خی طرف باندی رازی ځکه چې د شهادت ګوته د مینځئ ګوتې خی طرفته وی ،دویم دا چې مینځئ ګوته د اوګدوالی په وجه ډیره ملوثه وی نو د هغې اول صفائی پکار ده۔

خطابیؒ فرمائی چې بعضے بے وقوفه د ګوتو څټل ناخوښه او بد کنړی،حالانکه ددی دومره عقل نشته چې په ګوتو باندی خو هم هغه ډوډئ ده کومه لګ ساعت مخکښ تا خوړله څه بل څه خو ندی۔

ابن حجرؒ فرمائی چې که څوک خپل کار بد ګنړی نو د هغه متعلق د کلام کیدے شی ،او چې د حضورﷺ یو کار قباحت طرفته منسوب کوی نو د کفر یره ده (جامع الوسائل)

په حقیقت کښې داسی کارونو کښې د عادت ډیر دخل وی ،د چا چې عادت وی هغه دی طرفته التفات هم نه وی ،دی وجې که د چا طبعیت کښې کراهت هم وی نو هغه له هم د عادت جوړولو کوشش پکار دے۔

بنده(حضرت شیخ صاحب) چې کله حجاز ته لاړو نو بعضې دوستانو رانه ډیر په تعجب او حیرانتیا سره تپوس کړے وو :چې په هندوستان کښې یوه میوه ده د آم په نوم باندی د هغې متعلق هم داسی گنده خبرے اوریدلی دی چې حیرانتیا کیږی،چې دا په خله کولے شی او چُپلے شی بیا بهرراویستے شی بیا چُپلے شی بیا راویستلے کیږی او کټلے کیږی غرض په داسی بد انداز سره دوی تعبیر کوو چې هغې نه دا اندازه کیده چې ددی تذکرے سره به د اُلټۍ راشی، لیکن یو هندوستانی ته د کراهت خیال هم نه رازی۔ او دا څه ناشنا ده؟ ولی د پیرنۍ چمچ ټوله په خله کولے شی او بیا سره د لاړو په پلیټ کښې کیخودے شی بیا او بیا په خله کولے شی،دغه شان په سلونو مثالونه دی خو د عادت د وجې کراهت وهم هم نه رازی۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ: حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ دُكَيْنٍ قَالَ: حَدَّثَنَا مُصْعَبُ بْنُ سُلَيْمٍ قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ: «أُتِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَمْرٍ فَرَأَيْتُهُ يَأْكُلُ وَهُوَ مُقْعٍ مِنَ الْجُوعِ «

انس ابن مالکؓ فرمائی چې د حضورﷺ خواته کهجورے راوړے شوی نو حضورﷺ نوش فرمائیلی او به دغه وخت د لوگے د وجې نه پخپله سهاره باندی ناست نه وو بلکه د خپو په سر(اکڑوں) ناست وو او په څه شی باندی ئی سهاره لگولی وه ۔

فائده: یعنه مَلا مبارکه ئی په دیوال یا څه څیز باندی تکیه کړې وه ،په تکیه سره د خوراک نه خو په احادیثو کښې منع راغلی ده ،لیکن دلته دا دکمزورۍ دعذر د وجې نه وه دی وجې نه په دی روایت باندی د ممانعت واله روایاتو باندی اشکال نشی راتلے او نه تری بلا عذر ډډه لگولو استحباب ثابتیږی۔

باب ما جاء فی خبز رسول اللهﷺ
د حضورﷺ د ډوډۍ مبارکې ذکر

فائده: یعنی د کوم قسم د ډوډۍ د حضورﷺ معمول وو ۔په دی باب کښې اته احادیث ذکر دی۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، وَمُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ يَزِيدَ يُحَدِّثُ عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: «مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ خُبْزِ الشَّعِيرِ يَوْمَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ حَتَّى قُبِضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ»

حضرت عائشهؓ فرمائی چې د حضورﷺ د وفات پورې چرته حضورﷺ او د هغوی اهل عیال د وربشو ډوډۍ هم مسلسل په مړه خیټه نده خوړلی۔

فائده: یعنی که د کهجورو سره دا حالت راغلی وی خو د ډوډۍ نه مسلسل دا نوبت دوه ورځې هم نده راغلی،لیکن پدی باندی دا اعتراض رازی هغه داچې په روایاتو کښې ثابت دی چې حضورﷺ به خپلو بیبیانو له پوره د یو کال نفقه ورکوله ،وس په دی دواړو روایاتو کښې تعارض معلومیږی ،علماء ددی مختلف توجیهات کړی دی بعضی دهغې نه دادی چې په دی حدیث کښې د اهل لفظ زائد دے او مراد په خپله د حضورﷺ ذات مبارک دے چې د ځان د پاره ذخیره ثابت نده،لکه چې د حضوت عائشهؓ روایت د باب په

آخر کښې ددې مضمون رازي۔ بعضو دا هم توجيه کړې ده چې ذخيره خو به حضورﷺ بيبيانو ته حواله کوله خو بيبيانو به د ثواب په شوق باندې صدقه کوله ،د بنده (حضرت شيخ) په نزد باندې نور هم توجيهات ممکن دي ليکن د يو لوئ کس د کلام نه منقول نۀ دي وجے حجت ندے البته محتمل ضرور دي۔

اول دا چې کيدے شي نفقه په دې حساب سره وه چې مسلسل د دوو ورځو د ډوډئ حساب پکښې نۀ رازي لکه يوه ورځ کهجوري يوه ورځ ډوډئ يو ه فاقه، بله داچې دا هم بده نده چې دغه نفقه د کهجورو وه او په دې حديث کښې د ډوډئ نفي ده نۀ د کهجورو۔

« حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي بُكَيْرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا حَرِيزُ بْنُ عُثْمَانَ، عَنْ سُلَيْمِ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا أُمَامَةَ الْبَاهِلِيَّ يَقُولُ: «مَا كَانَ يَفْضُلُ عَنْ أَهْلِ بَيْتِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُبْزُ الشَّعِيرِ»

ابو امامهؓ فرمائي چې د حضورﷺ په کور کښې به چرته د وربشو ډوډئ نۀ سِوا کيده۔

فائده: يعنې د وربشو ډوډئ به چې کله پخيده نو په دومره مقدار به پخيده چې سِوا کيده به نۀ د مړيدو به هم نۀ پوره کيده او ددې سره د حضورﷺ د ميلمنو د ډېر والې او اهل صفه خو مستقل د حضورﷺ ميلمانه هسې هم وو۔

« حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُعَاوِيَةَ الْجُمَحِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا ثَابِتُ بْنُ يَزِيدَ، عَنْ هِلَالِ بْنِ خَبَّابٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَبِيتُ اللَّيَالِيَ الْمُتَتَابِعَةَ طَاوِيًا هُوَ وَأَهْلُهُ لَا يَجِدُونَ عَشَاءً وَكَانَ أَكْثَرُ خُبْزِهِمْ خُبْزَ الشَّعِيرِ»

ابن عباسؓ فرمائي چې حضورﷺ او د هغوی کور والو به څو څو شپے په نهره تيرولې چې د شپې به د خوراک دپاره څه ميلاؤ نۀ شو او اکثر خوراک به د حضورﷺ د وربشو ډوډئ وه اگر چې کله کله به د غنمو ډوډئ هم ميلاويده۔

فائده: په حضرات صحابه کرامؓ کښې اگر چې بعض صحابهؓ مالداره وو خو هغوی ته به د حضورﷺ د ډېر پټوالې د وجے پته نۀ لگيده،دغه شان اهل عيال به هم اخفاء کوله۔

« حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ: حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الْمَجِيدِ الْحَنَفِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ دِينَارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو حَازِمٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، أَنَّهُ قِيلَ لَهُ: أَكَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّقِيَّ؟ - يَعْنِي الْحُوَّارَى - فَقَالَ سَهْلٌ: «مَا رَأَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّقِيَّ حَتَّى لَقِيَ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ تَعَالَى»، فَقِيلَ لَهُ: هَلْ كَانَتْ لَكُمْ مَنَاخِلُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: «مَا كَانَتْ لَنَا مَنَاخِلُ». قِيلَ: كَيْفَ كُنْتُمْ تَصْنَعُونَ بِالشَّعِيرِ؟ قَالَ: «كُنَّا نَنْفُخُهُ فَيَطِيرُ مِنْهُ مَا طَارَ ثُمَّ نَعْجِنُهُ»

سهل ابن سعدؓ نه چا تپوس وکړو چې حضورﷺ چرته د سپينو وړو ډوډئ خوړلې ده دوئ جواب ورکړو چې د حضورﷺ د اخير عمر پورې به چرته د سپين وړه راغلې هم نۀ وي،بيا سوال کونکي تپوس وکړو چې د حضورﷺ په زمانه کښې ستاسو خلقو کره چانړونه وو دوی وفرمائيل نه، سوال کونکه ووی بيا د وربشو

ډوډۍ به تاسو څنګه پخولی حالانکه په هغې کښې خو خسنړی وغیره ډیر وی دوئ وفرمائیل ددی وړو له به مونږ پوکے ورکړو کوم چې به غټ غټ خسنړی وو هغه به والوتل باقی به مو اغیړل۔

فائده: الله الصمد،نن صبا د غنمو ډوډۍ هم بغیر چاڼړ نه خوړل مشکل دی حالانکه بغیر چاڼړه ډوډۍ زر هم هضم کیږی او د چاڼړ شوی وړو ډوډۍ ډیره سخته وی ،لیکن بیا هم د خوند په وجه په ډیرو کورنو کښې دا فضول رواج شروع شوے دے،علماء فرمائی د ټولو نه اول بدعت چې په اسلام کښې راغلے هغه د چاڼړ بدعت دے،لیکن ددی دا مطلب ندے چې دا هغه بدعت دے کوم چې د سنت مقابل دے بلکه د نوی رواج په اعتبار ئې ورته بدعت ووئیل کنه ددی په جائز والی کښې اشکال نشته۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ يُونُسَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: «مَا أَكَلَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى خِوَانٍ وَلَا فِي سُكُرَّجَةٍ، وَلَا خُبِزَ لَهُ مُرَقَّقٌ» قَالَ: فَقُلْتُ لِقَتَادَةَ: فَعَلَامَ كَانُوا يَأْكُلُونَ؟ قَالَ: «عَلَى هَذِهِ السُّفَرِ» قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ: «يُونُسُ هَذَا الَّذِي رَوَى عَنْ قَتَادَةَ هُوَ يُونُسُ الْإِسْكَافُ»

حضرت انس فرمائی چې حضور ﷺ چرته په میز باندی ډوډی نده خوړلی او نه ئې په وړو پلیټونو کښې خوړلی ده او نه د حضور ﷺ د پاره چپاتی پاخه کړے شوی یونس فرمائی چې ما د قتادة نه تپوس وکړو چې بیا خوراک به ئې په څه باندی کوو دوئ وفرمائیل چه د څرمنې په دی دسترخوان باندی ۔

فائده: یونس او قتادة د چا ذکر چې دلته راغلے دے دوی ددی حدیث په سند کښې راویان دی مناوئ او ،ملا علی قاریؒ لیکلی دی چې په میز باندی ډوډۍ خوړل همیشه د تکبر واله خلقو عادت پاتې شوے دے،کوکب دری کښې ئې لیکلی دی چې په نن زمانه کښې چونکه د نصاریٰ سره مشابهت دے ددی وجے نه مکروه تحریمی دے،

د مشابهت دا مسئله ډیره اهمه ده په حدیثو کښې په مختلفو عنواناتو کښې په دی باندی زورنه شوی ده،په خوراک څښاک،لباس کښې تر دی چې په عبادت کښې ئې هم ددی نه منع فرمائیلې ده لکه چې د عاشوراء روژه او د اذان په احادیثو کښې ددی ډیروالے ذکر دے ،مګر مونږ خلق ددی نه خاص طور بے پرواه یو، فالی الله المشتکیٰ۔

« حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ عَبَّادٍ الْمُهَلَّبِيُّ، عَنْ مُجَالِدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ، فَدَعَتْ لِي بِطَعَامٍ وَقَالَتْ: «مَا أَشْبَعُ مِنْ طَعَامٍ فَأَشَاءُ أَنْ أَبْكِيَ إِلَّا بَكَيْتُ» . قَالَ: قُلْتُ لِمَ؟ قَالَتْ: «أَذْكُرُ الْحَالَ الَّتِي فَارَقَ عَلَيْهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الدُّنْيَا، وَاللَّهِ مَا شَبِعَ مِنْ خُبْزٍ وَلَحْمٍ مَرَّتَيْنِ فِي يَوْمٍ»

مسروقؒ فرمائی چې زه د عائشہؓ خواته لاړم هغې زما د پاره ډوډۍ راوغوختله او وئ فرمائیل چې زه چرته په مړه خیټه باندی ډوډۍ نه خورم مګر زما زړه غواړی چې وژاړم پس په ژړا شم، مسروقؒ وفرمائیل ستاسو زړه ولی ژړا غواړی دوئ وفرمائی زما د حضور ﷺ هغه حالت رایاد شی کوم کښې چې زمونږ نه جدا شو چې کله هم حضور ﷺ په ورځ کښې دوه پیره د ډوډۍ یا غوښې نه د مړیدو موقع نده راغلې۔

« حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ يَزِيدَ، يُحَدِّثُ، عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «مَا شَبِعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ خُبْزِ الشَّعِيرِ يَوْمَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ حَتَّى قُبِضَ»

حضرت عائشهؓ فرمائی چی حضورﷺ چرته د وربشو په ډوډئ باندی هم دوه ورځے پرله پسے ندے موړ شوے۔

فائده: دا هغه حدیث دے کوم چی د باب په شروع کښ تیر شوے دے دومره فرق دے چی هلته د اهل عیال ذکر هم وو او دلته صرف د حضورﷺ د ذات مبارک ذکر دے آخر ئی یو دے چی حضورﷺ به د ځان دپاره او د اهل عیال د پاره فقر خوښوو، داسی به کیدل هم نه چی ټول ماړه شی چی څه به وو هغه به په غریبانو باندی تقسیم شو۔

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو أَبُو مَعْمَرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ قَالَ: «مَا أَكَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى خِوَانٍ وَلَا أَكَلَ خُبْزًا مُرَقَّقًا حَتَّى مَاتَ»

حضرت انسؓ فرمائی حضورﷺ تر اخیرپ پوری نه په میز باندی ډوډئ خوړلی او نه ئی چرته چپاتی خوړلی۔

فائده: دا حدیث د باب په ۵ نمبر باندی تیر شوے دے د حدیث روایاتو نه داخبره خو صراحة ثابته ده چی حضورﷺ س فقر حالت پخپله خوښ کړے وو او کله چی به د حضورﷺ نه د فرشے په ذریعه باندی د فقر فاقے او مالداریٔ او بادشاهۍ مینځ کښ د خوښی تپوس کیدلو نو حضورﷺ به اول قسم یعنی فاقه خوښوله لکه چی ډیر حدیثونه په دی مضمون کښ راغلی دی لیکن په دی کښ د علماء دوه قوله دی چی حضورﷺ د خوښے په وجه باندی په ملاویدل هم دومره چی بره ذکر شول ،یا سره ددی نه چی موجود به وو حضورﷺ به د تواضع په وجه خوړل نه او تقسیمول به ئی۔

باب ما جاء فی ادام رسول الله
د حضورﷺ د سالن په باره کښ

په دی باب کښ د دیرشو نه ډیر حدیثونه دی ،بعضے نسخو کښ یو مضمون بل هم ذکر دے هغه داچی سالن او هغه مختلف څیزونه کوم چی حضورﷺ خوړلی دی۔

« حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَهْلِ بْنِ عَسْكَرٍ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَسَّانَ قَالَ: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «نِعْمَ الْإِدَامُ الْخَلُّ» قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، فِي حَدِيثِهِ: «نِعْمَ الْإِدَامُ أَوِ الْأُدْمُ الْخَلُّ»

حضرت عائشهؓ فرمائی چی حضورﷺ یو ځل وفرمائیل چی سرکه هم څه خه سالن دے۔

فائده: په دی لحاظ باندی چی په دی کښ مشقت او محنت کم وی ،او ډوډئ بے تکلفه خوړلے شی ،او هر وقت میلاویږی او سترړی پکښ نشته ،او په دنیاوی گزران کښ مختصر والے بهتر دے ،دد ے نه علاوه په

سرکه کښ خصوصي فائدے هم ډیرے دي : د زهرو د پاره مفید ده،د بلغم او زیړی کټ کونکی ده،س ډوډئ ہی هضم کښ مددګاره ده،د خیټے د چنجو قتله ده ،لوَړه خه راولی ،البته د یخ مزاج د وجے نه د بعضے خلقو دپاره نقصاني ده لیکن په دی لحاظ باندی چی بهترین سالن دے او هر وخت میلاویږی ځومره چی ئی تعریف وکړے شی د قیاس موافق دے ،دی وجے نه په یو حدیث کښ راغلی دی چی حضورﷺ په شکله او فرمائیل به ئی چی څه ډیر خه سالن دے ،یو حدیث کښ دی چی حضورﷺ په دی کښ د برکت دعا کړی ده او فرمائیلی ئی دی چی دا د انبیاء سالن وو،په یو حدیث کښ دی چی په کوم کور کښ سرکه وی جحپ محتاجه ندے یعنی د سالن احتیاج ورته نشته۔(جمع الوسائل کښ دا روایت د ابن ماجه نه نقل دے)

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ قَالَ: سَمِعْتُ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ يَقُولُ: «أَلَسْتُمْ فِي طَعَامٍ وَشَرَابٍ مَا شِئْتُمْ؟ لَقَدْ رَأَيْتُ نَبِيَّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا يَجِدُ مِنَ الدَّقَلِ مَا يَمْلَأُ بَطْنَهُ»

نعمان ابن بشیرؓ فرمائی تاسو خلق په خوراک څښاک کښ په نعمتونو کښ ئ حالانکه ما حضورﷺ لیدلے دے چی د معمولی قسم کهجورو به هم دومره مقدار نه وو چی خیټه پری مړه شی۔

فائده:د صحابیؓ مقصد ترغیب ورکول دی د حضورﷺ د اتباع او د دنیا د مختصر والی او په حدیث کښ خو چی کله د کهجوری د موړ والی ذکر وشو نو ډوډئ لا څه کوی لهذا د ترجمة الباب سره مناسبت راغے۔

حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْخُزَاعِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ مُحَارِبِ بْنِ دِثَارٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " نِعْمَ الْإِدَامُ أَوِ الْأُدْمُ: الْخَلُّ"

حضرت جابرؓ فرمائی چی حضورﷺ فرمائیلی دی چی سرکه هم څه خه سالن دے ۔

فائده: ممکن دی چی حضورﷺ کله دا ارشاد فرمائه نو عائشةؓ او جابرؓ دواړه حضرات موجود وو او نزدے دادی چی مختلفو وختونو کښ دا حضورﷺ فرمائیلی دی۔

« حَدَّثَنَا هَنَّادٌ قَالَ: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ زَهْدَمٍ الْجَرْمِيِّ قَالَ: كُنَّا عِنْدَ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ، فَأُتِيَ بِلَحْمِ دَجَاجٍ فَتَنَحَّى رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ فَقَالَ: مَا لَكَ؟ فَقَالَ: إِنِّي رَأَيْتُهَا تَأْكُلُ شَيْئًا فَحَلَفْتُ أَنْ لَا آكُلَهَا قَالَ: «ادْنُ فَإِنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ لَحْمَ دَجَاجٍ»

زهدمؒ فرمائی چی مونږ د حضرت ابو موسیٰ اشعریؓ سره وو چی په ډوډئ کښ د چرګ غوښه راغله ،ناستو خلقو کښ یو کس وروستو شو ،ابو موسیٰؓ تری د وروستو کیدو د وجے تپوس وکړو نو ده وفرمائیل چی ما چرګ په ګندګئ خوړلو باندی لیدلے وو دی وجے نه ما د چرګ و غوښے نه قسم خوړلے دے ،حضرت ابو موسیٰؓ وفرمائیل راځه بے تکلفه ئی وخوره ما حضورﷺ پخپله ددی په خوراک لیدلے که دا ناجائز وے نو هغوی به څنګه خوړه۔

فائده: مقصود دادے چی د مباح شرعی تحریم ندے پکار دی وجے قسم مات که او کفاره ورکړه ،چرگ د جمهورو علماءو په نزد باندی جائز دے البته جلاله، جلاله هغه چرگه ده چی گندگی خوری نو ددی خوراک مکروه دے ،چرگ گرم او رطب وی زر هضم کیګی اګاط خه پیدا کوی دماغ او ټولو بنیادی حصو لره قوت ورکوی ،آواز هم صفا کوی او زنگ هم ښائسته کوی او عقل ته هم قوت ورکوی۔

» حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ سَهْلٍ الْأَعْرَجُ الْبَغْدَادِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَهْدِيٍّ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عُمَرَ بْنِ سَفِينَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ قَالَ: «أَكَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَحْمَ حُبَارَى»

سفینهؓ فرمائی چی ما د حضور ﷺ سره د حباریٰ غوښه خوړلی ده۔

فائده: حباریٰ یوه مرغۍ دی ددی په ترجمه کښ عالمان مختلف دی چا د ترجمه د تعذری کړیده،بعضو د زرکی کړیده،بعضی د سُرخاب کړیده،بعضو د چکا چکوئی کړی ده،محیط اعظم کښ لیکلی دی چی حباریٰ ته په فارسۍ کښ ہو بره او شوات او شوال وائی ،په ترکۍ کښ عذری او په هندئ کښ چرز وائی ،ځنگلی مرغۍ ده رنگ ئی خاورین دے مرئی ئی لویه او خپی ئی اوږدے او په مخوکه کښ ئی هم اوږدوالے دے ،ډیره تیزه الوزی جرج ورته هم وائی ،یونانی خلق ورته غلوفس وائی په جسم کښ د مرغابۍ او د اکونج درمیان کښ وی ،لغات الصراح هم د حباریٰ ترجمه په شوات سره کړیده ،په مظاهر حق کښ تعذری لیکلی ده،دحباریٰ ترجمه نورو حضراتو هم تعذری لیکلی ده دی وجے دا صحیح ده،صاحب غیاث تعذری او چرز لیکلی ده،بحر الجواهر هم تعذری او چرز لیکلی ده، او دا ئی هم لیکلی دی چی دی ته سرخاب هم وائی لیکن صاحب محیط د سرخاب معنیٰ کوم ته چی چکوه هم وائی دا بله مرغۍ ده ،او صاحب نفائس د چکوا او سرخاب ترجمه په عربۍ کښ نحام لیکلی ده،دی وجے ئی نزدی داده چی سرخاب بله مرغۍ دی ،سفینهؓ د حضور ﷺ د مولیٰ لقب وو ده ته سفینه ددی وجے وائی چی ده به د کشتۍ پشان په سفر کښ ټول سامان په ځان باندی بار کوو۔

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنِ الْقَاسِمِ التَّمِيمِيِّ، عَنْ زَهْدَمٍ الْجَرْمِيِّ قَالَ: كُنَّا عِنْدَ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: فَقَدَّمَ طَعَامَهُ وَقَدَّمَ فِي طَعَامِهِ لَحْمَ دَجَاجٍ وَفِي الْقَوْمِ رَجُلٌ مِنْ بَنِي تَيْمِ اللَّهِ أَحْمَرُ كَأَنَّهُ مَوْلًى قَالَ: فَلَمْ يَدْنُ فَقَالَ لَهُ أَبُو مُوسَى: «ادْنُ، فَإِنِّي قَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكَلَ مِنْهُ» ، فَقَالَ: إِنِّي رَأَيْتُهُ يَأْكُلُ شَيْئًا فَقَذِرْتُهُ فَحَلَفْتُ أَنْ لَا أَطْعَمَهُ أَبَدًا

زهدمؒ فرمائی چی مونږ د ابو موسیٰ اشعریؓ سره وو ده هغه خواته ډوډۍ راوړے شوه چی پکښ د چرگ غوښه هم وه په مجمع کښ یو سړے د بنو تیم الله د قبیلے وو چی سُر رنگے وو په ظاهره ازاد شوے غلام ښکاریدو ده ډډه اختیار کړه ابو موسیٰؓ ورته د متوجه کیدلو دپاره ووئیل او د حضور ﷺ د چرگ د خوراک ذکر ئی ورته وکړو دوی عذر وکړو چی ما دا چرگ په څه داسی څیز خوړلو باندی ولیده چی ماته د هغے نه کراهت رازی ما ددی وجے ددی د خوراک نه قسم وخوړو۔

فائده: د هم هغه حدیث دے کوم چی مخکښ ذکر شو د سند د اختلاف د وجے نه صورة په قصه کښ لگ اختلاف ښکاری شمائل کښ دواړه حدیثونه مختصر ذکر دی بخاری شریف کښ دا اوږده قصه ده،ددی

حاصل دادے چې ابوموسیٰؓ ورته بیا وفرمائیل چې رازه وخوره او دقسم کفاره ورکړه د حلال شی د نه خوړلو څه معنیٰ۔

« حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، وَأَبُو نُعَيْمٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عِيسَى، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الشَّامِ يُقَالُ: لَهُ عَطَاءٌ، عَنْ أَبِي أَسِيدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُوا الزَّيْتَ وَادَّهِنُوا بِهِ، فَإِنَّهُ مِنْ شَجَرَةٍ مُبَارَكَةٍ

ابو اسیدؓ فرمائی چې حضور ﷺ وفرمائیل د زیتون تیل په خوراک کښ هم استعمالوئ او د مالش د پاره هم ځکه چې داد بابرکته ونی تیل دی ۔

فائده: په دی ونه باندی د مبارکی اطلاق د قرآن پاک په دی آیت کښ راغلے دے(مِنْ شَجَرةٍ مُباركةٍ زيتونةٍ) (النور) او په بابرکته کیدو په وجه کښ د عالمانو مختلف قولونه دی بعضے خلق فرمائی چې دا اکثر په شام کښ پیدا کیږی او د شام زمکه برکت واله ده ځکه چې دیته اویا پیغمبران رالیږلی دی ۔

بعضے فرمائی چې ددی نفعے ډیرے دی لکه چې ابو نعیم نقل کړی دی چې په دی کښ د اویاو مرضونو شفا ده چې د هغے نه یو جذام دے ،ابن عباسؓ فرمائی چې د خونه په هر شی کښ فائدے دی ،ددی تیل د بلولو پکار رازی،د خوړلو پکار رازی،د دباغت(یعنی د څرمنی د رنګ کولو) پکار رازی ددی ایره د ریخمو د بنړلو د پاره خاص طور فائده مند دی ،وئیلے کیږی چې ددی د ونی عمر ډیر زیات وی په څلویښتو کالو کښ خو میوه نیسے او د زرو کالو پوری ئی اکثر عمر وی ،ددی فائدے د ډاکټرئ په کتابونو کښ ډیر ذکر دی۔

« حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ قَالَ: حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «كُلُوا الزَّيْتَ وَادَّهِنُوا بِهِ، فَإِنَّهُ مِنْ شَجَرَةٍ مُبَارَكَةٍ» قَالَ أَبُو عِيسَى: «وَعَبْدُ الرَّزَّاقِ كَانَ يَضْطَرِبُ فِي هَذَا الْحَدِيثِ فَرُبَّمَا أَسْنَدَهُ، وَرُبَّمَا أَرْسَلَهُ»

حضرت عمرؓ فرمائی چې د حضور ﷺ ارشاد دے چې د زیتون تیل خورئ او په مالش کښ استعمالوئ ځکه چې دا د مبارکه ونی نه پیدا دی۔

فائده: دا روایات د حضور په معمولاتو کښ ځکه ذکر دی چې کله حضور ﷺ ددی ترغیب ورکړو نو پخپله استعمالول خو ظاهر دی۔

حَدَّثَنَا السِّنْجِيُّ وَهُوَ أَبُو دَاوُدَ سُلَيْمَانُ بْنُ مَعْبَدٍ السِّنْجِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ عُمَرَ
« حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، قَالَا: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْجِبُهُ الدُّبَّاءُ فَأُتِيَ بِطَعَامٍ، أَوْ دُعِيَ لَهُ فَجَعَلْتُ أَتَتَبَّعُهُ فَأَضَعُهُ بَيْنَ يَدَيْهِ لِمَا أَعْلَمُ أَنَّهُ يُحِبُّهُ»

حضرت انسؓ فرمائی چی د حضورﷺ کدو خوښ وو یو ځل حضورﷺ ته ډوډئ راغله یا حضورﷺ په یو دعوت باندی تشریف ووړو د راوی شک دے چی دا قصه د کومے واقعے ده چی په هغے کښ کدو وو چونکه ما ته معلومه وه چی د حضورﷺ کدو خوښ وی دی وجے نه به ما د هغے ټنگرے کتلے او حضورﷺ ته به مې مخے ته کولے۔

فائده: ددی نه دا معلومه شوه چی که په لوښے کښ مختلف څیزونه وی نو د بل د مخے نه څیز راغیستلو کښ څه باک نشته خو په دی شرط چی ملگرے بد نه گنړی ،

په کتلو سره پیش کولو مطلب دادے چی دشوروا زیاتی کولو معمول وو ،او حضورﷺ ترغیب هم کړے دے چی شوروا ډیره کوئی چی گاونډی هم نفع حاصله کړی۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ: حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ جَابِرٍ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَأَيْتُ عِنْدَهُ دُبَّاءً يُقَطَّعُ فَقُلْتُ: مَا هَذَا؟ قَالَ: «نُكَثِّرُ بِهِ طَعَامَنَا» قَالَ أَبُو عِيسَى: " وَجَابِرٌ هُوَ جَابِرُ بْنُ طَارِقٍ وَيُقَالُ: ابْنُ أَبِي طَارِقٍ، وَهُوَ رَجُلٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا نَعْرِفُ لَهُ إِلَّا هَذَا الْحَدِيثَ الْوَاحِدَ، وَأَبُو خَالِدٍ اسْمُهُ: سَعْدٌ"

جابر ابن طارقؓ فرمائی چی زه د حضورﷺ په خدمت کښ حاضر شوم نو کدو وړو کے کیدو او وړی ټنگرے ئی کولے ما وئیل ددی سره بپه څه کوئ؟ دوی وفرمائیل په دی باندی به سالن ډیر کړے شی۔

فائده: د کدو فائدے د حدیثو عالمانو ډیرے لیکلی دی او د طب په کتابونو کښ هم ډیرے فائدے لیک دی، دهغے نه څه دا هم دی چی عقل تیزوی او مازغو له طاقت ورکوی۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي طَلْحَةَ، أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ: إِنَّ خَيَّاطًا دَعَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِطَعَامٍ صَنَعَهُ، قَالَ أَنَسٌ: فَذَهَبْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى ذَلِكَ الطَّعَامِ فَقَرَّبَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُبْزًا مِنْ شَعِيرٍ، وَمَرَقًا فِيهِ دُبَّاءٌ وَقَدِيدٌ، قَالَ أَنَسٌ: «فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَتَبَّعُ الدُّبَّاءَ حَوَالَيِ الْقَصْعَةِ» فَلَمْ أَزَلْ أُحِبُّ الدُّبَّاءَ مِنْ يَوْمِئِذٍ

حضرت انسؓ فرمائی چی یو ځل یو درزی حضورﷺ له دعوت ورکړو زه هم د حضورﷺ سره لاړم هغه د حضورﷺ خدمت کښ د وربشو ډوډئ او د غوښے او کدو شوروا کیخوده ما حضورﷺ لیدلو چی د لوښے د هر طرف نه به ئی د کدو ټنگرے راغستلے او خوړلے به ئی دد غ وخت نه زما هم کدو خوښ شو۔

فائده: حضرت انسؓ ته به پخپله هم دعوت شوی وی یا به د حضورﷺ سره د خادم په طور باندی تلے وی په دی کښ هم څه باک نشته په دے شرط چی دعوت کونکی ته بد نه لگی۔

د حضرت انسؓ دا خبره چی زما دغه وخت نه کدو خوښ شو دا د هغے محبت ثمره ده کوم چی د صحابهؓ د حضورﷺ سره وو او د محبت تقاضا داده چی د محبوب هره یوه ادا محبوبه وی ،او هره یوه

خبره ئی په زړه کښې لاره وکړی د کومے درجے چې محبت وی د هغې درجے به د محبوبیت اثرات وی ،لیکن د خدائے شان ته گوره چې نن د حضورﷺ د محبت دعویٰ کونکو ته د حضورﷺ پشان شکل جوړول هم خوښ ندی۔

تعصی الاله و انت تظهر حبه هذا لعمری فی الفعال بدیع

لوکان حبک صادقا لاطعته ان المحب لمن یحب مطیع

ببیں تفاوت رہ از کجاست تا بکجا

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدَّوْرَقِيُّ، وَسَلَمَةُ بْنُ شَبِيبٍ، وَمَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، قَالُوا: حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ الْحَلْوَاءَ وَالْعَسَلَ»

حضرت عائشةؓ فرمائی د حضورﷺ خوږه او گبین ډیر خوښ وو۔

فائده: په ظاهره د حلوه نه مراد هر خوږ شے دے لیکن بعض خلقو ددی نه معروفه حلوه مراد اغیستی ده،چې د خوږے او غوړو وغیره نه پخیږی ،فرمائی چې د ټولو نه اول حلوا حضرت عثمانؓ جوړه کړه او د حضورﷺ خدمت کښې ئی پیش کړه ،او حضورﷺ خوښه کړه ،دغه حلوی د وړو،گبین او غوړو نه جوړه کړے شوے وه،د چینۍ/گوړے په دغه زمانه کښې څه دستور نه وو دی وجے نه خوږ شے به یا د گبین یا کهجورو نه جوړولے شو۔

حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الزَّعْفَرَانِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ: قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ: أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ، أَنَّ عَطَاءَ بْنَ يَسَارٍ، أَخْبَرَهُ أَنَّ أُمَّ سَلَمَةَ، أَخْبَرَتْهُ أَنَّهَا «قَرَّبَتْ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَنْبًا مَشْوِيًّا فَأَكَلَ مِنْهُ، ثُمَّ قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ وَمَا تَوَضَّأَ»

حضرت ام سلمةؓ فرمائی چې ما د ولی ورته شوی غوښه د حضورﷺ خدمت کښې پیش کړه هغوی وخوړله بیا ئی اودس ونه کړو او مونځ ئی وفرمایه۔

فائده: بعض روایاتو نه د اوور پخ شوی څیز د اودس ماتوونکے معلومیږی او دا مذهب د بعضے متقدمینو عالمانو دے ،لیکن دخلفاء اربعه ائمه اربعه او جمهور علماء دا مذهب دے چې کوم حدیثونه د اودس په وجوب باندی دلالت کوی هغه منسوخ دی ما پکښې تاویل شوے دے ، دحضرت ام سلمةؓ دا حدیث هم د جمهورو مرسته کوئی چې حضورﷺ بغیر د اودس کولو نه مونځ وفرمایه۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ قَالَ: حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ زِيَادٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ: «أَكَلْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شِوَاءً فِي الْمَسْجِدِ

عبد الله ابن حارثؓ فرمائی چې مونږ د حضورﷺ سره په جومات کښې ورته شوی غوښه وخوړله ۔

فائده:ددی نه په ظاهره دا معلومیږی چی په جومات کښ خوراک څښاک جائز دے ،خو په دی شرط چی په ذرو/ټوکړو وغیره باندی جومات خراب نشی کنه بیا مکروه دی ،او دا هم ممکن ده چی دا د اعتکاف د حالت بیان وی ،چی د حضور ﷺ د هر کال د اعتکاف کولو معمول وو په دی صورت کښ په جومات کښ خوراک څښاک ظاهر دے۔

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ قَالَ: حَدَّثَنَا مِسْعَرٌ، عَنْ أَبِي صَخْرَةَ جَامِعِ بْنِ شَدَّادٍ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ: ضِفْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ فَأُتِيَ بِجَنْبٍ مَشْوِيٍّ، ثُمَّ أَخَذَ الشَّفْرَةَ فَجَعَلَ يَحُزُّ، فَحَزَّ لِي بِهَا مِنْهُ قَالَ: فَجَاءَ بِلَالٌ يُؤْذِنُهُ بِالصَّلَاةِ فَأَلْقَى الشَّفْرَةَ فَقَالَ: «مَا لَهُ تَرِبَتْ يَدَاهُ؟» . قَالَ: وَكَانَ شَارِبُهُ قَدْ وَفَى فَقَالَ لَهُ: «أُقُصُّهُ لَكَ عَلَى سِوَاكٍ» أَوْ «قُصُّهُ عَلَى سِوَاكٍ»

مغیره ابن شعبهؓ فرمائی چی زه یوه ورځ د حضور ﷺ میلمه شوم په خوراک کښ یو وریت شوے وَلے راوړلے شو ،حضور ﷺ به په چاقو باندی د هغے نه پری کول او ماله به ئی راکوو،دغه دوران کښ حضرت بلالؓ راغے او د مانځه د تیارئ خبر ئی وکړو ،حضور ﷺ ارشاد وفرمایه چی دواړه لاس دِ په خاورؤ ککړ شه پهداسی موقع دِ خبر راکړو؟ بیا ئی چاقو کیخودو او د مانځه دپاره ئی تشریف ووړو ،مغیرهؓ فرمائی چی بله خبره زما سره دا راپیښه شوه چی زما بریت ډیر غټ شوی وو حضور ﷺ وفرمائیل راشه مسواک پ کیدو او پری کیدم او پری ئی کړم یا ئی داسی وفرمائیل چی مسواک پری کیده او پری ئی کړه،د یو راوی په دی لفظ کښ شک دے چی کوم لفظ ئی فرمائیلے دے۔

فائده:په دی حدیث کښ بعضے مضمونونه د تنبیه قابل دی :اول دا چی د حضور ﷺ سره میلمه شو، په دی باره کښ د عالمانو دوه قولونه دی او د مختلفو روایاتو نه ددواړو مرسته کیږی،

یو دا چی د (سره) دالفظ سِوا گرے دے یعنی د حضور ﷺ میلمه شو او حضور ﷺ د کوربه په حیثیت د ولی غوښه ورته کړه او پری کوله به ئی او ورکوله ئی ،د(جامع ترمذی) روایت ددی ډیر مناسب دے او د ابوداؤد شریف روایت خو گویا چی ددی تصریح ده چی په هغے کښ دادی چی زه د حضور ﷺ میلمه شوم۔

بله دا چی زه او حضور ﷺ د یو دریم کس میلمانه شو د (سره) لفظ ددی مرسته (تائید) کوی په دی صورت کښ د حضور ﷺ غوښه پری کول او ورکول به د زړه د خوشحالولو د پاره وو۔

دریم مطلب بعضو دا لیکلے دے چی ما حضور ﷺ خپل میلمه کړو مگر دا صحیح ندی،

د بنده په نزد باندی ډیر نزدی دادی چی زه د حضور ﷺ میلمه ووم،او حضور ﷺ سره د میلمنو بل ځائے میلمه وو یعنی دعوت ورله شوے وو، لکه چی عام دستور دے چی دمشرانو دعوت سره د خپلو میلمنو او خادمانو وی ۔ په دی صورت کښ د ابو داؤد او ترمذی په دواړو روایتونو کښ څه اختلاف نشته، چی په اصل کښ دے د حضور ﷺ میلمه وو ،او دےؓ او حضور ﷺ د بل چا میلمانه وو،

بل مضمون په چاقو باندی د کټ کولو متعلق د ابو داؤد او بیهقی په روایاتو کښ په چاقو باندی د کټ کولو منع هم راغلی ده،دحدیثو عالمانو ددی دواړو په مختلفو طریق سره جمع او تطبیق کړے دے ،غرض دا چی ممانعت په چاقو باندی د خوړلو دے او دا په چاقو باندی د کټ کولو او په لاسو باندی د خوړلو دے،او که غوښه خه نه وی پخه شوی نو په چاقو باندی کټ کولو کښ څه باک نشته،

او ضابطه داده چی په کوم ځیز کښ اجازت او ممانعت دواړه جمع شی نو په هغې کښ ممانعت له ترجیح ورکولے شی ،دا ضابطه مستقل ده۔

بعضو عالمانو لیکلی دی چی په کوم حدیث کښ ممانعت راغلے دے د هغې الفاظ داسی دی چی :چی په چاقو باندی غوښه مه کټ کوئ چی دا د عجمو(کفارو) طریقه ده ،ددی نه معلومه شوه چی ممانعت په هغې طریقه کښ دے کومه کښ چی د کافرانو سره تشبیه وی ،مطلقًا په چاقو باندی د کټ کولو ممانعت ندے،او د کافرانو سره د مشابهت نه منع خو په سلگونو حدیثونو کښ ده۔

دریمه خبره حضرت بلالؓ ته چی حضور ﷺ کوم ارشاد فرمائیلے دے دا الفاظ د تنبیهٔ دی دداسی الفاظو معنیٰ مقصود نه وی ملامتیا او تنبیهٔ مقصود وی ، په هره ژبه کښ دا قسم الفاظ د زورنی د پاره استعمالیږی،اگر چی بعضو عالمانو ددی وجے نه چی د حضور ﷺ الفاظ دی ددی خائسته خائسته معناگانی هم بیان کړی دی ،لیکن ظاهره صرف تنبهٔ ده،او تنبیهٔ ددی وجی وه چه کله حضور ﷺ د یو میلمهٔ په میلمستیا کښ مشغول دے نو په داسی وخت باندی خبر نه وو پکار،بلکه د فراغت انتظار خه وو،چی د مانځه په وخت کښ گنجائش هم وو۔

څلورمه خبره د بریتو د وړو کولو ده نو ظاهر خو ئی دا مطلب دے چی د مغیرهؓ بریت لوئے وو او حضور ﷺورته د منگز په ځائے باندی د مسواک کیخودو او کټ کولو وفرمائیل،بعض شرح کونکی دی طرفته تلی دی چی د حضور ﷺ خپل بریت مراد دی لیکن د ابوداؤد شریف په روایت کښ تصریح ده :چی زما بریت لوئے شوی وو، چی هغه حضور ﷺ کټ کړل په ډیرو حدیثونو کښ د حضور ﷺ ارشاد په مختلفو الفاظو سره راغلے دے،چی په کښ د گیرے د لویولو او د بریتو د وړو کولو کښ د مبالغ حکم دے دی وجے نه د سلف یو جماعت دی طرفته تلے دے چی د بریتو خریل سنت دی ،خو د اکثر عالمانو تحقیق دادے چی واړه کول سنت خو چی مبالغه پکښ وشی نو د خریلو نزدی شی۔

« حَدَّثَنَا وَاصِلُ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ أَبِي حَيَّانَ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَبِي زُرْعَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلَحْمٍ فَرُفِعَ إِلَيْهِ الذِّرَاعُ وَكَانَتْ تُعْجِبُهُ فَنَهَسَ مِنْهَا»

ابوهریرهؓ فرمائی چی د حضور ﷺ خدمت ته یو ځل غوښه راغله د هغې نه حضور ﷺ ته وَلے پیش کړے شو ،د حضور ﷺ د ولی غوښه خوښه وه نو حضور ﷺ هغه په غاښونو باندی وخوړو (یعنی په چاړه وغیره ئی کټ نه کړو)

فائده: په غاښونو باندی د شوکولو او خوړلو ترغیب حضور ﷺ فرمائیلے دے ،لکه چی یو حدیث کښ دی چی غوښه په غاښونو باندی شوکوئ او خورئ چی که هضم کیږی هم او د بدن سره ډیره موافق هم رازی۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، عَنْ زُهَيْرٍ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ سَعْدِ بْنِ عِيَاضٍ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: «كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعْجِبُهُ الذِّرَاعُ» قَالَ: «وَسُمَّ فِي الذِّرَاعِ، وَكَانَ يَرَى أَنَّ الْيَهُودَ سَمُّوهُ

حضرت ابن مسعودؓ فرمائی چی د حضور ﷺ به د ولی غوښه خوښه وه او په دی کښ حضور ﷺ له زهر ورکړی شوی وو،ګمان دادے چی یهودو زهر ورکړی وو۔

فائده: د خیبر په فتح کښ چی که یو یهودی ښځی ته دا پته ولګیده چی د حضور ﷺ د ولی غوښه خوښه وی نو یوی چیلۍ غوښه ئی ورِته کړه او په هغې کښ ئی خه ډیر زهر میلاؤ کړل او په ولی کښ ئی په خاص طور ډیر زهر قاتل میلاؤ کړل او حضور ﷺ له ئی دعوت وکړو او هغه ئی پیش کړل ،حضور ﷺ یوه نوړۍ خلی ته کړه او لا تیره کړی ئی نه وه یا څه لګه تیره شوی هم وه چی حضور ﷺ تهوک کړه او ارشاد ئ یوفرمایه ماته دی غوښې خبر راکړو چی په دی کښ زهر دی،لیکن څه اثر خامخا رسیدلے وو ،دی زهری اثر به کله کله زور کوو او په آخر کښ دا زهری اثر واپس شو او د حضور ﷺ د شهادت سبب جوړ شو،په دی روایت کښ د غوښې پخپله د خبر ورکولو ذکر دے او په نورو روایاتو کښ د جبریلؑ د خبر ذکر دے،خو په دی کښ څه تعارض نشته کیدے شی چی اول د معجزے په طور غوښې پخپله وئیلی وی چی په ما کښ زهر دی او بیا جبریلؑ ددی تصدیق کړے وی،ددی اطلاع نه وروستو حضور ﷺ پخپله هم پریخوده او ملګری ئی هم منع کړل،دی نه وروستو هغه بوډی راوغوښلے شوه او تپوس تری وشو چی زهر دی میلاؤ کړی وو؟ هغې اقرار وکړو او میلاؤ کړِ مِوو حضور ﷺ خپل ذاتی بدله وانه غیستله ځکه ئی هغه بوډۍ هغه واخت معاف کړه،لیکن چونکه بشر ابن براءؓ صحابی ددی زهرو نه شهید شوے وو دی وجے روایاتو نه معلومیږی چی هغه ئی بیا قصاصًا یا تعزیرًا قتل کړی ده۔ په دی باره کښ مختلف روایات دی بعضو نه معلومیږی چی قصاص ئی اغیتے دے او بعض وائی چی ندے اغیستے ،خو دواړه صحیح دی لکه چی د اصل واقعے نه معلومه شوه،په داسی صورت کښ قصاص دے که دیت دے وغیره دا فقهی مسئله ده دا امامانو درمیان مختلف فیه ده علمی بحث دے دی وجے پریخودے شوه۔

د ابن مسعودؓ دا وئیل چه ګمان دے چی زهر یهودو میلاؤ کړی وی،دا د هغوی د خیال مناسب دی بظاهره هغوی ته تحقیق نه وو معلوم،کنه د اصل واقعی خو تحقیق شوے وو او یهودو اقرارهم کړے وو چی مونږه کړے دے لکه چی په نورو حدیثونو کښ تفصیلی ذکر دی۔

« حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ قَالَ: حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبَانُ بْنُ يَزِيدَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أَبِي عُبَيْدٍ قَالَ: طَبَخْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِدْرًا وَقَدْ كَانَ يُعْجِبُهُ الذِّرَاعُ فَنَاوَلْتُهُ الذِّرَاعَ ثُمَّ قَالَ: «نَاوِلْنِي الذِّرَاعَ»، فَنَاوَلْتُهُ ثُمَّ قَالَ: «نَاوِلْنِي الذِّرَاعَ» فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، وَكَمْ لِلشَّاةِ مِنْ ذِرَاعٍ فَقَالَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ سَكَتَّ لَنَاوَلْتَنِي الذِّرَاعَ مَا دَعَوْتُ»

ابو عبیدهؓ فرمائی چی ما حضور ﷺ دپاره کټوئ پخه کړه نو د حضور ﷺ د ولی غوښ ډیره خوښه وه دی وجے نه ما یو ولے پیش کړو ،بیا حضور ﷺ بل وغوښتو ما بل پیش کړو ،بیا حضور ﷺ بل طلب کړو ما عرض وکړو د الله رسوله ﷺ د چیلۍ خو دوه ولی وی نو،حضور ﷺ وفرمائی د هغۀ ذات قسم د چا په

قبضه او قدرت کښ چی زما ساه ده کی چری ته چپ شوے وی نو چی ما ترکومے غوښتلے ددی دیگچی نه به ولی راوتل۔

فائده: دا د حضورﷺ معجزه وه (مسند احمد) کښ ددی روایت هم معنیٰ د ابو رافعؓ نه نقل دے ظاهره داده چی دا قصه ددواړه سره پیښه شوی وی ،دا څه عجیبه نده،دا قسم واقعات د حضورﷺ د ژوند په حالاتو کښ ډیری ملاویږی،څه واقعات قاضی عیاض په "شفا"کښ لیکلی دی۔

حضرت ابو ایوب انصاریؓ یو پیره د حضورﷺ او د ابوبکرؓ دعوت وکړو او دومره خوراک ئی تیار کړو چی د دوو کسانو کافی کیدو ،حضورﷺ وفرمائیل د انصارو مشرانو نه دیرش کسان راوبله،هغه راوبلل د هغوی د خوراک خوړلو نه بعد حضورﷺ وفرمائیل وس شپیته کسان راوبله هغوی د خوراک خوړلو نه بعد نور ئی راوبلل غرض د یو سل اتیا ۱۸۰ کسانو هغه خوراک کافی شو۔

حضرت سمرةؓ فرمائی چی یو ځل حضورﷺ له د چرته نه په یوه پیالئ کښ غوښه راغله او د سحر نه تع ماښامه پوری به مجمه راتلله او د هغ نه به ئی خوړله،

د حضرت ابوهریرةؓ سره یوه تیلئ کښ څه کهجوری وی حضورﷺ تری تپوس وکړو چی د خوراک څه شته؟ دوی عرض وکړو څو کهجوری په دی تیلئ کښ شته ،حضورﷺ په خپل لاس مبارک باندی څو کهجورے دد غ تیلئ نه راویستے او خورے ئی کړی او دعا ئی وکړه او وئی فرمائیل :لس لس کسان رابله او خوروه پری دغه شان ټول لښکر ته کافی شوی او چی کومے پاتی شوی هغه ئی ابوهریرةؓ ته واپس کړی ،او ارشاد ئی وفرمایه چی ددی تهیلئ نه راخله او خوره خو دا الټه کوه او خالی کوه مه، نو دهؓ به ددی نه راغیستے او خوړلی به ئی ،ابو هریرةؓ فرمائی چی ما به د حضورﷺ په زمانه کښ حضرات شیخینو په زمانه کښ حضرت عثمانؓ زمانه کښ راویستلے او خوړلی او کله کله به مِ ددی نه صدقه هم کوله، چی ددی مقدار به څو منونو ته رسیدلے وی ،لیکن د عثمانؓ د شهادت په حادثه کښ هغه زمانه چا په زوره واغیسته او لاړه۔

حضرت انسؓ فرمائی چی د حضورﷺ په یوه ولیمه کښ زما مور حلوه تیاره کړه او په یوه پیالئ کښ ئی زما په لاس د حضورﷺ خدمت ته ولیږله حضورﷺ وفرمائیل دا پیالئ کیگده او فلانے او فلانے کس راوبله او څوک چی تاله مخے له درشی هغه هم راوبله ما هغه خلق راوبللو او څوک چی ملاویدل هغه مِ هم راولیږل تردی چی تما مکان او د اهل صفه د پاتیکیدو ځائے ټول د کسانو نه ډک شو،حضورﷺ وفرمائیل لس لس کسان پینڈه جوړه کړئ او کینئ او خورئ،چی کله ټول ماړه شول نو حضورﷺ ما ته وفرمائیل پیالئ راوچته کړه ،حضرت انسؓ فرمائی چی زه نه شم ویئلے چی پیالئ په ابتداء کښ ډیره ډکه وه او کنه د اوچتولو په وخت کښ ،غرض داسی قسم ډیر واقعات د حضورﷺ سره پیښ شوی دی۔

قاضی عیاضؒ فرمائی چی دا واقعات په لویو مجمعو کښ پیښ شوی دی داسی واقعاتو لره خلاف واقعه نقل کول ډیره گران دی ،او کوم خلق چی په دی واقعاتو کښ شریک وو هغوی په خلاف واقعه نقل باندی سکوت نشو کولے ،

بره حدیث کښ د حضرت ابو عبیدةؓ په دی وائینا باندی چی د چیلئ خو دوه ولی وی د آئنده سلسله بندیدل ،د ملا علی قاریؒ په نزد باندی په دی وجه دی چی د معجزاتو او کراماتو او دداسی قسم

خوارق عادت پیښ راتلل د فناء تامه د وجې نه وی او ددی جواب دوچې نه د حضورﷺ هغه توجه تامه چې مخکښ وی باقی پاتی نه شوه او د توجه په کټ کیدو باندی څیزونه کټ شول۔

علامه مناویؒ چې دا په حقیقت کښ یو انعام الٰهی وو که چرے ده په تامه تابعداریٔ سره د حضورﷺ د ارشاد تعمیل کولے نو باق به پاتی شوی وو لیکن دده د طرف نه د اعتراض صورت پیدا شو چې د موقع مناسب نه وو دی وجے نه هغه اکرام تامه هم کټ شو۔

« حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الزَّعْفَرَانِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ عَبَّادٍ، عَنْ فُلَيْحِ بْنِ سُلَيْمَانَ قَالَ: حَدَّثَنِي رَجُلٌ، مِنْ بَنِي عَبَّادٍ يُقَالُ لَهُ: عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ يَحْيَى بْنُ عَبَّادٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: «مَا كَانَتِ الذِّرَاعُ أَحَبَّ اللَّحْمِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَكِنَّهُ كَانَ لَا يَجِدُ اللَّحْمَ إِلَّا غِبًّا، وَكَانَ يَعْجَلُ إِلَيْهَا لِأَنَّهَا أَعْجَلُهَا نُضْجًا»

حضرت عائشہؓ فرمائی چې د ولی غوښه د حضورﷺ څه د خوند د وجې د خوښه نه وه بلکه غوښه چونکه په قلاره قلاره پخیگی او دا زر پخیری دی وجې نه حضورﷺ د اخوښوو چې زر فارغ شی او په خپلو مشاغلو کښ مصروف شی۔

فائده: د حضورﷺ د ولی خوښول د ډیرو حدیثونو نه معلومیږی لیکن د رغبت وجې ممکن دی چې ډیری وی بعض د هغې به دا هم وی کوم چې عائشہؓ تجویز وفرمایه ،او د کوم رغبت نفی چې حضرت عائشہؓ وفرمائیله دغه رغبت په ظاهره د طبیعت میلان او اشتهاء درجه ده چې کوم د حضورﷺ د شان مناسب نه دی کنی صرف په د خوښی په ظاهره انکار ندے۔

« حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ قَالَ: حَدَّثَنَا مِسْعَرٌ قَالَ: سَمِعْتُ شَيْخًا، مِنْ فَهْمٍ قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ جَعْفَرٍ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ أَطْيَبَ اللَّحْمِ لَحْمُ الظَّهْرِ»

عبد الله ابن جعفرؓ فرمائی چې حضورﷺ ارشاد وفرمایه چې د ملا غوښه بهترینه غوښه ده۔

فائده: دا روایت د هغې روایاتو خلاف ندے کوم چې د ولی په خوښوالی باندی تیر شول څکه چې خوښوالے او خه والے په مختلف وجهو سره په دواړو کښ کیدے شی ،مثلاً دقوت په لحاظ باندی یا د رگ نی کیدو په وجه یا د غوړ کیدو په وجه وغیره وغیره،غرض په مختلف لحاظ سره دوه څیزونه خوښ او عمده کیدے شی ۔

« حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ قَالَ: حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ الْحُبَابِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُؤَمَّلِ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَائِشَةَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «نِعْمَ الْإِدَامُ الْخَلُّ»

حضرت عائشہؓ فرمائی چې حضورﷺ وفرمائیل چې سرکه بهترین سالن دے۔

فائده: دا مضمون د باب په شروع کښ ډیرو روایاتو کښ بیان شو۔

» حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ ثَابِتٍ أَبِي حَمْزَةَ الثُّمَالِيِّ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ أُمِّ هَانِئٍ، قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «أَعِنْدَكِ شَيْءٌ؟» فَقُلْتُ: لَا إِلَّا خُبْزٌ يَابِسٌ وَخَلٌّ، فَقَالَ: «هَاتِي، مَا أَقْفَرَ بَيْتٌ مِنْ أُدْمٍ فِيهِ خَلٌّ»

حضرت ام هانئ فرمائی (د حضورﷺ د تره لور) فرمائی چی حضور اقدسﷺ (فتح) مکه کښ زما خواته تشریف راوړو او وئی فرمائیل چی د خوراک څه شته؟ما عرض وکړو چه سړه ډوډئ او سرکه ده ،حضورﷺ وفرمائیل راوړه هغه کور د سالن نه خالی ندے په کوم کښ چی سرکه وی۔

فائده:دا قصه د حضرت ابن عباسؓ په روایت کښ تفصیلی ده کوم چی بیهقی روایت کړے دے ،چی د حگے حاصل دادے چی په فتح مکه کښ حضورﷺ د ام هانئؓ کور ته تشریف راوړو او تپوس ئی وکړو چی د خوراک دی څه سنبال کړی دی؟ دویؓ عرض وکړو د الله رسولهﷺ وچه ډوډئ ده چی د هغې پیش کولو باندی راله شرم راځی حضورﷺ وفرمائیل نه راوړه! حضورﷺ هغه ډوډئ وړه وړه کړه او په اوبو کښ ئی ورواچلوله او ملگه ئی پری واچوله ،بیا حضورﷺ تپوس وکړو چی سالن شته؟دویؓ عرض وکړو د سرکے نه بغیر نور څه نیشته دویﷺ راوغوخته او په هغې ئی واچوله او وئی خوړله او د الله شکر ئی ادا کړو، او وئی فرمائیل اے ام هانئ په کوم کور کښ چی سرکه وی هغه کور د سالن نه خالی ندے،الله اکبر څومره ساده ژوند وو د حضورﷺ، کاش چی حق تعالیٰ شانه په خپل رحم وکرم باندی مونږ خلقو ته هم ددی سادگی اتباع رانصیب کړی۔

حقه داده چی د حضورﷺ په نظر کښ خوراک څښاک صرف د مجبورئ درجه لرله د ضرورت په وخت چی به څه وو هغه به ئی خوړل چی خوراک د ژوند د ضرورت د وجے وو نه دا چی زمونږ چی ژوند د خوراک د ضرورت دپاره دے، چی د کوم نه اصل مقصد د خیټے ساتل جوړ شی او دینی مشغله یو سِواگرے شے شمار شی ،هلته مقصد زندگی د دین شاداب ساتل وو او دا ضرورت ئی د انسانی ضرورت په درجه کښ پوره کوو ، دغه شان د حدیث نه دا هم ثابت شول چی کوم ځائے بے تکلفی وی او تعلقات ډیر وی هلته سوال کښ هم څه باک نشته۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ مُرَّةَ الْهَمْدَانِيِّ، عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «فَضْلُ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيدِ عَلَى سَائِرِ الطَّعَامِ»

ابوموسیؓ فرمائی چی حضورﷺ وفرمائیل چی د عائشےؓ فضیلت په نورو زنانؤ باندی داسی دے لکه چی د ثرید فضیلت وی په نورو ټولو خوراکونو باندی ۔

فائده:ددی حدیث نه د عائشےؓ فضیلت په ټولو زنانؤ باندی ثابتیږی او د ثرید فضیلت په ټولو خوراکونو باندی هم ،ثرید په شوروا کښ ماتے شوی ډوډئ ته وائی چی په دی کښ د خونداو قوت نه علاوه زر هضم کیدل،زر تیاریدل وغیره هم فائدے دی،په عربو کښ ددی دستور وو،او په ټولو خوراکونو کښ به بهتر شماریدو۔

د حضرت عائشةؓ په فضیلت کښ ډیر احادیث راغلی دی ،په دی روایت کښ د عالمانو اختلاف دے چی ټولی زنانه مراد دی کنه بعضے تری مستثنیٰ دی ،او په دی وجه باندی دا اختلاف دے چی د حضرت

عائشةؓ فضیلت په حضرت خدیجةؓ او فاطمةؓ باندی هم دے او کنه،بعضے د عائشةؓ د فضیلت قائله دی بعضے د فاطمةؓ او بعضے د خدیجةؓ ،لیکن د بنده په نیزد باندی په دوی کښ هره یوه په یو خاص فضیلت سره د ټولو نه افضل ده،لکه حضرت عائشةؓ د فقاهت او محبوبیت سره د ټولو نه مخکښ ده چی وحی به ددیؓ په لباس کښ هم نازلیده، حضرت خدیجةؓ اوله بی بی اوله مؤمنه وغیر وغیره کیدو په وجه د ټولو نه مخکښ ده،حضرت فاطمةؓ د حضورﷺ د زړه د ټوټے او د جنت د سردارے کیدو په وجی د ټولو نه افضل ده۔

» حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَعْمَرٍ الْأَنْصَارِيُّ أَبُو طُوَالَةَ، أَنَّهُ سَمِعَ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «فَضْلُ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيدِ عَلَى سَائِرِ الطَّعَامِ»

حضرت انسؓ فرمائی چی حضورﷺ وفرمائیل د حضرت عائشےؓ فضیلت په ټولو زنانؤ باندی داسی دے لکه د ثرید فضیلت په ټولو خوراکونو باندی ۔

فائده:د اما ترمذی مقصد ددی روایاتو نه دادے چی د حضورﷺ ثرید خو ښ وو لکه چی په مختلف روایاتو کښ د خوراک معمول معلومیږی۔

» حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ «رَأَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ مِنْ أَكْلِ ثَوْرِ أَقِطٍ، ثُمَّ رَآهُ أَكَلَ مِنْ كَتِفِ شَاةٍ، ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ»

حضرت ابو هریرةؓ فرمائی چی ما یو ځل حضورﷺ د کوچو/پیروی یوه ټکړے په خوړلو او بیا د اودس کولو ولیده او بیا یو ځل مې د چیلئ د ولی د خوړلو نه وروستو ولیده چی اودس ئی ونه فرمایه۔

فائده: د اسلام په شروع کښ به په اوور باندی پخ شوی څیز سره اودس ماتیده بیا دا حکم منسوخ شو،ممکنه ده شی حضورﷺ په کومه زمانه کښ پیروی د خوراک نهوروستو اودس کړے وی دا د اودس ماتیدو زمانه وی ،یا په بله وجه ئی اودس کړے وی ،مثلًا د اودس د پاسه ئی اودس کړے وی یا اول اودس په څه وجه باندی مات شوے وی،لیکن د ابوهریرةؓ د انداز بیان نه داسی معلومیږی چی د اسلام په شروع کښ حضورﷺ د اوور پخ شوی څیز خوراک نه وروستو اودس دفرمایه دی وجی ئی د پیروی د خوړلو نه نه بعد اودس وفرمایه ،وروستو دا حکم باقی پاتی نه شو دی وجے ئی د چیلئ د ولی خوړلو نه بعد اودس ونه فرمایه ۔

» حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ وَائِلِ بْنِ دَاوُدَ، عَنِ ابْنِهِ وَهُوَ بَكْرُ بْنُ وَائِلٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: «أَوْلَمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى صَفِيَّةَ بِتَمْرٍ وَسَوِيقٍ»

حضرت انسؓ فرمائی چی حضورﷺ د حضرت صفیةؓ ولیمه په کهجورو او ستوانو باندی کړی وه۔

فائده:حضرت صفیةؓ د حضرت هارونؑ د اولاد نه ده ،په ۷ هجری کښ د محرم په میاشت کښ په جنگ خیبر کښ وینزه راغلی وه،حضورﷺ دا ازاده کړه او نکاح ئی ورسره وفرمایه،او په سفر کښ ددی ولیمه

وشوه،په ولیمه کښ څه وو په ده باندی مختلف روایات راغلی دی ،په بعضو کښ حیس چی یو قسم حلوا ده راغلی ده،په بعضو کښ پیروے هم راغلے دے،ظاهر داده چی د سفر موقعه وه دی وجے نه د ناشتے وغیره دپاره چی د حضورﷺ او خاص مخلصینو سره څه موجود وو هغه ټول ئی په ولیمه کښ شریک کړل۔

» حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْبَصْرِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا الْفُضَيْلُ بْنُ سُلَيْمَانَ قَالَ: حَدَّثَنِي فَائِدٌ، مَوْلَى عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي رَافِعٍ مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَلِيٍّ، عَنْ جَدَّتِهِ سَلْمَى، أَنَّ الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ، وَابْنَ عَبَّاسٍ، وَابْنَ جَعْفَرٍ أَتَوْهَا فَقَالُوا لَهَا: اصْنَعِي لَنَا طَعَامًا مِمَّا كَانَ يُعْجِبُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيُحْسِنُ أَكْلَهُ. فَقَالَتْ: يَا بُنَيَّ لَا تَشْتَهِيهِ الْيَوْمَ قَالَ: بَلَى اصْنَعِيهِ لَنَا. قَالَ: فَقَامَتْ فَأَخَذَتْ مِنْ شَعِيرٍ فَطَحَنَتْهُ، ثُمَّ جَعَلَتْهُ فِي قِدْرٍ، وَصَبَّتْ عَلَيْهِ شَيْئًا مِنْ زَيْتٍ وَدَقَّتِ الْفُلْفُلَ وَالتَّوَابِلَ فَقَرَّبَتْهُ إِلَيْهِمْ، فَقَالَتْ: «هَذَا مِمَّا كَانَ يُعْجِبُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيُحْسِنُ أَكْلَهُ»

سلمیؓ فرمائی چی امام حسینؓ او عبد الله ابن عباسؓ او عبد الله ابن جعفرؓ ددوی خواته تشریف راوړو او دا ئی وفرمائیل د حضورﷺ ته کوم خوراک خوښ وو او کوم چی به ئی په رغبت سره خوړلو هغه مونږ له پوخ کړئ او په مونږ ئی وخوروئ،سلمیؓ فرمائیل بچو! هغه خوراک به مو وس خوښ نشی(ځکه چی هغه په تنګئ کښ د خلقو خوښ وی) دویؓ ووئیل نه ضرور به زمونږ خوښ وی ،دا پاسیده او لګی وربشی ئی په کټوئ کښ واچولی او په هغې باندی ئی لګ د زیتون تیل واچول او لګ مرچ او زیره وغیره ئی وړه کړل او کټوئ ته ئی واچول او پاخه ئی کړل رائی وړل وئی فرمائیل حضورﷺ ته دا خوښ وو۔

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ نُبَيْحٍ الْعَنَزِيِّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: أَتَانَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَنْزِلِنَا فَذَبَحْنَا لَهُ شَاةً، فَقَالَ: «كَأَنَّهُمْ عَلِمُوا أَنَّا نُحِبُّ اللَّحْمَ» وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ"

جابر بن عبد اللهؓ فرمائی چی حضورﷺ زما خواته تشریف راوړو نو مونږ دحضورﷺ دپاره چیلئ زبح /حلاله کړه نو حضورﷺ وفرمائیل بظاهر دوی ته پته ده چی زمونږ غوښه خوښه وی ،ترمذیؒ فرمائی په دی حدیث کښ نوره هم قصه ده چی مختصر ئی کړه۔

فائده: فرمائی چه هغه قصه داده کومه چی د غزوه خندق په قصه کښ ذکر ده چی په هغې کښ د حضورﷺ یوه معجزه هم ذکر ده،

چی جابرؓ فرمائی چی ما په حضورﷺ باندی د لوږی اثر محسوس کړو زه کور ته لاړم او معلومه مِ کړه چی چی څه د خوراک شته کنه؟ معلومه شوه چه د چیلئ ی وبچے دے او په تهیلئ کښ لګ شانتی وربشے دی،ما د چیلئ بچے حلال کړو او بی بی وربشے وړه کړی او وړه ئی واغیړل او غوښه ئی په دیګچی کښ د پخیدو دپاره کیخوده ما حضورﷺ ته په پټه شان عرض وکړو چی لګ شان خوراک دے او تاسو او یو څوملګری تشریف راوړئ ،حضورﷺ چی دا واوریدو نو ټول اهل خندق چی تقریبًا زر ۱۰۰۰ کسان وو اعلان ئی وفرمایه چی د جابرؓ دعوت دے ټول راشئ ،او ماته ئی وفرمائیل ترسو چی زه نه یم درغلے دیګچے به د اوور نه نه راکوزوی او ډوډئ به هم نه پخوی ،چی حضورﷺ راغے نو په دیګچی باندی ئی دم وکړو او ،چی

ددی دا برکت وو چی د دیگچی نه برابر سالن سالن راوتلو او د وړو نه برابر ډوډئ پخیدے او ،په الله قسم چی زرو تنو ډوډئ وخوړه او لاړل او په دیگچی کښ هغه شان سالن جوش وخلو او د وړو نه هغه شان ډوډئ پخیدے۔

> » حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ قَالَ: حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ أَنَّهُ سمعَ جَابِرًا، قَالَ سُفْيَانُ: وَحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ قَالَ: «خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا مَعَهُ فَدَخَلَ عَلَى امْرَأَةٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، فَذَبَحَتْ لَهُ شَاةً فَأَكَلَ مِنْهَا، وَأَتَتْهُ بِقِنَاعٍ مِنْ رُطَبٍ، فَأَكَلَ مِنْهُ، ثُمَّ تَوَضَّأَ لِلظُّهْرِ وَصَلَّى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ انْصَرَفَ، فَأَتَتْهُ بِعُلَالَةٍ مِنْ عُلَالَةِ الشَّاةِ، فَأَكَلَ ثُمَّ صَلَّى الْعَصْرَ وَلَمْ يَتَوَضَّأْ»

حضرت جابرؓ فرمائی چی حضور ﷺ یو ځل دیو انصاری خځی مکان ته تزریف یوړو زه هم د حضور ﷺ سره ووم هغوی حضور ﷺ له چیلئ حلاله کړه ،حضور ﷺ د هغے نه څه وخوړل بیا دوی په چانگیر کښ څه تازه کهجورے راوړے حضور ﷺ د هغے نه هم وخوړلی بیا د ماسپخین مانځه د پاره حضور ﷺ اودس وفرمایه او مونځ ئی وفرمایه ،بیا په واپسئ کښ دوی دحضور ﷺ خدمت کښ باقی مانده غوښه پیش کړه حضور ﷺ د هغے نه هم وخوړله او بیا حضور ﷺ د مازیگر مانځه د پاره دوباره اودس ونه فرمایه او په هغے اودس باندی ئی د مازیگر مونځ ادا کړو۔

فائده: ددی حدیث نه د اوور پخ شوی څیز باندی د اودس نه ماتیدو باندی استدلال کیږی ،دغه شان په ورځ کښ د دوه پیرے ډوډئ خوړلو اثبات هم ددی نه کیدے شی ،لهذا کومو روایاتو کښ چی د دوه وخته ډوډئ انکار موجود دے هغه د راوی د علم په اعتبار باندی هم کیدے شی او دا توجیه هم کیدے شی چی په هغے کښ د دوه وخته خیټے مړولو انکار وو د صرف ډوډئ خوړلو نه چی دوباره ئی لگه شان وخوړله۔

> حَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ قَالَ: حَدَّثَنَا فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ يَعْقُوبَ بْنِ أَبِي يَعْقُوبَ، عَنْ أُمِّ الْمُنْذِرِ، قَالَتْ: دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ عَلِيٌّ، وَلَنَا دَوَالٍ مُعَلَّقَةٌ، قَالَتْ: فَجَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ وَعَلِيٌّ مَعَهُ يَأْكُلُ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ: «مَهْ يَا عَلِيُّ، فَإِنَّكَ نَاقِهٌ» ، قَالَتْ: فَجَلَسَ عَلِيٌّ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ، قَالَتْ: فَجَعَلْتُ لَهُمْ سِلْقًا وَشَعِيرًا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِعَلِيٍّ: «مِنْ هَذَا فَأَصِبْ فَإِنَّ هَذَا أَوْفَقُ لَكَ

ام منذرؓ فرمائی چی حضور ﷺ زما خواته تشریف راوړو زمونږ کره د کهجورو گونگان زوړند وو حضور ﷺ د هغے نه په خوراک باندی شروع وفرمایئله حضرت علیؓ چی د حضور ﷺ سره وو هغوی هم په خوراک باندی شروع کړه ،حضور ﷺ هغه منع کړو چی ته وس د بیماریٔ نه خه شوے ئی ته مه خوره هغهٔ بس کړل او حضور ﷺ خوړلی ،ام منذرؓ فرمائی چی بیا ما څه وربشی او چقندر پاخه کړل حضور ﷺ حضرت علیؓ ته وفرمائیل دا وخوره دا ستا دپاره مناسب دی ۔

فائده:دی حدیث نه دا معلومیږی چی د اسبابو رعایت د توکل خلاف ندے ،لکه په احیاء العلوم کښ ئی دا تفصیلی لیکلی دی که څوک غواړی نو د هغے په ترجمه کښ دِ وگوری۔

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ قَالَ: حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ طَلْحَةَ بْنِ يَحْيَى، عَنْ عَائِشَةَ بِنْتِ طَلْحَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِينِي فَيَقُولُ: «أَعِنْدَكِ غَدَاءٌ؟» «فَأَقُولُ: لَا. قَالَتْ: فَيَقُولُ: «إِنِّي صَائِمٌ». قَالَتْ: فَأَتَانِي يَوْمًا، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّهُ أُهْدِيَتْ لَنَا هَدِيَّةٌ قَالَ: «وَمَا هِيَ؟ «قُلْتُ: حَيْسٌ قَالَ: «أَمَا إِنِّي أَصْبَحْتُ صَائِمًا «قَالَتْ: ثُمَّ أَكَلَ

حضرت عائشةؓ فرمائی چی حضورﷺ به زما کره راتلو او معلوموله به ئی چی د خوراک دِ څه ایخی دی ،چی پته به ولګیده چی څه نشته نو وبه ئی فرمائیل ما د روژے اراده کڑی ده، یو ځل حضورﷺ راغی او تپوس ئی وکڑو ما عرض وکڑه یوه ہدیه راغلی ده ما ایخی ده ،حضورﷺ وفرمائیل څه دی ؟ ما عرض وکڑو د کهجورو حلوا ده دویﷺ وفرمائیل ما خو د روژے اراده کڑی وه ،بیا حضورﷺ د هغے نه وخوڑه۔

فائده:ددی حدیث نه دوه مسئلے معلومیږی :یوه دا چی د نفلی روژے نیت د سحر د نیمے ورځے پوری کولے شی په دی شرط چی د دی نه اول ئی د روژے ماتونکے څه عمل نه وی کڑے لکه چی حضورﷺ د عائشےؓ په جوب سره د روژے نیت وفرمایه ،او دا د احنافو او شوافعوؒ مسلک هم دے اود امام مالکؒ مذهب دادے چی د شپی نه نیت کول ضروری دی په دی مسئله کښ حدیث د جواز موافق دے ،لیکن بیا هم د یو معتبر امام خلاف شته ددی وجے نه د شپی نیت کول پکار دی اولبته که څه وجه وی نو د غرمے نه مخکښ دِ وکڑی نو هم نه خبره نه ده،

دویمه مسئله داده چی که څوک نفلی روژه ونیسی نو د ماتولو اجازت دے دا مسلک د شوافعو دے ،د احنافو په نزد باندی ددی آیت په وجه (لاتبطلوا اعمالکم) (خپل اعمال په باطولئ) په وجه باندی روژه مونځ وغیره یو عمل هم باطول ندی جائز، لیکن په حدیث کښ چونکه جواز راغلے دے دی وجے نه په دواڑو باندی عمل داسی ممکن دے چی که څه ضرورت ،مجبوری وی نو ددی حدیث د وجے ما ګنجائش ومنلے شی او بغیر ضرورته به جائز نه وی ، لکه چی د حضورﷺ د حال نه هم داسی معلومیږی ،

بعضے علماء ددی الفاظو نه چی ما خو د روژے اراده کڑی وه دا مطلب بیانوی چی پوخ نیت ئی نه وو فرمائیلے البته دا اراده ئی وه چی نن روژه ونیسم ،لیکن د بنده په نزد باندی اوله توجیه بهتره ده۔

مسئله: که د څه ضرورت په وجه باندی د نفلی روژے د ماتولو صورت راشی نو د احنافو په نزد باندی بل وخت ددی قضا ضروری ده دی وجے نه د حضرت عائشےؓ په روایت کښ ددی تصریح ده چی حضورﷺ فرمائیلی وو چی بل وخت به ئی قضا وکڑم۔

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ: حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي يَحْيَى الْأَسْلَمِيِّ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي أُمَيَّةَ الْأَعْوَرِ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَامٍ قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ كِسْرَةً مِنْ خُبْزِ الشَّعِيرِ فَوَضَعَ عَلَيْهَا تَمْرَةً وَقَالَ: «هَذِهِ إِدَامُ هَذِهِ وَأَكَلَ

یوسفؓ فرمائی چی ما حضورﷺ یو ځل ولیده چی د وربشو د ډوډئ په یوه ټکڑه باندی ئی کهجوری ایخی وه او وئی فرمائیل دا ددی سالن دے او وئی خوڑله۔

فائده: چونکه د کهجورے د سالن په ځائے استعمالول مشهور نه وو دی وجے نه حضورﷺ دا تنبیه وفرمائیله چی ددی نه هم د سالن کار اغیستے شی او د ژوند څو ورځے په دی باندی هم تیریدے شی، دی وجے نه سړی لره خپل وختونه په داسی کارونو کښ خرچ کول پکار دی چی د ابدی او سرمدی ژوند پکار راشی دا د عقل خبره ده او ټول وخت صرف په خیټه باندی ضائع کول انتهائی کم عقل توب دے ،

ځکه چی څو ورځے ژوند به په ہر صورت باندی تیر شی او مرگ د ټولو تکلیفونو خاتمه ده،لیکن چی د کوم تکلیف د پاره مرگ نشته هغه ډیر د اهتمام قابل دے۔

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ: حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ الْعَوَّامِ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ: «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعْجِبُهُ الثُّفْلُ «قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: «يَعْنِي مَا بَقِيَ مِنَ الطَّعَامِ

حضرت انسؓ فرمائی چی د حضورﷺ به د کټوئ او پیالئ پاتی شوے سالن خوښ وو۔

فائده: دا د حضورﷺ انتهائی عاجزی وه چی اول خوراک به ئی په نورو خلقو وخوروو او بقی به ئی د ځان د پاره خوښوو ،لکه چی د حدیث په دیرو کتابونو کښ ډیر وقعات ددی گواهی کوی ،بعضے علماء ددی وجه هم دا بیانوی چی د لاندی په خوراک کښ غوړ والے کم وی دی وجے نه په هضم کښ سهولت وی۔

باب ما جاء فی صفة وضوء رسول الله ﷺ عند الطعام

د حضورﷺ د خوراک په وخت د اودس بیان

فائده:د خوراک په وخت عام دے که د خوراک نه مخکښ وی او که بعد وی ،اودس اصطلاحی څو هغه دے کوم چی د مانځه د پاره شرط دے او د مانځه په وخت باندی کیږی ،لیکن د لغت په اعتبار باندی مخ لاس وینځلو ته هم اودس وائی دا د وضو لغوی یعنی د اودس لغوی په نوم باندئ مشهور دے په دی باب کښ ده قسمه روایات راغلی دی ،بعضے نه د وضو کول معلومیږی دا هغه وضو د کوم چی لغوی ده او بعضے نه نه کول معلومیږی دا هغه وضو ده کومه چی اصطلاحی ده۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ مِنَ الْخَلَاءِ فَقُرِّبَ إِلَيْهِ الطَّعَامُ فَقَالُوا: أَلَا نَأْتِيكَ بِوَضُوءٍ؟ قَالَ: ((إِنَّمَا أُمِرْتُ بِالْوُضُوءِ إِذَا قُمْتُ إِلَى الصَّلَاةِ))

ابن عباسؓ فرمائی چی یو ځل چی حضورﷺ کله د بیت الخلاء نه بهر تشریف راوړو نو ددویﷺ په خدمت کښ خوراک پیش کړے شوه او د وضو اوبه راوړو د پاره تپوس وکړے شو نو حضورﷺ وفرمائیل چی ماته د وضو حکم هغه وخت شوے دے کله چی د مونځه اراده وی۔

فائده:یعنی دوضو اصطلاحی وجوب صرف د مانځه دپاره دے د خوراک دپاره یا د استنجاء نه د فراغت نه فورًا بعد وضو ضروری نه ده ،حضورﷺ اوبه ځکه رد کړی چی دا لازم ونه کنړلے شی چی د استنجاء نه بعدبه وضو کوی۔

حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْغَائِطِ فَأُتِيَ بِطَعَامٍ، فَقِيلَ لَهُ: أَلَا تَتَوَضَّأُ؟ فَقَالَ: ((أَأُصَلِّي فَأَتَوَضَّأُ))

ابن عباسؓ فرمائی چی حضورﷺ یو ځل د استنجاء نه فارغ شو بهر ئی تشریف راوړو نو د حضورﷺ په خدمت کښ خوراک پیش کړے شوه ،صحابهؓ تپوس وکړو چه وضو به کوئ؟ حضورﷺ وفرمایل ولی زه مونځ کوم چی وضو وکړم۔

فائده: په اول حدیث کښ دا مضمون تیر شو چی د خوراک دپاره وضو مستحب نده او البته هر وخت په اودس کښ وسیدل بهتر دی چی د ظاهری طهارت اثر په باطن باندی کیږی ،دی وجے نه که د استنجاء نه بعد وضو وکړے شی نو اولیٰ ده۔

حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا قَيْسُ بْنُ الرَّبِيعِ (ح) وَحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْكَرِيمِ الْجُرْجَانِيُّ، عَنْ قَيْسِ بْنِ الرَّبِيعِ، عَنْ أَبِي هَاشِمٍ، عَنْ زَاذَانَ، عَنْ سَلْمَانَ قَالَ: قَرَأْتُ فِي التَّوْرَاةِ أَنَّ بَرَكَةَ الطَّعَامِ الْوُضُوءُ بَعْدَهُ، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَخْبَرْتُهُ بِمَا قَرَأْتُ فِي التَّوْرَاةِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((بَرَكَةُ الطَّعَامِ الْوُضُوءُ قَبْلَهُ وَالْوُضُوءُ بَعْدَهُ)) لَا نَعْرِفُ هَذَا الْحَدِيثَ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ قَيْسِ بْنِ الرَّبِيعِ وَقَيْسٌ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ

سلمان فارسیؓ فرمائی چی ما په تورات کښ لوستی وو چی د خوراک خوړلو نه وروستو لاس وینځل د برکت سبب دے،ما د حضورﷺ په خدمت کښ دا مضمون عرض کړو نو حضورﷺ وفرمائیل چی د ډوډئ نه مخکښ او وروستو وضو کول یعنی خله او لاس وینځل د برکت سبب دے۔

فائده: ممکنه ده چی په تورات کښ د یو وخت ذکر وی په دی صورت کښ به دویم وخت د شریعت محمدیه اضافه وی ځکه چی ددی شریعت ډیر احکام د نورو شریعتونو نه زیات دی،او دا هم ممکن دی چی په تورات کښ د دواړو ذکر وی خو چونکه په هغے کښ تحریف شوے کیږی دی وجے نه د خوراک نه اول لاس وینځل ئی تری ایستلی وی، عالمانو لیکلی دی چی د ډوډئ نه مخکښ د لاس وینځلو د برکت مطلب دادے چی خوراک کښ زیادتی کیږی او خوړونکی پری ماړه شی، او د خوراک نه بعد د لاس وینځلو د برکت مطلب دادے چی د کومو فوائدو د پاره خوراک وخوړے شی هغه پوره کیږی ،او د بد جزء جوړیږی،نشاط پیدا کوی،او په عباداتو او خائسته اخلاقو د تقویت سبب جوړیږی۔

باب ما جاء فی قول رسول اللهﷺ قبل الطعام وبعد ما یفرغ منه

د هغه کلماتو بیان چی حضورﷺ به د خوراک نه اول او بعد فرمائیل

فائده: یعنی هغه دعاګانی وغیره چی د حضورﷺ به د خوراک نه اول او بعد د وئیلو معمول وو د هغے ذکر ۔

په دی باب کښ امام ترمذی اووه احدیث نقل کړی۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ رَاشِدِ بْنِ جَنْدَلٍ الْيَافِعِيِّ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَوْسٍ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ قَالَ: كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا، فَقَرَّبَ طَعَامًا، فَلَمْ أَرَ طَعَامًا كَانَ أَعْظَمَ بَرَكَةً مِنْهُ، أَوَّلَ مَا أَكَلْنَا، وَلَا أَقَلَّ بَرَكَةً فِي آخِرِهِ، فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ، كَيْفَ هَذَا؟ قَالَ: ((إِنَّا ذَكَرْنَا اسْمَ اللهِ حِينَ أَكَلْنَا، ثُمَّ قَعَدَ مَنْ أَكَلَ وَلَمْ يُسَمِّ اللهَ تَعَالَى فَأَكَلَ مَعَهُ الشَّيْطَانُ))

ابو ایوب انصاریؓ فرمائی چی مونږ د حضور ﷺ په خدمت کښ حاضر وو چی خوراک راوړے شو ،ما تر وسه پوری داسی خوراک چی اول ئی ډیر برکت وی او آخر ئی ډیر ے برکته وی چرته نده لیدلی ،دی وجے نه په حیرانتیا باندی مِ د حضور ﷺ نه تپوس وکړو ،نو حضور ﷺ وفرمائیل چی مونږ په اول کښ بسم الله سره شروع کړے وی او په اخیر کښ فلانی بغیر د بسم الله نه وخوړه د هغه سره شیطان شریک شو۔

فائده: د شیطان خوراک د جمهورو په نزد باندی په حقیقت باندی محمول دے او په دی کښ څه محال نشته چی شیطان خوراک څښاک کوی ،په دی حدیث کښ صرف د بسم الله ذکر دے دی وجے نه بعضے عالمانو لیکلی دی چی که فقط بسم الله اووائی نو هم کافی ده،لیکن بهتر ټوله بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ وئیل دی ،عالمانو لیکلی دی چی بسم الله په اواز سره وئیل اولیٰ دی ځکه چی که دنورو ملګرو خیال نه وی نو چی یاد راشی۔

حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ الدَّسْتُوائِيُّ، عَنْ بُدَيْلٍ الْعُقَيْلِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ أُمِّ كُلْثُومٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ فَنَسِيَ أَنْ يَذْكُرَ اللهَ تَعَالَى عَلَى طَعَامِهِ فَلْيَقُلْ: بِسْمِ اللهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ

حضرت عائشهؓ فرمائی چی حضور ﷺ دا ارشاد وفرمایه چی کله یو کس خوراک کوی او بسم الله ترینه هیره شی نو د خوراک په مینځ کښ دی چی کله یاد شی بسم الله اولَه و آخرَه دی ووائی ۔

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الصَّبَّاحِ الْهَاشِمِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الأَعْلَى، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ، أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعِنْدَهُ طَعَامٌ فَقَالَ: ((ادْنُ يَا بُنَيَّ فَسَمِّ اللهَ تَعَالَى وَكُلْ بِيَمِينِكَ وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ))

عمرو ابن ابی سلمهؓ د حضور ﷺ په خدمت حاضر شو ،د حضور ﷺ خواته خوراک ایخے شوے وو دوی ﷺ وفرمائیل بچے رانزدے شه بسم اللهووایه او په خی لاس د خپل مخی نه خوراک شروع کړه۔

فائده: بسم الله وئیل بالاتفاق سنت دی او په خی لاس باندی د جمهورو په نزد باندی سنت دی او د بعضو په نزد باندی واجب دی، ځکه چی حضور ﷺ یو ګس لاس باندی خوراک کونکی ته خیرے کړی وی او د هغه لاس شل شوے وو ،چی د هغه د عبرت ډکه قصه د حدیث په کتابونو کښ ذکر ده، چی یو کس په هس لاس باندی خوراک کوو حضور ﷺ ورته تنبیه ورکړه چی په خی لاس باندی خوره ده ووئیل زه په خی لاس باندی نه شم خوړلے حضور ﷺ وفرمائیل ودی نشی خوړے دی نه وروستو خ لاس ئی د خلے پوری نشو تلے،

یو بل روایت کښې دی چې حضورﷺ یو زنانه په ګس لاس باندی په خوراک ولیده نو حضورﷺ ورته خیرے وکړے هغه زنانه په طاعون باندی مړه شوه،

د ابن ماجه په روایت کښې دی چې حضورﷺ وفرمائیل په ګس لاس باندی شیطان خوراک کوی دی وجے نه تاسو په ګس لاس باندی مه خورئ ،دی روایاتو په وجه د بعضے عالمانو په نزد باندی په خی لاس خوراک واجب دے، د جمهورو په نزد باندی اګر چې سنت دی لیکن ددی روایاتو په وجه اہتمام ضروری دے،نن سبا خلق ددی نه غافل دی ،بالخصوص په ګس لاس باندی د اوبو څکلو خو یو مرض خور شوے دے،دحضورﷺ دا حکم دے چې په خی لاس باندی خورئ او څکئ ځکه چې په ګس لاس باندی شیطان خوری او څکی ،دغه شان یو دریم مضمون هم یعنی د خپلې مخی نه خوراک کول هم د بعضی عالمانو په نزد باندی د روایاتو په وجه باندی واجب دی یعنی د جمهورو په نزد سنت دی

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ أَبِي هَاشِمٍ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ رِيَاحٍ، عَنْ أَبِيهِ رِيَاحِ بْنِ عَبِيدَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا فَرَغَ مِنْ طَعَامِهِ قَالَ: ((الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ))

ابو سعید خدریؓ فرمائی چې حضورﷺ چې به کله د خوراک نه فارغ شو نو دا دعا به ئی فرمائیله: الحمد لله الذی اطعمنا وسقانا وجعلنا من المسلمین، ټول تعریفونه هغې ذات دپاره دی چا چې په مونږ باندی وخورول وڅکول او مونږ ئی مسلمانان جوړ کړو۔

فائده: په خوراک باندی حمد خو ظاهر دے چې د خوراک نه فراغت وشو او آیت دت (لئن شکرتم لازیدنکم) که تاسو شکر ادا کوئ نو زه به په ورکړه کښې زیادت کوم) او دا موقع خو ده هم د شکر،خو د مسلمان کیدل ئی هم ددی سره پیوست کړو دی دپاره چې د انعاماتِ ظاهریه سره انعماتِ باطنه هم شامل شی، یا دا چې په حقیقت کښې د خوراک څښاک د شکر او د حق تعالیٰ شانه حمد خو د اسلام ثمره ده دی وجی ئی دا هم شامل کړو۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا ثَوْرُ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ مَعْدَانَ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رُفِعَتِ الْمَائِدَةُ مِنْ بَيْنِ يَدَيْهِ يَقُولُ: ((الْحَمْدُ لِلَّهِ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ غَيْرَ مُودَعٍ وَلَا مُسْتَغْنًى عَنْهُ رَبَّنَا))

حضرت ابو امامهؓ فرمائی چې د حضورﷺ نه چې به کله دستر خوان اچت کړے شو هغوی به دا دعا فرمائیله :الحمد لله حمدًا کثیرًا مبارکًا فیه غیر مودع ولا مستغنی عنهُ ربنا(ټول تعریفات د حق تعالیٰ شانه دپاره دی داسی تعریف چې انتهاء ئی نه وی داسی تعریف چې پاک دے د ریا وغیره رزیلو صفتونو نه داسی چې مبارک دے او داسی حمد چې پریخودے نشی او نه تری استغنا کیدے شی ،اے الله زمونږ شکر قبول کړه۔

حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ مُحَمَّدُ بْنُ أَبَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ هِشَامٍ الدَّسْتُوائِيِّ، عَنْ بُدَيْلِ بْنِ مَيْسَرَةَ الْعُقَيْلِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ أُمِّ كُلْثُومٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ الطَّعَامَ فِي سِتَّةٍ مِنْ أَصْحَابِهِ فَجَاءَ أَعْرَابِيٌّ فَأَكَلَهُ بِلُقْمَتَيْنِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((لَوْ سَمَّى لَكَفَاكُمْ))

حضرت عائشةؓ فرمائی چی حضورﷺ د شپږو کسانو سره یو ځائے ډوډئ خوړله یو بانډچی راغی او په دوو نوړو کښې ئی هرڅه ختم کړل ،حضورﷺ وفرمائیل چی که ده بسم الله وئیلے وے نو دا خوراک به د ټولو پوره شوے وو۔

فائده: یعنی د ده د بسم الله نه وئیلو د وجې نه شیطان شریک شو ،او هغه ټول ختم کړل چی ددی وجې نه بے برکتی وشوه۔

حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، وَمَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((إِنَّ اللهَ لَيَرْضَى عَنِ الْعَبْدِ أَنْ يَأْكُلَ الْأَكْلَةَ، أَوْ يَشْرَبَ الشَّرْبَةَ فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا(

حضرت انسؓ د حضورﷺ نه نقل کوی چی چی الله تعالیٰ د بنده په دی کار باندی ډیره رضامندی ښکاره کوی چی یوه نوړئ وخوری یا یو ګوټ اوبه وڅکی او د الله تعالیٰ شکر ادا کړی۔ اللهم لک الحمد ولک الشکر لا احصی ثناء علیک۔

باب ما جاء فی قدح رسول اللهﷺ

د حضورﷺ د پیالئ په باره کښې

فائده: د پیالئ نه مراد هغه پیالئ ده کومے سره چی به حضورﷺ اوبه څکلی لکه چی د روایاتو نه معلومیږی۔

حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ الْأَسْوَدِ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ طَهْمَانَ، عَنْ ثَابِتٍ قَالَ: أَخْرَجَ إِلَيْنَا أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، قَدَحَ خَشَبٍ غَلِيظًا مُضَبَّبًا بِحَدِيدٍ فَقَالَ: ((يَا ثَابِتُ، هَذَا قَدَحُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ))

ثابتؓ فرمائی چی انسؓ مونږ ته د لرګی یوه پیړه پیالئ چی د وسپنی پټری ورته لګیدلی وو راوویستله او وئی فرمائیل اے ثابت دا د حضورﷺ پیالئ ده۔

فائده: فرمائی چی د حضرت نضر ابن انسؓ د میراث نه دا پیالئ په اته لاکهه درهمه خرڅه شوی وه،او امام بخاریؒ په بصره کښې په دی کښې اوبه هم څکلی دی ،بعض خلق وائی چی دا بله پیلائ وه۔

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ، وَثَابِتٌ، عَنْ أَنَسٍ قَالَ: ((لَقَدْ سَقَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا الْقَدَحِ الشَّرَابَ كُلَّهُ الْمَاءَ وَالنَّبِيذَ وَالْعَسَلَ وَاللَّبَنَ))

حضرت انسؓ فرمائی چی ما حضورﷺ له په دی پیالئ باندی د څکلو ټول څیزونه اوبه،نبیذ،ګبین او پئ وغیره ټول څکولی دی۔

فائده:نبیذ دی ته وائی چی کهجوری ،وسکی وغیره په اوبو کښ خشتی کړے شی او چی کله ددی اثر اشی نو دغ اوبو ته نبیذ وائی ،دا طاقت ورکونکے او راحت ورکونکے وی، د حضورﷺ دپاره به د شپی کهجوری وغیره په اوبو کښ اچولے شوی او سحر به حضورﷺ څکلی ،کله کله به د دویمے ورځے پورے ترکومے چی به پکښ د نشے اثر نه وو راغلے استعمالولے به شو۔

باب ما جاء فی صفة فاکهة رسول اللهﷺ

د حضورﷺ د میوو په باره کښ

یعنی حضور کومه کومه میوه نوش فرمائیلی ده۔ پدی باب کښ پنځه حدیثونه ذکر دی۔

حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ مُوسَى الْفَزَارِيُّ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ قَالَ: ((كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْكُلُ الْقِثَّاءَ بِالرُّطَبِ))

عبد الله ابن جعفرؓ فرمائی چی حضورﷺ به بادرنګ د کهجورو سره یوځائے خوړلی۔

فائده:بادرنګ یخ وی او کهجورے ګرمی دغه شان د دواړو د یوځائے کولو نه اعتدال پیدا کیږی،دی نه دا معلومه شوه چی د خوراک په څیزونو کښ د هغ د مزاج رعایت ساتل مناسب دی ، او دا هم چی

بادرنګ پهیکه وی او کهجورے خوږے وو ددی په وجه ه په بادرنګ کښ خوګوالے راشی۔

حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْخُزَاعِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ: ((أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْكُلُ الْبِطِّيخَ بِالرُّطَبِ))

حضرت عائشهؓ فرمائی چی حضورﷺ به هندوانه د تازه کهجورو سره خوړله۔

فائده:ترمذی وغیره په روایت کښ دا صراحت دے چی حضورﷺ ددی سره داهم فرمائیلی وو ددی یخوالے به ددی د ګرم والے او ددی ګرم والے به ددی د یخوالے ختم کړی۔

حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يَعْقُوبَ، حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، حَدَّثَنَا أَبِي قَالَ: سَمِعْتُ حُمَيْدًا، أَوْ قَالَ: حَدَّثَنِي حُمَيْدٌ - قَالَ وَهْبٌ: وَكَانَ صَدِيقًا لَهُ- عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: ((رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْمَعُ بَيْنَ الْخِرْبِزِ وَالرُّطَبِ))

حضرت انسؓ فرمائی چه ما حضورﷺ په خربوزه او کهجورو یوځائے خوړلو لیدلے دے۔

فائده: بعضے عالمانو دلته د خربوزے په ځائے د ہندوانے ترجمه کړی ده،او وجه ئی اول حدیث دے چی وجه ئی ددی یخ والے دے لیکن ظاهره داده چی دلته متعارفه خربوزه مراد ده،او د کهجورو سره د یو ځائے خوړلو

وجه دلته ددی پهیکه والے دے ضروری نده چی صرف یو مصلحت دِ هر ځائے جاری شی،ممکنه ده چی یو ځائے دِ یو مصلحت وی او بل ځائے بل،

د بنده(حضرت شیخؒ) په نزد باندی د هندوانه وواقعه زانله ده او د خربوزے قصه زانله ده،چی ددواړو زانله زانله مصلحته دی ،د هندوانی سره د کهجورو مصلحت ددی یخ والے دے او د خربوزے سره د کهجورو خوړلو مصلحت د خربوزے پهیکه والے دے،ځکه چی کله کله ددی د پهیکه والی د وجے په دی کښ چینی اچولے کیږی،دی وجے نه دواړه حدیثونه په یو باندی دمحمول کولو ضرورت نشته۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ الرَّمْلِيُّ ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ بْنِ الصَّلْتِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ رُومَانَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ: ((أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكَلَ الْبِطِّيخَ بِالرُّطَبِ))

حضرت عائشہؓ فرمائی چی حضورﷺ به هندوانه د تازه کهجورو سره خوړله۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَحَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى قَالَ: حَدَّثَنَا مَعْنٌ ،حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: كَانَ النَّاسُ إِذَا رَأَوْا أَوَّلَ الثَّمَرِ جَاءُوا بِهِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَإِذَا أَخَذَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ((اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي ثِمَارِنَا، وَبَارِكْ لَنَا فِي مَدِينَتِنَا، وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا وَفِي مُدِّنَا، اللَّهُمَّ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ عَبْدُكَ وَخَلِيلُكَ وَنَبِيُّكَ، وَإِنِّي عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ، وَإِنَّهُ دَعَاكَ لِمَكَّةَ، وَإِنِّي أَدْعُوكَ لِلْمَدِينَةِ بِمِثْلِ مَا دَعَاكَ بِهِ لِمَكَّةَ وَمِثْلِهِ مَعَهُ)) قَالَ: ثُمَّ يَدْعُو أَصْغَرَ وَلِيدٍ يَرَاهُ فَيُعْطِيهِ ذَلِكَ الثَّمَرَ

حضرت ابو هریرهؓ فرمائی چی کله به خلقو نوی میوه ولیده نو د حضورﷺ په خدمت کښ به ئی پیش کړه حضورﷺ به دا دعا ووئیله: ((اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي ثِمَارِنَا، وَبَارِكْ لَنَا فِي مَدِينَتِنَا، وَبَارِكْ لَنَا فِي صَاعِنَا وَفِي مُدِّنَا، اللَّهُمَّ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ عَبْدُكَ وَخَلِيلُكَ وَنَبِيُّكَ، وَإِنِّي عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ، وَإِنَّهُ دَعَاكَ لِمَكَّةَ، وَإِنِّي أَدْعُوكَ لِلْمَدِينَةِ بِمِثْلِ مَا دَعَاكَ بِهِ لِمَكَّةَ وَمِثْلِهِ مَعَهُ)) دی نه بعد به حضورﷺ چی کوم ماشوم ولیده هغه له به ئی ورکړه۔

ددعا ترجمه(اے الله زمونږ حخ ږهصص کښ برکت واچوی او زمونږ په ښار کښ برکت واچوی او زمونږ په هغه څیز کښ چی په صاع او مُد سره ناپ کیږی په هغے کښ برکت واچوی (صاع او مُد دا دوه پیمانے وے په مدینه کښ کهجورے وغیره ټولے به ئی په دی باندی ناپ کولی) اے الله بے شکه ابراهیمؑ ستا شتا بنده او ستا دوست او ستا نبی وو او بے شکه زه هم ستا بنده او ستا نبی یم (چونکه موقع د توضع وه نو د خپل حبیب کیدو ذکر ئی ونه فرمایه) دوئ چی د کومو څیزونو دپاره دعا د خپل آباد کړی ښار دپاره کړی وه(د کومے ذکر چی په آیت :فاجعل افئدة من الناس تهوی الیهم وارزقهم من الثمرات) (ابراهیم ۳۷) کښ ده (چی د خلقو زړونه مکے طرفته مائله کړه او د میوو خوراک دی خلقو نه میسر کړی) دهغے په دوه برخے زه د مدینے دپاره غواړم، راوی فرمائی چی بیا به حضورﷺ دغه میوه چی کوم ماشوم به ئی ولیده هغه به ئی راوغوښته او هغه میوه به ئی ورله ورکړه۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْمُخْتَارِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ، عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذِ بْنِ عَفْرَاءَ، قَالَتْ: بَعَثَنِي مُعَاذُ بْنُ عَفْرَاءَ بِقِنَاعٍ مِنْ رُطَبٍ وَعَلَيْهِ أَجْرٌ مِنْ قِثَّاءِ زُغْبٍ، ((وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ الْقِثَّاءَ، فَأَتَيْتُهُ بِهِ وَعِنْدَهُ حِلْيَةٌ قَدْ قَدِمَتْ عَلَيْهِ مِنَ الْبَحْرَيْنِ، فَمَلَأَ يَدَهُ مِنْهَا فَأَعْطَانِيهِ))

ربیعؓ فرمائی چی ماله زما تره معاذ ابن عفراءؓ د تازه کهجورو یو چابړے چی په هغے باندی د نرى نرى ویختو واله بادرنګ هم وو راکړو او د حضور ﷺ خدمت ته ئی ولیږلم ،د حضور ﷺ به د بادرګ خوښ وو ،ما چی کله بادرنګ د حضور ﷺ په خدمت کښ پیش کول نو دغه وخت د حضور ﷺ په خدمت کښ د بحرین نه کالی راغلی وو حضور ﷺ دهغے نه یو موټے ډک کړو او ماله ئی راکړو۔

فائده: بادرنګ د کهجورو سره یو ځائے خوړل علاوه ددی فائدو نه کومے چه ذکر شوی بدن ښربوی هم،لکه چی حضرت عائشةؓ فرمائی چی زماد واده په وخت زما د والدی دا خیال راغے چی زما وجود لګ تکړه شی نو په ما باندی ئی تازه کهجورے د بادرنګو سره وخورولے چی ددی نه زما په وجود کښ خه تکړه ولے پیدا شو ، په یو بل ضعیف حدیث کښ راغلی دی د حضرت عائشےؓ نه نقل دی چی حضور ﷺ به بادرنګ د مالګے سره خوړو ،خو په دی کښ څه مانع نشته چی کله خوړه طبعیت غواړی او کله مالګین ۔

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذِ بْنِ عَفْرَاءَ، قَالَتْ: ((أَتيتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقِنَاعٍ مِنْ رُطَبٍ وَأَجْرٍ زُغْبٍ، فَأَعْطَانِي مِلْءَ كَفِّهِ حُلِيًّا))أَوْ قَالَتْ: ذَهَبًا

د ربیعؓ نه دا هم نقل دے چی ما د حضور ﷺ خدمت کښ د کهجورو یو چابړے چی پکښ نرى نرى ویختو واله بادرنګ هم وو یوړل نو حضور ﷺ ماله یو ډک لاس کالی یا سره زر راکړل۔

فائده:دا هغه اوله قصه ده خو مختصره ده او په کالی او سره زرو کښ د یو راوی شک دے۔

باب ما جاء فی صفة شراب رسول الله ﷺ

د حضور ﷺد اوبو څکلو د لوښو حالات

فائده:په دی باب کښ مصنف دوه حدیثونه نقل کړی دی۔

حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ ں حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: ((كَانَ أَحَبَّ الشَّرَابِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحُلْوُ الْبَارِدُ))

حضرت عائشةؓ فرمائی چی د حضور ﷺ به د څکلو په څیزونو کښ د ټولو نه زیات خوږ او یخ څیز خوښ وو۔

فائده:په ظاهره خو ددی حدیث نه خوږی او یخی اوبه مراد دی لکه چی د ابوداؤد په حدیث کښ تصریح ده ،او دا احتمال هم شته چی ددی نه د ګبین شربت یا نبیذ مراد وی لکه چی د پیالۓ په باب کښ تیر شوے دے ۔د حضور ﷺ په دربار مبارک کښ د خوراک څه داسی خال اهتمام نه وو څه چی به حاضر وو خوړل به

ئی خو د یخو اوبو خاص اہتمام وو، سقیا کومه چې د مدینې منورې نه څو میله لرې ده هغې ځائې نه به خوړې اوبه د حضور ﷺ دپاره راوړلې شوې ،حضور ﷺ د حضرت داؤدؑ د دعا په الفاظو کښې هم دا نقل کړې چې :اے الله ماله خپل داسې محبت راکړې چې زما د مال جان او اہل عیال او د یخو اوبو نه ماته ډیر محبوب وی۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عُمَرَ هُوَ ابْنُ أَبِي حَرْمَلَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: دَخَلْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا وَخَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ عَلَى مَيْمُونَةَ فَجَاءَتْنَا بِإِنَاءٍ مِنْ لَبَنٍ، فَشَرِبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا عَلَى يَمِينِهِ وَخَالِدٌ عَلَى شِمَالِهِ، فَقَالَ لِي: ((الشَّرْبَةُ لَكَ، فَإِنْ شِئْتَ آثَرْتَ بِهَا خَالِدًا))فَقُلْتُ: مَا كُنْتُ لِأُوثِرَ عَلَى سُؤْرِكَ أَحَدًا، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ أَطْعَمَهُ اللَّهُ طَعَامًا، فَلْيَقُلِ: اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَأَطْعِمْنَا خَيْرًا مِنْهُ، وَمَنْ سَقَاهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ لَبَنًا، فَلْيَقُلِ: اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَزِدْنَا مِنْهُ". ثُمَّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((لَيْسَ شَيْءٌ يُجْزِئُ مَكَانَ الطَّعَامِ وَالشَّرَابِ غَيْرُ اللَّبَنِ))

حضرت ابن عباسؓ فرمائی چې زه او خالد ابن ولیدؓ د حضور ﷺ سره د حضرت میمونہؓ کره لاړو (ام المؤمنین حضرت میمونہؓ ددې دواړو ترور/ماسی وه)هغې په یو لوخی کښې پۓ راوړل حضور ﷺ د هغې نه وڅکل زه د حضور ﷺ خې طرفته ووم او خالدؓ گس طرفته حضور ﷺ ماته وفرمائیل حق خو ستا دے خو که ته په خوشحالئ غواړې نو خالدؓ له ترجیح ورکړه،ما ووې چې ستاسو په جوټه باندې زه چاله هم ترجیح نشم ورکولے،دې نه بعد حضور ﷺ وفرمائیل چې کله په یو کس باندې الله تعالیٰ څه وخوروی نو دا دعا دِ وائی اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَأَطْعِمْنَا خَيْرًا مِنْهُ (اے الله په دې کښې برکت واچوه او ددې نه خه په مونږ وخوروه)او چې په کوم کس باندې الله تعالیٰ پۓ وڅکوی نو دا دعا دِ وائی : اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَزِدْنَا مِنْهُ،(اے الله په دے کښې برکت واچوه او ډیر والے پکښې راوله)۔

ابن عباسؓ فرمائی چې حضور ﷺ د هر څیز نه وروستو د بهترئ دعا کړې ده او د پیو نه بعد ئی د ډیر والی ددعا تعلیم ځکه وفرمائیله چې د حضور ﷺ ارشاد دے چې د پیو نه علاوه بل څیز داسې نشته چې د خوراک او اوبو کار په یو ځائې کوی۔

فائده:حضور ﷺ د پیو په ورکولو کښې د ابن عباسؓ حق ځکه وفرمایه چې دویؓ خې طرفته ناست وو او خالدؓ گس طرفته ناست وو او د پیالئ گرزول لکه څنگه چې په متعدد روایاتو کښې راغلی دی خې طرفته پکار دی ،او د خالدؓ ترجیح ئې ځکه وفرمائیله چې دویؓ په عمر کښې مشر وو، او دغه شان د ابن عباسؓ دپاره تعلیم وو چې حق اگر که دده دے خو ده له پکار چې مشر له ترجیح ورکړې،لیکن په ابن عباسؓ باندې د حضور ﷺ د جهوټے د اہمیت مشغول والے غالب شو چې دا دحضور ﷺ سره د ډیر زیات عشق ثمره وه۔

باب ما جاء فی صفة شرب رسول الله ﷺ

د حضور ﷺ د اوبو څکلو طرز وطریقه

په دې باب کښې مصنف لس حدیثونه ذکر کړې دی۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ ں حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ قَالَ: حَدَّثَنَا عَاصِمٌ الْأَحْوَلُ، وَمُغِيرَةُ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: ((أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَرِبَ مِنْ زَمْزَمَ وَهُوَ قَائِمٌ))

ابن عباسؓ فرمائی چی حضورﷺ د زمزم اوبه په ولاړه باندی وڅکلی۔

فائده: د حضورﷺ نه په ولاړه د اوبو څکلو نه منع هم راغلی ده لکه چی د بل حدیث لاندی به تفصیلی راشی، دی وجے نه بعضی علماؤ د زمزم اوبه هم په دی نهی کښ داخل کړی دی او دغه څکل ئی د عذر یا ګڼړی د وجے یا په جواز باندی حمل کړی دی ،لیکن د عالمانو مشهور قول دادے چی د زمزم اوبه په دی منع کښ داخل ندی د زمزم په ولاړه څکل افضل دی۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ ں حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ حُسَيْنٍ الْمُعَلِّمِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ قَالَ: ((رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَشْرَبُ قَائِمًا وَقَاعِدًا))

عمرو ابن شعیب د خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه روایت کوی چی ما حضورﷺ په ولاړه او په ناسته په دواړه حالته په اوبو څکلو لیدلے دے۔

فائده: د حضورﷺ نه په ولاړه د اوبو څکلو په باره کښ ډیر حدیثونه راغلی دی ،لکه په مسلم شریف کښ د ابو هریرةؓ نه نقل دی چی حضورﷺ وفرمائیل چی په ولاړه دِ څوک هم اوبه نه څکی که په هیره باندی هم وڅکی نو اُلټۍ دِ وکړی،عالمانو د حضورﷺ دا فعل او د منع کولو روایت په مختلفو طریقو باندی جمع کړی دی،بعضے عالمان فرمائی چی منع وروستو راغلی ده دی وجے نه دا ناسخ دے، بعضے عالمان فرمائی چی د ولاړی واله روایت ناسخ دے او د ممانعت دپاره ،لیکن مشهور قول دادے چی د منع کولو حکم حکم شرعی او تحریمی ندے بلکه د آداب نه قبیلی نه دے دغه شان د رحمت او شفقت د باب نه هم دے ،دی وجے نه ابن قیمؒ وغیره د ولاړے د اوبو څکلو څو نقصانات بیان کړی دی ، غرض دا چی حضورﷺ په ولاړه اوبو څکلو سره د جواز بیان وکړو چی دا معلومه شی د ممانعت د وجے په ولاړه اوبه څکله حرام ندی اوبته خلاف اولیٰ او مکروه دی۔

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ ں حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: ((سَقَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ زَمْزَمَ فَشَرِبَ وَهُوَ قَائِمٌ))

ابن عباسؓ فرمائی چه ما په حضورﷺ باندی د زمزم اوبه وڅکولی او حضورﷺ په ولاړه باندی وڅکلی ۔

فائده: د باب په اول حدیث کښ ددی ذکر وشو۔

حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ طَرِيفٍ الْكُوفِيُّ قَالَا: أَنْبَأَنَا ابْنُ الْفُضَيْلِ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ مَيْسَرَةَ، عَنِ النَّزَّالِ بْنِ سَبْرَةَ قَالَ: ((أُتِيَ عَلِيٌّ بِكُوزٍ مِنْ مَاءٍ وَهُوَ فِي الرَّحْبَةِ فَأَخَذَ مِنْهُ كَفًّا فَغَسَلَ يَدَيْهِ وَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَمَسَحَ وَجْهَهُ وَذِرَاعَيْهِ وَرَأْسَهُ، ثُمَّ شَرِبَ وَهُوَ قَائِمٌ))، ثُمَّ قَالَ: ((هَذَا وُضُوءُ مَنْ لَمْ يُحْدِثْ، هَكَذَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَ))

نزال ابن سبرة فرمائی چی د حضرت علیؓ خواته یو کوزه اوبه راوړے شوی کله چی هغه د کوفے د جومات په میدان کښ کومه چی دارالقضاء وه تشریف فرما وو ،دوی یو چونگ اوبه واغستی هغه ئی په خله او پوزه کښ واچولی او بیا ئی په مخ او لاسونو باندی لوند لاس راخکلو او بیا ئی وفرمائیل چی دا د هغے کس اودس دے کوم چی د اول نه په اوداسه کښ وی،ما حضورﷺ په داسی کولو باندی لیدلے دے ۔

فائده:دا حدیث مختصر تفصیلی په مشکوٰة شریف کښ د بخاری شریف په روایت باندی نقل دے ،په دی حدیث کښ دا هم احتمال شته چی په مخ لاس باندی ئی حقیقةً مسح کړی وی په دی صورت کښ بیا سی ته اودس وئیل مجاز دے د لغوی معنیٰ په اعتبار باندی ځکه چی د خپو ذکر په دی کښ د سره شته نه چی دا د مجاز قرینه ده۔

بله توجیه دا هم کیدے شی چی په دی حدیث کښ ئی معمولی شان وینځلو ته مسح وئیلی وی مجازًا او په بعضو روایاتو کښ د خپو ذکر هم راغلے دے ،او ددی توجیه مرسته ددی نه هم کیږی چی په بعضو روایاتو کښ د مسح په ځائے باندی د مخ لاس وینځلو ذکر هم راغلے دے ،په دی صورت کښ دی نه تجدید د وضو مراد ده او دا توجیه د بنده(حضرت شیخؒ) په نزد باندی اولیٰ ده، ددی حدیث نه دا معلومه شوه چی د اوداسه پاتی شوی اوبه په ولاړه باندی څکل جائز دی ۔

د فقهے په کتابونو کښ ددی اوبو او د زمزم د اوبو په ولاړه باندی د څکلو د جواز صراحت دے ،

بلکه علامه شامیؒ خو د اودس اوبه په ولاړه باندی څکل د بعضے بزرگانو نه د مرضونو د شفا د پاره مجرب علاج نقل کړے دے،او ملا علی قاریؒ په شرح شمائیل کښ ددی استحباب نقل کړے دے ۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَيُوسُفُ بْنُ حَمَّادٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي عِصَامٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَانَ يَتَنَفَّسُ فِي الْإِنَاءِ ثَلَاثًا إِذَا شَرِبَ، وَيَقُولُ: ((هُوَ أَمْرَأُ وَأَرْوَى))

حضرت انسؓ فرمائی چی حضورﷺ به په اوبو کښ دری ځله ساه اغیسته او دا به ئی فرمائیل چی داسی څکله ډیر خوشگوار او خه مړونکی دی۔

فائده:د اوبو په یو ساه باندی د څکلو ممانعت هم راغلے دے عالمانو په یو ځائے باندی د څکلو ډیر نقصانات هم لیکلی دی ،بالخصوص د اعصابو د کمزورئ سبب جوړیږی دغه شان د معدے او اینے د پاره هم د نقصان سبب دے۔

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ رِشْدِينِ بْنِ كُرَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: ((أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا شَرِبَ تَنَفَّسَ مَرَّتَيْنِ))

حضرت ابن عباسؓ فرمائی چی حضورﷺ به که وبه څکلی نو دوه پیرے به ئی څکلی ۔

فائده:په دی حدیث کښ خو یا اوبه په دوه ساه باندی مراد دی او د په ظاهره قریب هم دی ،ځکه چی د ابن عباسؓ قولی حدیث دے چی اوبه په یو ساه باندی مه څکئ بلکه په دوه یا درے ساه ئی څکئ۔

په دی صورت کښې دا حدیث په بعضې وختونو باندی محمول دے چی حضورﷺ به د کمے درجے بیانولو د پاره دوه پیرے هم څکلے۔

بل مطلب دا هم کیدے شی چی په حدیث کښې د اوبو په مینځ کښې دوه پیرے ساه اغیستل مراد وی او چی کله د اوبو په مینځ کښې دوه پیرے ساه واغیستے شو نو اوبه په دریو ساګانو باندی شوی ،په دی صورت کښې ددی د نورو روایاتو سره څه تعارض هم پاتی نشو۔

حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي عَمْرَةَ، عَنْ جَدَّتِهِ كَبْشَةَ، قَالَتْ: ((دَخَلَ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشَرِبَ مِنْ قِرْبَةٍ مُعَلَّقَةٍ قَائِمًا، فَقُمْتُ إِلَى فِيهَا فَقَطَعْتُهُ))

کبشهؓ فرمائی چی حضورﷺ زمونږ کره راغے زما په کور کښې یوه مشکیزه زوړنده وه حضورﷺ پاسیده او د مشکیزے د خلے نه ئی اوبه وڅلی، زه پاسیدم او د مشکیزے خله مې پرے کړه۔

فائده: امام نوویؒ د امام ترمذی نه ددی پرے کولو دوه وجے نقل کړی دی ۔

یو دا چی د تبرکًا یعنی په کومه حصه چی د حضورﷺ خله مبارکه لګیدلی وه هغه ئی پرے کړه چی د تبرک دپاره ئی د زان سره وساتی۔

دویمه دا چی د ادبًا ئی دغه ځائے پرے کړو چی هسی نه بل څوک په دی ځائے باندی خله ولګوی چی دا بے ادبی ده۔

په دی حدیث کښې دوه خبری دی ،یو په ولاړه د اوبو څلو چی دا مخکښې بیان شوه، دویمه دا چی د بخاری شریف وغیره په روایت کښې د انسؓ نه د مشک د خلے نه د اوبو څکلو ممانعت راغلی دے،،دی وجے نه دا حدیث به یا د جواز په بیان باندی حمل کوو،یا به د ممانعت واله روایت په خلاف اولی باندی حمل کوو،دغه شان د حضورﷺ دا کار ددغ منع د وجے نه په ضرورت باندی هم حمل کولے شی ۔

په دی حدیث کښې یوه قصه راغلے ده چی یو کس په مشکیزه باندی خله ایخی وه او اوبه ئی څکلی چی د هغې نه یو مار راووتلو ،په دی باندی حضورﷺ دداسی اوبه څکلو نه منع وفرمائیله،ددی حدیث په وجه باندی دداسی قسمه واقعات په ظاهره ابتدائی دی ،یو خاص خبره بله هم ده چی په داسی طریقے سره د اوبو څکلو د ممانعت د وجو نه یو دا هم ده چی د هر کس خله داسی نه وی چی هغه یوے مشکیزے یا چاټۍ له وروړی او بل له د هغې نه کرکه نه ورځی ،لیکن بعضې خلی داسی هم وی چی د هغې جوټه د بیمارو دپاره شفاء او ددنیا د ټولو خوږو څیزونو نه خوږ او ډیر خوشحالی راوستونکی وی

عناب لب لباب دهن شربت وصال   یہ نسخہ چاہئیے تیرے بیمار کیلئے

دی وجے نه د حضورﷺ د مزکیزے نه اوبه څکل دِ د نورو په څکلو نه قیاس کیږی۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا عَزْرَةُ بْنُ ثَابِتٍ الْأَنْصَارِيُّ، عَنْ ثُمَامَةَ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ: كَانَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، يَتَنَفَّسُ فِي الْإِنَاءِ ثَلَاثًا، وَزَعَمَ أَنَسٌ، ((أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَنَفَّسُ فِي الْإِنَاءِ ثَلَاثًا))

ثمامهؒ فرمائی چی انسؓ به اوبه په درے ساه باندی څکلی او دا به ئی فرمائیل چی حضورﷺ به په درے ساه باندی څکلی۔

حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عَبْدِ الْكَرِيمِ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ زَيْدٍ ابْنِ ابْنَةِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: ((أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَى أُمِّ سُلَيْمٍ وَقِرْبَةٌ مُعَلَّقَةٌ فَشَرِبَ مِنْ فَمِ الْقِرْبَةِ وَهُوَ قَائِمٌ، فَقَامَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ إِلَى رَأْسِ الْقِرْبَةِ فَقَطَعَتْهَا))

حضرت انسؓ فرمائی چی حضورﷺ زما د مور حضرت ام سلیمؓ کره تشریف یوړو هلته یوه مشکیزه زوړنده وه حضورﷺ په ولاړه باندی د هغی نه وبه وڅکلی ام سلیمؓ پاسیده او د مشکیزے هغه خله ئی پرے کړه۔

فائده: دحضرت کبشهؓ حدیث هم ددی قسم وس تیر شو د زوړندی مشکیزے نه په ناسته باندی اوبه څکله هسی هم مشکل دی دی وجے نه د ضرورت په درجه کښ دا واقعات هم داخل دی ،د ام سلیم په حدیث کښ په بعضے حدیثونو کښ ددی صراحت دے چی دوئؓ کله د مشکیزے څه پرے کوله نو وئی فرمائیل چی د حضورﷺ نه بعد به په دی باندی بل څوک خله ونه لګوی، دی نه معلومه شوه چی دوئؓ ادبًا پرے کړی وه۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ نَصْرٍ النَّيْسَابُورِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْفَرْوِيُّ، حَدَّثَتْنَا عَبِيدَةُ بِنْتُ نَائِلٍ، عَنْ عَائِشَةَ بِنْتِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنْ أَبِيهَا، ((أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَشْرَبُ قَائِمًا)) قَالَ: أَبُو عِيسَى: وَقَالَ بَعْضُهُمْ: عُبَيْدَةُ بِنْتُ نَابِلٍ

حضرت سعد بن ابی وقاصؓ فرمائی چی حضورﷺ به په ولاړه باندی اوبه څکلی۔

فائده: دا عادت شریف نه وو بلکه کله کله به ئی د ضرورت په وجه باندی کول لکه چی مخکښ تفصیلی تیر شول۔

باب ما جاء فی تعطر رسول اللهﷺ

د حضورﷺ د خوشبو لګولو ذکر

فائده: د حضورﷺ د بدن مبارک نه خو به خود بخود خوشبوئی راتله اګر که حضورﷺ به د خوشبوئی استعمال نه وو کړے ،لکه چی د حضرت انسؓ روایت دے "چی ما یوه خوشبوئی نه مشک نه عنبر نه بله خوشبوئی د حضورﷺ د خوشبوئی نه بهتره بوئی کړی نده" دغه شان ډیر روایات په دی مضمون باندی دلالت کوی،دحضورﷺ خوَله مبارکه د خوشبو په ځائے د استعمالولو واقعات هم د حدیث په کتابونو کښ ذکر دی، لکه چی دام سلیمؓ روایت مسلم وغیره روایت کړے دے "چی یو ځل د خوب په حالت کښ د حضورﷺ د وجود مبارک نه خوله وتله دوئؓ دا په یوه شیشه کښ جمع کول شروع کړو نو د حضورﷺ سترګی مبارکی وغړیدی حضورﷺ تپوس وکړو دا څه کوی؟ دوئؓ وفرمائیل دا مونږ په خوشبو کښ میلاوو دا د ټولو نه خه خوشبو ده۔

یو ځل حضورﷺ په خپل لاس مبارک باندی دم وکړو او د حضرت عقبهؓ په ملا او خیټه ئی راخکلو چی د هغې نه دومره خوشبوئی شوه ،چی ددهؓ څلور بیبیانی وی او هری یوی به ـــ بے حده خوشبوئی لگوله چی ددهؓ د خوشبو برابر شی خو ددهؓ خوشبو به غالب وه۔

نکہتِ گل راچه کنم اے نسیم   بوئے آن پیر ہنم آرزو است

د ابو علی وغیره روایت دے چی په کومه کوڅه چی به حضورﷺ تیر شو نو راتلونکی کس به دغه کوڅه د حضورﷺ د خوشبو بوئیولو نه وپیژندہ چی په دی لار حضورﷺ تیر شوے دے، وغیره وغیره ډیر روایات په دی باندی دلالت کوی لیکن ددی باوجود به حضورﷺ د خوشبو استعمال کوو۔

په دی باب کښی حضورﷺ شپږ حدیثونه ذکر کړی دی۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ قَالُوا: حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ قَالَ: حَدَّثَنَا شَيْبَانُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُخْتَارِ، عَنْ مُوسَى بْنِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: ((كَانَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُكَّةٌ يَتَطَيَّبُ مِنْهَا))

حضرت انسؓ فرمائی چی د حضورﷺ سره سُکّه وه چی د هغې نه به ئی خوشبو استعمالوله۔

فائده: د سُکّه په معنیٰ کښی د عالمانو دوه ویناگانی دی بعضے ددی ترجمه د عطردان او د هغې بوتل کوی په کوم کښی چی عطر کیخودے کیږی ،نو بیا خو معنیٰ دا شوه چی د عطردان نه به ئی راویسته او استعمالول به ئی ،زما استاد محترم هم دا ترجمه ارشاد فرمائیلے وه، او بعضے علماء فرمائی چی دا یوه مرکب خوشبو ده لکه قاموس وغیره هم دی له ترجیح ورکړی ده،او صاحب قاموس ددی د جوړولو تفصیلی ترکیب هم لیکلے دے ۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ ں حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ ں حَدَّثَنَا عَزْرَةُ بْنُ ثَابِتٍ، عَنْ ثُمَامَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: كَانَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، لَا يَرُدُّ الطِّيبَ، وَقَالَ أَنَسٌ: ((إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَرُدُّ الطِّيبَ))

ثمامهؒ فرمائی چه حضرت انسؓ به خوشبو نه رد کوله او دا به ئی فرمائیل چی حضورﷺ به خوشبو نه رد کوله۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ ں حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُسْلِمِ بْنِ جُنْدُبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ثَلَاثٌ لَا تُرَدُّ: الْوَسَائِدُ، وَالدُّهْنُ، وَاللَّبَنُ"

حضرت ابن عمرؓ فرمائی چی حضورﷺ وفرمایئل چی درے څیزونه رد کول ندی پکار،تکیه،تیل،اخوشبو او پۍ-

فائده: دا څیزونه ئی ځکه بیان کړل چی دا په هدیه ورکونکی باندی بوجهـ نه وی او په رد کولو سره اکثر خفگان رازی ،ددی څیزونو په حکم کښی ټول هغه څیزونه مراد دی کوم چی په هدیه ورکونکی باندی بوجهـ نه وی او انتهائی مختصر وی ،د تکیه نه مراد دبعض عالمانو په نزد باندی د تکیه هدیه کول دی ځکه چی

په دی کښ داسی بوجهـ نشته او د بعضو په نزد باندی د استعمال دپاره چاته د ډډی وخلو یا سر کیخودو دپاره تکیه کیخودل مراد دی۔

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الْحَفَرِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((طِيبُ الرِّجَالِ مَا ظَهَرَ رِيحُهُ وَخَفِيَ لَوْنُهُ، وَطِيبُ النِّسَاءِ مَا ظَهَرَ لَوْنُهُ وَخَفِيَ رِيحُهُ))
حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنِ الطُّفَاوِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ بِمَعْنَاهُ

ابوهریرهؓ فرمائی چی حضورﷺ ارشاد وفرمایه چی د نارینه خوشبو هغه ده چی د کومی خوشبو وی او رنگ ئی نه وی او د زمانه خوشبو هغه ده چی رنگ ئی وی او خوشبو(بوئی) ئی نه وی لکه نکریزه زعفران وغیره۔

فائده: مطلب دا چی نارینه له د نارینه خوشبو استعمالول پکار دی چی رنگ د نارنینه سره مناسب ندے او زمانه له خوشبو مناسب نده چی پردو خلقو ته ئی خوشبو نه رسی۔

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ خَلِيفَةَ، وَعَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ الصَّوَّافُ، عَنْ حَنَانٍ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((إِذَا أُعْطِيَ أَحَدُكُمُ الرَّيْحَانَ فَلَا يَرُدُّهُ، فَإِنَّهُ خَرَجَ مِنَ الْجَنَّةِ)) قَالَ أَبُو عِيسَى: ((وَلَا نَعْرِفُ لِحَنَانٍ غَيْرَ هَذَا الْحَدِيثِ))وقال عبدالرحمٰن بن أبي حاتم في كتاب الجرح والتعديل: حنان الأسدي من بني أسد بن شريك وهو صاحب الرقيق عم والد مسدد، روى عن أبي عثمان النهدي وروى عنه الحجاج بن أبي عثمان الصواف سمعت أبي يقول ذلك

ابو عثمان نهدی تابعی فرمائی چی حضور اقدسﷺ وفرمائیل چی کوم کس له ریحان ورکړے شو نو ده له پکار دی چی واپس کوی ئی نه ځکه چی ددی اصل د جنت نه راوتلے دے۔

فائده: ریحان نه صرف دا قسم مراد دے که دا هرے خوشبو ته وائی د اهل لغت دا دواړه قوله دی او دواړه دلته مراد کیدے شی، الله تعالیٰ د جنت د خوشبوئی نقل په دنیا کښ ځکه پیدا کړے چی چی د جنت دپاره ترغیب شی او د شوق د زیادت ذریعه شی ځکه چی خوشبو طرفته طبعًا رغبت پیدا کیږی او طبیعت دی طرفته کشش کوی لیکن ددنیا د خوشبو د جنت د خوشبو سره کوم نسبت دے

چه نسبت خاک را با علام پاک

چی د هغې خوشبو دومره لری رسی چه د پنځه سوو کالو مزل وی۔

حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ بْنِ مُجَالِدِ بْنِ سَعِيدٍ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ بَيَانٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ: عُرِضْتُ بَيْنَ يَدَيْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، فَأَلْقَى جَرِيرٌ رِدَاءَهُ وَمَشَى فِي إِزَارٍ، فَقَالَ لَهُ: خُذْ رِدَاءَكَ. فَقَالَ عُمَرُ لِلْقَوْمِ: ((مَا رَأَيْتُ رَجُلًا أَحْسَنَ صُورَةً مِنْ جَرِيرٍ إِلَّا مَا بَلَغَنَا مِنْ صُورَةِ يُوسُفَ الصِّدِّيقِ عَلَيْهِ السَّلَامُ))

جریر ابن عبد الله بجلی د حضرت عمرؓ په خدمت کښې د معائنې دپاره پیش کړے شو (دوی څادر لرے کړو او صرف په لنګ کښې د حضرت عمرؓ مخکښې خپل امتحان وکړو حضرت عمرؓ وفرمائیل څادر راواخله امتحان وشو) بیا ئې قوم طرفته مخ کړو او وئې فرمائیل چې ماد جریر پشان خاسته څوک ندی لیدلی علاوه د حضرت یوسفؑ خائست کوم چې مونږ ته رارسیدلے دے ۔

فائده: یعنی د یوسفؑ د حسن قصے کومے چې مونږ ته رارسیدلی دی د هغې نه دا معلومیږی چې هغوئ د جریر نه ډیر خائسته وو دهغوی نې علاوه دده نه بل خائسته نشته۔

حضرت عمرؓ به د جهاد په موقع باندی د لښکر تفصیلی معائنه کوله د ټول معائینه ئې وکړه چې دے پکښې هم راغے، په دی حدیث باندی څو اشکالات دی چې د اختصار د وجے نه پریخودے شی ، یو اشکال تری دادے چې د حضرت یوسفؑ د حسن استثناء ئې وکړه او د حضورﷺ د جمال ئې ونه کړه مګر دا خو ښکاره خبره ده چې هر کله د حضورﷺ حسن د یوسفؑ د حسن نه زیات وو نو د هغوئ د استثناء سره د حضورﷺ استثناء پخپله راغله، ددی نه علاوه د حضورﷺ ټول جمال عام طور پټ وو لکه چې شاه ولی اللهؒ لیکلی دی ، بل اشکال دادے چې ددی حدیث د باب سره مناسبت نشته ددی په جواب کښې یوه توجیه دا بیانیږی چې خائست دپاره خوشبو لازمی ده او کوم کس چې ډیر حسین وی دغه هومره خه خوشبو دده د بدن او لباس نه زی، د حضورﷺ د ټولو نه ډیر خائسته او د سپوږمۍ سپوږمۍ کیدل هر څوک منی دی وجے نه ددوی دپاره طبعی خوشبو لازم ده۔

باب کیف کان کلام رسول اللهﷺ

د حضورﷺ خبری به ښنګه وی

فائده: په دی باب کښې درے حدیثونه ذکر دی۔

حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ الْأَسْوَدِ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: ((مَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْرُدُ سَرْدَكُمْ هَذَا، وَلَكِنَّهُ كَانَ يَتَكَلَّمُ بِكَلَامٍ بَيِّنٍ فَصْلٍ، يَحْفَظُهُ مَنْ جَلَسَ إِلَيْهِ))

حضرت عائشهؓ فرمائی چې د حضورﷺ خبری به ستاسو د خلقو پشان پرله پسے نه وی بلکه صفا صفا یوه خبره به ئې د بلے نه جدا کوله خواکښې خلق به پری ډیر خه پوهیدو۔

فائد: یعنی د حضورﷺ خبری به مجملی یا ډیری زرزر نه وی چې بعضے به په ذهن کښې راتلی او بعضے نه بلکه په داسی اطمینان باندی به ئې واضح خبری کولی چې اوریدونکی به ډیر خه پوښیدل۔

[220] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى ،حَدَّثَنَا أَبُو قُتَيْبَةَ سَلْمُ بْنُ قُتَيْبَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُثَنَّى، عَنْ ثُمَامَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: ((كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعِيدُ الْكَلِمَةَ ثَلَاثًا لِتُعْقَلَ عَنْهُ))

حضرت انسؓ فرمائی چه حضورﷺ به کله کله د ضرورت په وجه خبره درے درے ځله وفرمائیله چې اوریدونکی خه پوهـ شی۔

فائده: یعنی که مشکله خبره به وه نو د غور او سوچ دپاره او که مجمع به ډیره وه نو د مجمع درے واړو طرفونو ته به ئی مخ کړو او مضمون به ئی بیانولو چی په خه طریقه ئی محفوظ کړی درے پیرے اکثر حد دے کنی دوه پیرے چی بی کافی شو نو دوه پیرے به ئی فرمائیله۔

حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، أَنْبَأَنَا جُمَيْعُ بْنُ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْعِجْلِيُّ قَالَ: حَدَّثَنِي رَجُلٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ مِنْ وَلَدِ أَبِي هَالَةَ زَوْجِ خَدِيجَةَ يُكْنَى أَبَا عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنٍ لِأَبِي هَالَةَ، عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ قَالَ: سَأَلْتُ خَالِي هِنْدَ بْنَ أَبِي هَالَةَ، وَكَانَ وَصَّافًا، فَقُلْتُ: صِفْ لِي مَنْطِقَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ((كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَوَاصِلَ الْأَحْزَانِ دَائِمَ الْفِكْرَةِ لَيْسَتْ لَهُ رَاحَةٌ، طَوِيلُ السَّكْتِ، لَا يَتَكَلَّمُ فِي غَيْرِ حَاجَةٍ، يَفْتَتِحُ الْكَلَامَ وَيَخْتِمُهُ بِاسْمِ اللَّهِ تَعَالَى، وَيَتَكَلَّمُ بِجَوَامِعِ الْكَلِمِ، كَلَامُهُ فَصْلٌ، لَا فُضُولَ وَلَا تَقْصِيرَ لَيْسَ بِالْجَافِي وَلَا الْمُهِينِ، يُعَظِّمُ النِّعْمَةَ، وَإِنْ دَقَّتْ لَا يَذُمُّ مِنْهَا شَيْئًا غَيْرَ أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ يَذُمُّ ذَوَّاقًا وَلَا يَمْدَحُهُ، وَلَا تُغْضِبُهُ الدُّنْيَا، وَلَا مَا كَانَ لَهَا، فَإِذَا تُعُدِّيَ الْحَقُّ لَمْ يَقُمْ لِغَضَبِهِ شَيْءٌ حَتَّى يَنْتَصِرَ لَهُ، وَلَا يَغْضَبُ لِنَفْسِهِ، وَلَا يَنْتَصِرُ لَهَا، إِذَا أَشَارَ أَشَارَ بِكَفِّهِ كُلِّهَا، وَإِذَا تَعَجَّبَ قَلَبَهَا، وَإِذَا تَحَدَّثَ اتَّصَلَ بِهَا، وَضَرَبَ بِرَاحَتِهِ الْيُمْنَى بَطْنَ إِبْهَامِهِ الْيُسْرَى، وَإِذَا غَضِبَ أَعْرَضَ وَأَشَاحَ، وَإِذَا فَرِحَ غَضَّ طَرْفَهُ، جُلُّ ضَحِكِهِ التَّبَسُّمُ، يَفْتَرُّ عَنْ مِثْلِ حَبِّ الْغَمَامِ))

حضرت امام حسنؓ فرمائی چی ما خپل ماما ہند ابن ابی هاله ته چی د حضور ﷺ صفات به ئی ډیر بیانول عرض وکړو چی د حضور ﷺ د خبرو به څه کیفیت وو ماته ئی بیان کړئ دوی وفرمائیل: چی حضور ﷺ به د (آخرت) په غم کښ ہمیشه مشغوله وو (د الله په ذات او صفاتو یا د امت د کامیابئ دپاره) به هر وخت په سوچ کښ وو ددی کارونو د وجے نه به حضور ﷺ ته څه وخت هم ارام نه وو یا دا چی د دنیا په کارونو به حضور ﷺ ته ارام نه میلاویدو (بلکه په دینی کارونو باندی) به حضور ﷺ ته راحت میلاویدو (لکه چی په حدیث کښ دی چی زما د سترگو یخ والے په مانځه کښ دے) اکثر وختونو کښ به حضور ﷺ خاموشه وو بغیر ضرورت به ئی خبری نه کولے، ددوی ﷺ خبری به د ابتداء نه تر انتهاء پورے په ډکه خله باندی وی داسی نه چی د ژبی په سر باندی څو ټکی نیمه خبره ووئی او نیمه خبره د اوریدونکی په ذهن کښ پریگدی لکه چی ددی زمانے د تکبر والو خلقو رواج دے، په جامع الفاظو سره به ئی خبری کولی (چی الفاظ کم وی او معانی ډیری وی) ملاعلی قاریؒ په خپله شرح کښ داسی څلویښت حدیثونه ذکر کړی دی چی ډیر مختصر دی، ددی ﷺ خبری په د یو بل نه جدا جدا وی نه به پکښ فضولیات وو او کمئ چی مطلب ئی پوره واضح نه وی ،دوی نه سخت مزاجه وو او نه به ئی څوک ذلیله کوو ،د الله نعمت اگر که ډیر هم کم وو هغه به ئی ډیر غټ گڼړو او مذمت به ئی نه کوو، د خوراک د څیزونو به ئی نه مذمت کوو او نه ډیر تعریف (مذمت نه کول خو ظاهر دی چی د الله تعالیٰ نعمت دے او ډیر تعریف نه کول ددی وجے نه وو چی ددی نه د حرص شبه پیدا کیږی البته د رغبت د اظهار یا د چا د زړه خوشحالئ د پاره ئی کله کله د خاص خاص څیزونو تعریف کړے دے) په دنیا او دنیاوی کارونو به حضور ﷺ له چرته غصه نه ورتله، څکه چی د حضور ﷺ سره به ددی پرواه هم نه وه، (دی وجے نه په دنیاوی نقصان ورله چرته غصه نه ورتله) البته که د څه دینی کار یا د یوی حقی خبری نه به یو کس خپه اړوله نو په دغه وخت به د حضور ﷺ د غصے طاقت د چا هم نه وو ،او چا به منع کولے هم نه شوه تردے چی حضور ﷺ به بدله نه وه اغستی، دخپل

ذات دپاره به نه د چا نه خفه کیدو او نه به ئی بدله اغیسته،چی د څه دپاره به ئی اشاره کوله نو په پوره لاس باندی به ئی اشاره کوله او بعضے عالمان فرمائی چی د حضورﷺ عادت مبارک په گوته باندی د توحید طرفته د اشارے کولو وو دی وجے نه به ئی په گوته باندی بل چاته اشاره نه کوله چی کله به ئی په یوه خبره باندی تعجب کوو نو لاس به ئی الټه کړو او کله چی به ئی خبری کولی نو کله کله به ئی لاسونو له حرکت ورکوو، او کله به ئی ښے ورغوے د گس لاس غټې گوتی دننے حصے له راپریخودو ،او چی کله به د چا نه ناراضه شو نو د هغه نه به ئی مخ واړوو او بیا به ئی ورته توجه نه کوله یا به ئی معاف کړو ا،او کله چه به خوشحاله شو نو دحیا د وجے به ئی گویا چی سترگی پټې کړی ،د حضورﷺ اکثره خندا تبسم وو په دغه وخت به د حضورﷺ غاښونه مبارک د ږلئ پشان سپین چمکدار ښکاره کیدل۔صلی الله علیه و اله بحسب جماله وکماله۔

فائده:دا حدیث د هغې حدیث ما بقیه دےکوم چی د ټولو په اول باب کښ په اووم نمبر تیر شوے دے،ددی هره هره ټکړه ډیره په غور سره د لوستلو او په خپل زان کښ د پیدا کولو د کوشش قابل دی چی هره ادا ئی د تواضع او اخلاق کمال درجه ده۔

باب ما جاء فی ضحک رسول اللهﷺ

د حضورﷺ د خندا بیان

فائده:په دی باب کښ نهه حدیثونه ذکر دی۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ الْعَوَّامِ ، أَخْبَرَنَا الْحَجَّاجُ وَهُوَ ابْنُ أَرْطَاةَ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: " كَانَ فِي سَاقَيْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُمُوشَةٌ، وَكَانَ لَا يَضْحَكُ إِلَّا تَبَسُّمًا، فَكُنْتُ إِذَا نَظَرْتُ إِلَيْهِ قُلْتُ: أَكْحَلُ الْعَيْنَيْنِ وَلَيْسَ بِأَكْحَلَ"

حضرت جابرؓ فرمائی چی د حضورﷺ پنډئ مبارکی څه قدرے باریکی وی او ددوﷺ خندا بس تبسم وو ما چی به کله د حضورﷺ زیارت کوو نو په زړه کښ به م راتلل چی حضورﷺ رانجه لگولی دی حالانکه دغه وخت به ئی رانجه نه وو لگولی۔

فائده:بلکه طبعًا د حضورﷺ سترگی مبارکی رنجو واله وی۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ ، أَنْبَأَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُغِيرَةِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ، أَنَّهُ قَالَ: ((مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَكْثَرَ تَبَسُّمًا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ))

عبد الله ابن حارثؓ فرمائی چی ما د حضورﷺنه ډیر تبسم واله ندے لیدلے۔

فائده:په دی حدیث کښ دا اشکال دے چی مخکښ باب اخیر حدیث کښ تیر شو چی حضورﷺ په همشه په فکر او غم کښ وو دا په ظاهره دهغے منافی دے۔

دے وچے نه ددی حدیث دوه توجیه بیانولے شی :یوه دا چی د حضورﷺ تبسم به د حضورﷺ د خندا نه ډیر وو داسی مِ بل ځوک ندی لیدلی چی د هغه تبسم د خندا نه زیات وی،لکه چی آئنده حدیث چی ددی صحابیؓ نه روایت دے په دے کښ دغه مطلب متعین دے۔

بله توجیه دا ده چی حضورﷺ به باوجود د غمونو نه د صحابهؓ د زړه خوشحالولو دپاره په رونړ تندی او تبسم سره میلاویدو او دا د اخلاقو او تواضع کامله درجه ده، ددی باب په ٥،٦،باندی حضرت جریرؓ فرمائی چی کله به هم حضورﷺ زه لیدلم نو تبسم به ئی فرمایو یعنی په رونړ تندی او خوشحالئ سره به میلاویدو، وس د اول حدیث سره څه تعارض نشته،اکثر داسی وی چی سړے په غم فکر کښ وی خو د نورو د خوشحالولو دپاره یا د ضرورت د وچے نه په رونړ تندی باندی د میلاویدو موقع رازی،کوم کسانو چی د عشق داغونو ځکلی وی د هغوی ددی ډیره تجربه وی۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ خَالِدٍ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ إِسْحَاقَ السَّيْلَحَانِيُّ: حَدَّثَنَا لَيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ: ((مَا كَانَ ضَحِكُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا تَبَسُّمًا))قَالَ أَبُو عِيسَى: ((هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ لَيْثِ بْنِ سَعْدٍ))

عبد الله ابن حارثؓ فرمائی چی د حضورﷺ خندا به د تبسم نه ډیره نه وه۔

فائده: یعنی اکثر وختونو کښ به تبسم وو د خندا موقع به ډیره کمه راتله۔

حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ،أَنْبَأَنَا وَكِيعٌ،: حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنِ الْمَعْرُورِ بْنِ سُوَيْدٍ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنِّي لَأَعْلَمُ أَوَّلَ رَجُلٍ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ وَآخِرَ رَجُلٍ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ، يُؤْتَى بِالرَّجُلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُقَالُ: اعْرِضُوا عَلَيْهِ صِغَارَ ذُنُوبِهِ وَيُخَبَّأُ عَنْهُ كِبَارُهَا، فَيُقَالُ لَهُ: عَمِلْتَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا، وَهُوَ مُقِرٌّ لَا يُنْكِرُ، وَهُوَ مُشْفِقٌ مِنْ كِبَارِهَا فَيُقَالُ: أَعْطُوهُ مَكَانَ كُلِّ سَيِّئَةٍ عَمِلَهَا حَسَنَةً، فَيَقُولُ: إِنَّ لِي ذُنُوبًا مَا أَرَاهَا هَهُنَا " قَالَ أَبُو ذَرٍّ: فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ

حضرت ابو ذرؓ فرمائی چی حضورﷺ ارشاد وفرمایه چه زه هغه سړے ډیرخه پیژنم چی کوم به د ټولو نه اول جنت ته ځی او د هغه نه هم خبر یم چی د ټولو نه آخر به د جهنم نه راوزی،د قیات په ورځ به یو کس د الله په دربار کښ حاضر کړے شی دده دپاره به دا حکم وشی چی دده واړه ګناهونه دده ومخی ته کړئ او غت ګناهونه ئی پټ کړئ،چی کله دته واړه ګناهونه وړاندی کړے شی چی تا فلانے کار په فلانئ ورځ باندی کړے وو نو دے به اقرار وکړی چی د انکار ګنجائش به نه وی،نو دے به په زړه کښ ورېری چی دا خو لا صغیره دی د کبیره به لا څه کیږی دغه وخت به حکم وشی چی دده د ہر ګناه په بدله کښ ده له یوه یوه نیکی ورکړئ نو دا کس به ددی حکم په اوریدو سره ووایی چی زما خو نور ډیر ناهونه دی هغه خو دلته نشته،ابوذرؓ فرمائی چی حضورﷺ دده دا قول نقل کړو نو دومره ئی وخاندل چی غاښونه مبارک ئی ښکاره شول،او خندا ئی په دی خبری وه چی د کومو ګناهونو د اظهار نه چی یریدو د هغې د اظهار وس پخپله طالب شو۔

فائده: دا کس د کوم قصه چې تیره شوه دا هغه کس دے چې مختصرًا ورته اخرے جنتي ووئیلے شو یا د بل کس دے د حدیث د شارحینو تحقیق دادے چې دا بل کس دے او په جنت کښې آخري داخلیدونکے کس هغه دے چې قصه ئې ددې باب ۷ نمبر باندې رازي۔

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ ،حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو ، حَدَّثَنَا زَائِدَةُ، عَنْ بَيَانٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ: ((مَا حَجَبَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنْذُ أَسْلَمْتُ وَلَا رَآنِي إِلَّا ضَحِكَ))
حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو ، حَدَّثَنَا زَائِدَةُ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ قَيْسٍ، عَنْ جَرِيرٍ قَالَ: ((مَا حَجَبَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا رَآنِي مُنْذُ أَسْلَمْتُ إِلَّا تَبَسَّمَ))

جریر ابن عبد اللهؓ فرمائي چې حضورﷺ زما د اسلام نه وروستو چرته د خپلې حاضرۍ نه نه یم منع کړے او چې به ئې ماتې کتل نو وبه ئې خندل او بل رایت کښې دي چې تبسم به ئې کوو(مسکے کیدو به)۔

فائده: دا بل روایت ئې دی دپاره ذکر کړو چې معلومه شي چې د اول روایت د خندا نه تبسم مراد وو او دا تبسم به د خوشحالۍ د اظهار دپاره وو،ځکه چې په رونړ تندی باندې میلاویدل د بل دپاره د فراخۍ سبب وی، ما خپل بعضے مشران لیدلي چې کله کله به د راتلونکو سره په داسې خنده پیشانۍ سره میلاویدل چې د هغې نه به راتلونکو دا محسوسوله چې زمونږ په راتلو باندې ډیره خوشحالي ده۔

حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبِيدَةَ السَّلْمَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنِّي لَأَعْرِفُ آخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا، رَجُلٌ يَخْرُجُ مِنْهَا زَحْفًا، فَيُقَالُ لَهُ: انْطَلِقْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ " قَالَ: " فَيَذْهَبُ لِيَدْخُلَ الْجَنَّةَ، فَيَجِدُ النَّاسَ قَدْ أَخَذُوا الْمَنَازِلَ، فَيَرْجِعُ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ، قَدْ أَخَذَ النَّاسُ الْمَنَازِلَ، فَيُقَالُ لَهُ: أَتَذْكُرُ الزَّمَانَ الَّذِي كُنْتَ فِيهِ، فَيَقُولُ: نَعَمْ " قَالَ: " فَيُقَالُ لَهُ: تَمَنَّ " قَالَ: " فَيَتَمَنَّى، فَيُقَالُ لَهُ: فَإِنَّ لَكَ الَّذِي تَمَنَّيْتَ وَعَشَرَةَ أَضْعَافِ الدُّنْيَا " قَالَ: " فَيَقُولُ: تَسْخَرُ بِي وَأَنْتَ الْمَلِكُ " قَالَ: فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ

عبد الله ابن مسعودؓ فرمائي چې حضورﷺ وفرمائیل زه هغه کد پیژنم چې د ټولو نه په اخر کښې به د اوور نه راوزي،دا به یو داسې سړے وی چې په زمکه خویدلو باندې به د دوزخ نه راوزي چې د دوزخ د عذاب د وجے نه به په سیدها تلو باندې قادره نه وی ،ده ته به حکم وشي چې لاړ شه جنت ته داخل شه،هغه به هلته لاړ شي گوری به چې خلقو خو ټول ځایونه نیولي دی، ټول ځایونه ډک دی دے به واپس شي او د الله په دربار کښې به عرض وکړی،هلته نه به ارشاد وشي(آیا د دنیا د کورونو حال دی یاد دے چې کله به ځائے ډک شو او د نورو گنجائش به نه وو او اول راتلونکي چې په څومره باندې قبضه کوی نو کوی دی او د روستو راتلونکو د پاره دِ ځائے نه پریږدی) ددی عبارت مشرانو داسې ترجمه کړې ده(مگر د بنده حضرت شیخؒ) په نزد باندې که دا مطلب واغستے شي نو ډیر خه معلومیږی(چې آیا د دنیا فراخي درته یاده نده چې څومره لویه دنیا وه) او دا ئې ورته ځکه وفرمائیل چې آئنده د ټولي دنیا په لس چنده ورکړے اعلان کیدو واله دے نو د ټولي دنیا یوه پیره تصور کولو نه بعد ددی ورکړې د زیاتي اندازه وی، دے به عرض وکړی اے

زما ربه خه مِ یاد دی په دی باندی به ارشاد وشی چی خه څه وغواړه دے به خپلی تمنا گانی د هرقسم نه بیان کړی ارشاد به وشی چی خه تاله به ستا تمنا گانی او خوښشات هم درکړو او د ټولی دنیا په لس چنده جنت هم، دے به عرض وکړی اے الله ته خو د بادشاهانو بادشاه ئی او زما سره ټوقی کوی(چی هلت خالی ځائے نشته او ته تاسو ماله ددنیا په لس برخے راکوے) ابن مسعودؓ فرمائی چی حضورﷺ کله ددی کس دا قول بیانوو نو دومره خندا پری راغله چی نواجذ ئی ښکاره شول۔

فائده: د حضورﷺ دا خندا خو یا د الله تعالیٰ په اکرام او انعام باندی د خوشحالئ اظهار دے،ځکه چی د جهنم نه د ټولو نه بعد راوتلو نو ددی نه دده ډیر گناه گار کیدل بدیهی دی نو دده دومره انعامات دی نو نور عام مسلمانون باندی او بالخصوص په متقیانو باندی به لا څومره د رحم باران وی، او به امت باندی چی څومره اکرام وی د حضورﷺ د خوشحالئ سبب دے ، او دا هم ممکن دی د حضورﷺ خندا ددی وجے وی چی دومره عذابونه او سختئ ئی تیرے کړی او بیا هم دومره جری(زړه ور دے) چی الله تعالیٰ ته وائی چی ته زما سره ټوقی کوی۔

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، أَنْبَأَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ رَبِيعَةَ قَالَ: شَهِدْتُ عَلِيًّا، أُتِيَ بِدَابَّةٍ لِيَرْكَبَهَا فَلَمَّا وَضَعَ رِجْلَهُ فِي الرِّكَابِ قَالَ: بِسْمِ اللَّهِ، فَلَمَّا اسْتَوَى عَلَى ظَهْرِهَا قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ، ثُمَّ قَالَ: ﴿سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ﴾ [الزخرف:] ﴿وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ﴾ [الزخرف:] . ثُمَّ قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ ثَلَاثًا، وَاللَّهُ أَكْبَرُ ثَلَاثًا، سُبْحَانَكَ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي، فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ، ثُمَّ ضَحِكَ. فَقُلْتُ لَهُ: مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكْتَ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ؟ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَنَعَ كَمَا صَنَعْتُ ثُمَّ ضَحِكَ فَقُلْتُ: مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكْتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "إِنَّ رَبَّكَ لَيَعْجَبُ مِنْ عَبْدِهِ إِذَا قَالَ: رَبِّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي إِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ أَحَدٌ غَيْرُهُ"

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، أَنْبَأَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَوْنٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ: قَالَ سَعْدٌ: لَقَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ. قَالَ: قُلْتُ: كَيْفَ كَانَ؟ قَالَ: كَانَ رَجُلٌ مَعَهُ تُرْسٌ، وَكَانَ سَعْدٌ رَامِيًا، وَكَانَ يَقُولُ كَذَا وَكَذَا بِالتُّرْسِ يُغَطِّي جَبْهَتَهُ، فَنَزَعَ لَهُ سَعْدٌ بِسَهْمٍ، فَلَمَّا رَفَعَ رَأْسَهُ رَمَاهُ فَلَمْ يُخْطِئْ هَذِهِ مِنْهُ - يَعْنِي جَبْهَتَهُ - وَانْقَلَبَ الرَّجُلُ، وَشَالَ بِرِجْلِهِ: ((فَضَحِكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ)) . قَالَ: قُلْتُ: مِنْ أَيِّ شَيْءٍ ضَحِكَ؟ قَالَ: مِنْ فِعْلِهِ بِالرَّجُلِ

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، أَنْبَأَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ: ((يَا ذَا الْأُذُنَيْنِ)) قَالَ مَحْمُودٌ: قَالَ أَبُو أُسَامَةَ: ((يَعْنِي يُمَازِحُهُ))

حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي التَّيَّاحِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: إِنْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُخَالِطُنَا حَتَّى يَقُولَ لِأَخٍ لِي صَغِيرٍ: ((يَا أَبَا عُمَيْرٍ، مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ؟))قَالَ أَبُو عِيسَى: " وَفِقْهُ هَذَا الْحَدِيثِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُمَازِحُ وَفِيهِ أَنَّهُ كَنَّى غُلَامًا صَغِيرًا فَقَالَ لَهُ: يَا أَبَا عُمَيْرٍ. وَفِيهِ أَنَّهُ لَا بَأْسَ أَنْ يُعْطَى الصَّبِيُّ الطَّيْرَ لِيَلْعَبَ بِهِ. وَإِنَّمَا قَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((يَا أَبَا عُمَيْرٍ، مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ؟))لِأَنَّهُ كَانَ لَهُ نُغَيْرٌ يَلْعَبُ بِهِ فَمَاتَ، فَحَزِنَ الْغُلَامُ عَلَيْهِ فَمَازَحَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((يَا أَبَا عُمَيْرٍ، مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ؟))

حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ قَالَ: أَنَا حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحَسَنِ بْنِ شَقِيقٍ قَالَ: أَنبأَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارِكِ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّكَ تُدَاعِبُنَا قَالَ: ((إِنِّي لَا أَقُولُ إِلَّا حَقًّا))تَدَاعِبُنَا يَعْنِي تُمَازِحُنَا

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَجُلًا اسْتَحْمَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: ((إِنِّي حَامِلُكَ عَلَى وَلَدِ نَاقَةٍ)) فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا أَصْنَعُ بِوَلَدِ النَّاقَةِ؟ فَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((وَهَلْ تَلِدُ الْإِبِلَ إِلَّا النُّوقُ))

حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ كَانَ اسْمُهُ زَاهِرًا وَكَانَ يُهْدِي إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَدِيَّةً مِنَ الْبَادِيَةِ، فَيُجَهِّزُهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((إِنَّ زَاهِرًا بَادِيَتُنَا وَنَحْنُ حَاضِرُوهُ))وَكَانَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّهُ وَكَانَ رَجُلًا دَمِيمًا فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا وَهُوَ يَبِيعُ مَتَاعَهُ فَاحْتَضَنَهُ مِنْ خَلْفِهِ وَهُوَ لَا يُبْصِرُهُ، فَقَالَ: مَنْ هَذَا؟ أَرْسِلْنِي. فَالْتَفَتَ فَعَرَفَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ لَا يَأْلُو مَا أَلْصَقَ ظَهْرَهُ بِصَ/دْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ عَرَفَهُ، فَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ((مَنْ يَشْتَرِي هَذَا الْعَبْدَ)*-)فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِذًا وَاللَّهِ تَجِدُنِي كَاسِدًا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((لَكِنْ عِنْدَ اللَّهِ لَسْتَ بِكَاسِدٍ)) أَوْ قَالَ: ((أَنْتَ عِنْدَ اللَّهِ غَالٍ))

حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا مُصْعَبُ بْنُ الْمِقْدَامِ، حَدَّثَنَا الْمُبَارِكُ بْنُ فَضَالَةَ، عَنِ الْحَسَنِ قَالَ: أَتَتْ عَجُوزٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، ادْعُ اللَّهَ أَنْ يُدْخِلَنِي الْجَنَّةَ، فَقَالَ: ((يَا أُمَّ فُلَانٍ، إِنَّ الْجَنَّةَ لَا تَدْخُلُهَا عَجُوزٌ))قَالَ: فَوَلَّتْ تَبْكِي فَقَالَ: ((أَخْبِرُوهَا أَنَّهَا لَا تَدْخُلُهَا وَهِيَ عَجُوزٌ))إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَقُولُ: ﴿إِنَّا أَنْشَأْنَاهُنَّ إِنْشَاءً فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا عُرُبًا أَتْرَابًا﴾ [الواقعة: ٣٥-٣٧]

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ شُرَيْحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قِيلَ لَهَا: هَلْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَمَثَّلُ بِشَيْءٍ مِنَ الشِّعْرِ؟ قَالَتْ: كَانَ يَتَمَثَّلُ بِشِعْرِ ابْنِ رَوَاحَةَ، وَيَتَمَثَّلُ بِقَوْلِهِ: ((وَيَأْتِيكَ بِالْأَخْبَارِ مَنْ لَمْ تُزَوِّدِ))

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ ،حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ أَصْدَقَ كَلِمَةٍ قَالَهَا الشَّاعِرُ كَلِمَةُ لَبِيدٍ: أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللَّهَ بَاطِلٌ،وَكَادَ أُمَيَّةُ بْنُ أَبِي الصَّلْتِ أَنْ يُسْلِمَ"

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى ،حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ جُنْدُبِ بْنِ سُفْيَانَ الْبَجَلِيِّ قَالَ: أَصَابَ حَجَرٌ أُصْبُعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَمِيَتْ، فَقَالَ: ((هَلْ أَنْتِ إِلَّا أُصْبُعٌ دَمِيتِ، وَفِي*/ سَبِيلِ اللَّهِ مَا لَقِيتِ))

حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ ،حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ جُنْدُبِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْبَجَلِيِّ، نَحْوَهُ

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ ،حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ قَالَ: أَنْبَأَنَا أَبُو إِسْحَاقَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ ق+الَ: قَالَ لَهُ رَجُلٌ: أَفَرَرْتُمْ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا عُمَارَةَ؟ فَقَالَ: لَا وَاللَّهِ مَا وَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَكِنْ وَلَّى سَرَعَانُ النَّاسِ تَلَقَّتْهُمْ هَوَازِنُ بِالنَّبْلِ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى بَغْلَتِهِ، وَأَبُو سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ آخِذٌ بِلِجَامِهَا، وَرَسُولُ اللَّهِ يَقُولُ: ((أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ، أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ))

حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ،حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ ،أَنْبَأَنَا ثَابِتٌ، عَنْ أَنَسٍ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ مَكَّةَ فِي عُمْرَةِ الْقَضَاءِ، وَابْنُ رَوَاحَةَ يَمْشِي بَيْنَ يَدَيْهِ، وَهُوَ يَقُولُ: خَلُّوا بَنِي الْكُفَّارِ عَنْ سَبِيلِهْ ... الْيَوْمَ نَضْرِبُكُمْ عَلَى تَنْزِيلِهْ ضَرْبًا يُزِيلُ الْهَامَ عَنْ مَقِيلِهْ ... وَيُذْهِلُ الْخَلِيلَ عَنْ خَلِيلِهْ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: يَا ابْنَ رَوَاحَةَ، بَيْنَ يَدِي رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي حَرَمِ اللَّهِ تَقُولُ الشِّعْرَ، فَقَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((خَلِّ عَنْهُ يَا عُمَرُ، فَلَهِيَ أَسْرَعُ فِيهِمْ مِنْ نَضْحِ النَّبْلِ))

*حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ ،أَنْبَأَنَا شَرِيكٌ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ: ((جَالَسْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْثَرَ مِنْ مِائَةِ مَرَّةٍ وَكَانَ أَصْحَابُهُ يَتَنَاشَدُونَ الشِّعْرَ وَيَتَذَاكَرُونَ أَشْيَاءَ مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ وَهُوَ سَاكِتٌ وَرُبَّمَا تَبَسَّمَ مَعَهُمْ))

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَنْبَأَنَا شَرِيكٌ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "أَشْعَرُ كَلِمَةٍ تَكَلَّمَتْ بِهَا الْعَرَبُ كَلِمَةُ لَبِيدٍ:أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللَّهَ بَاطِلٌ"

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الطَّائِفِيِّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيدِ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: كُنْتُ رِدْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنْشَدْتُهُ مِائَةَ قَافِيَةٍ مِنْ قَوْلِ أُمَيَّةَ بْنِ أَبِي الصَّلْتِ الثَّقَفِيِّ، كُلَّمَا أَنْشَدْتُهُ بَيْتًا قَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((هِيهْ)) حَتَّى أَنْشَدْتُهُ مِائَةً - يَعْنِي بَيْتًا - فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((إِنْ كَادَ لَيُسْلِمُ))

حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ مُوسَى الْفَزَارِيُّ، وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، وَالْمَعْنَى وَاحِدٌ، قَالاَ: أَنْبَأَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضَعُ لِحَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ مِنْبَرًا فِي الْمَسْجِدِ يَقُومُ عَلَيْهِ قَائِمًا يُفَاخِرُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَوْ قَالَ: يُنَافِحُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَيَقُولُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((إِنَّ اللَّهَ يُؤَيِّدُ حَسَّانَ بِرُوحِ الْقُدُسِ مَا يُنَافِحُ أَوْ يُفَاخِرُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ))

حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ مُوسَى، وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، قَالاَ: حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ

حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ صَبَّاحٍ الْبَزَّارُ، حَدَّثَنَا أَبُو النَّضْرِ، حَدَّثَنَا أَبُو عَقِيلٍ الثَّقَفِيُّ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَقِيلٍ، عَنْ مُجَالِدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: حَدَّثَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ نِسَاءَهُ حَدِيثًا، فَقَالَتِ امْرَأَةٌ مِنْهُنَّ: كَأَنَّ الْحَدِيثَ حَدِيثُ خُرَافَةَ فَقَالَ: " أَتَدْرُونَ مَا خُرَافَةُ؟ إِنَّ خُرَافَةَ كَانَ رَجُلًا مِنْ عُذْرَةَ، أَسَرَتْهُ الْجِنُّ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَمَكَثَ فِيهِمْ دَهْرًا، ثُمَّ رَدُّوهُ إِلَى الإِنْسِ فَكَانَ يُحَدِّثُ النَّاسَ بِمَا رَأَى فِيهِمْ مِنَ الأَعَاجِيبِ، فَقَالَ النَّاسُ: حَدِيثُ خُرَافَةَ"

حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ السَّعْدِيُّ وَأَحْمَدُ بْنُ جَنَابٍ كِلَاهُمَا عَنْ عِيسَى وَاللَّفْظُ لِابْنِ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ أَخِيهِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: جَلَسَ إِحْدَى عَشْرَةَ امْرَأَةً فَتَعَاهَدْنَ وَتَعَاقَدْنَ أَنْ لَا يَكْتُمْنَ مِنْ أَخْبَارِ أَزْوَاجِهِنَّ شَيْئًا: فَقَالَتِ الْأُولَى: زَوْجِي لَحْمُ جَمَلٍ غَثٍّ عَلَى رَأْسِ جَبَلٍ وَعْرٍ، لَا سَهْلٌ فَيُرْتَقَى، وَلَا سَمِينٌ فَيُنْتَقَلُ. قَالَتِ الثَّانِيَةُ: زَوْجِي لَا أَبُثُّ خَبَرَهُ، إِنِّي أَخَافُ أَنْ لَا أَذَرَهُ، إِنْ أَذْكُرْهُ أَذْكُرْ عُجَرَهُ وَبُجَرَهُ. قَالَتِ الثَّالِثَةُ: زَوْجِي الْعَشَنَّقُ، إِنْ أَنْطِقْ أُطَلَّقْ، وَإِنْ أَسْكُتْ أُعَلَّقْ. قَالَتِ الرَّابِعَةُ: زَوْجِي كَلَيْلِ تِهَامَةَ، لَا حَرٌّ وَلَا قُرٌّ، وَلَا مَخَافَةَ وَلَا سَآمَةَ. قَالَتِ الْخَامِسَةُ: زَوْجِي إِنْ دَخَلَ فَهِدَ، وَإِنْ خَرَجَ أَسِدَ، وَلَا يَسْأَلُ عَمَّا عَهِدَ. قَالَتِ السَّادِسَةُ: زَوْجِي إِنْ أَكَلَ لَفَّ، وَإِنْ شَرِبَ اشْتَفَّ، وَإِنِ اضْطَجَعَ الْتَفَّ، وَلَا يُولِجُ الْكَفَّ لِيَعْلَمَ الْبَثَّ. قَالَتِ السَّابِعَةُ: زَوْجِي عَيَايَاءُ أَوْ غَيَايَاءُ طَبَاقَاءُ كُلُّ دَاءٍ لَهُ دَاءٌ، شَجَّكِ أَوْ فَلَّكِ أَوْ جَمَعَ كُلًّا لَكِ. قَالَتِ الثَّامِنَةُ: زَوْجِي الْمَسُّ مَسُّ أَرْنَبٍ وَالرِّيحُ رِيحُ زَرْنَبٍ. قَالَتِ التَّاسِعَةُ: زَوْجِي رَفِيعُ الْعِمَادِ طَوِيلُ النِّجَادِ عَظِيمُ الرَّمَادِ قَرِيبُ الْبَيْتِ مِنَ النَّادِ. قَالَتِ الْعَاشِرَةُ: زَوْجِي مَالِكٌ وَمَا مَالِكٌ مَالِكٌ خَيْرٌ مِنْ ذَلِكِ، لَهُ إِبِلٌ كَثِيرَاتُ الْمَبَارِكِ، قَلِيلَاتُ الْمَسَارِحِ، إِذَا سَمِعْنَ صَوْتَ الْمِزْهَرِ أَيْقَنَّ أَنَّهُنَّ هَوَالِكُ. قَالَتِ الْحَادِيَةَ عَشْرَةَ: زَوْجِي أَبُو زَرْعٍ وَمَا أَبُو

زَرْعٍ؟ أَنَاسَ مِنْ حُلِيٍّ أُذُنَيَّ، وَمَلأَ مِنْ شَحْمٍ عَضُدَيَّ، وَبَجَّحَنِي فَبَجَحَتْ إِلَيَّ نَفْسِي، وَجَدَنِي فِي أَهْلِ غُنَيْمَةٍ بِشِقٍّ فَجَعَلَنِي فِي أَهْلِ صَهِيلٍ وَأَطِيطٍ وَدَائِسٍ وَمُنَقٍّ، فَعِنْدَهُ أَقُولُ فَلاَ أُقَبَّحُ، وَأَرْقُدُ فَأَتَصَبَّحُ وَأَشْرَبُ فَأَتَقَمَّحُ، أُمُّ أَبِي زَرْعٍ فَمَا أُمُّ أَبِي زَرْعٍ، عُكُومُهَا رَدَاحٌ، وَبَيْتُهَا فَسَاحٌ، ابْنُ أَبِي زَرْعٍ، فَمَا ابْنُ أَبِي زَرْعٍ، مَضْجَعُهُ كَمَسَلِّ شَطْبَةٍ، وَتُشْبِعُهُ ذِرَاعُ الْجَفْرَةِ، بِنْتُ أَبِي زَرْعٍ، فَمَا بِنْتُ أَبِي زَرْعٍ، طَوْعُ أَبِيهَا وَطَوْعُ أُمِّهَا، مِلْءُ كِسَائِهَا، وَغَيْظُ جَارَتِهَا، جَارِيَةُ أَبِي زَرْعٍ، فَمَا جَارِيَةُ أَبِي زَرْعٍ، لاَ تَبُثُّ حَدِيثَنَا تَبْثِيثًا، وَلاَ تُنَقِّثُ مِيرَتَنَا تَنْقِيثًا، وَلاَ تَمْلأُ بَيْتَنَا تَعْشِيشًا، قَالَتْ: خَرَجَ أَبُو زَرْعٍ وَالأَوْطَابُ تُمْخَضُ، فَلَقِيَ امْرَأَةً مَعَهَا وَلَدَانِ لَهَا كَالْفَهْدَيْنِ، يَلْعَبَانِ مِنْ تَحْتِ خَصْرِهَا بِرُمَّانَتَيْنِ، فَطَلَّقَنِي وَنَكَحَهَا، فَنَكَحْتُ بَعْدَهُ رَجُلاً سَرِيًّا، رَكِبَ شَرِيًّا، وَأَخَذَ خَطِّيًّا، وَأَرَاحَ عَلَيَّ نَعَمًا ثَرِيًّا، وَأَعْطَانِي مِنْ كُلِّ رَائِحَةٍ زَوْجًا، وَقَالَ: كُلِي أُمَّ زَرْعٍ، وَمِيرِي أَهْلَكِ، فَلَوْ جَمَعْتُ كُلَّ شَيْءٍ أَعْطَانِيهِ، مَا بَلَغَ أَصْغَرَ آنِيَةِ أَبِي زَرْعٍ. قَالَتْ عَائِشَةُ: فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((كُنْتُ لَكِ كَأَبِي زَرْعٍ لأُمِّ زَرْعٍ))

250 حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، أَنْبَأَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، أَنْبَأَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَخَذَ مَضْجَعَهُ وَضَعَ كَفَّهُ الْيُمْنَى تَحْتَ خَدِّهِ الأَيْمَنِ، وَقَالَ: ((رَبِّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ))

بسم الله الرحمن الرحيم . من محمد رسول الله إلى النجاشی ملك الحبشة ، سلّم أنت فإنی أحمد إلیك الله الذی لا إله إلا هو الملك القدوس السلام المؤمن المهیمن ، وأشهد أن عیسی بن مریم علیه

روح الله وكلمته ألقاها إلى مريم البتول الطيبة الحصينة فحملت به فخلقه من روحه ونفخه كما خلق آدم بيده ، وإنی أدعوك إلى الله وحده لا شريك له والموالاة على طاعته وإن تتبعني وتؤمن بالذی جاءنی فإنی رسول اللهِ وإنی أدعوك وجنودك إلى الله عزوجل وقد بلغت ونصحت فأقبلوا نصيحتی . والسلام على الهدی .

الله الرحمن الرحيم . من بسم رسول الله إلى كسرى عظيم فارس . سلام على من اتبع الهدى وآمن بالله ورسوله ، وشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأن محمدا عبده ورسوله ، أدعوك بدعاية الله ، فإنی أنا رسول الله إلى الناس كافة لينذر من كان حياً ويحق القول على الكافرين ، أسلم تسلم ، فإن توليت فإن عليك إثم المجوس . (زرقانی) محمد